# جنګ او فرهنګ

## په افغانستان کي

(د پوهنیزو، ادبي او څېړنیزو لیکنو ټولګه)



Ketabton.com

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنگ او فرهنگ

# په افغانستان کې

**(د پوهنیزو، ادبي او څېړنیزو لیکنو ټولګه)**

**محمد اسمعیل یون**

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: جنګ او فرهنګ په افغانستان کې

لیکــوال: محمد اسمعیل یون

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېــبپـانـه: www.melitahrik.com

کمپوز: ضیاء ساپی

پښتۍ ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۹۷)

لیکوال د خپرونو لړ: (۴۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله
د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

لیکنه مخ


- په تحمیلي جنګ کې راټوکېدلی فرهنګ.............................۱
- بیا هم په جنګ او فرهنګ کې.......................................۷
- یو مثبت فرهنګي بدلون او اوښتون هڅه ..............................۹
- پښتو رسنیو ته څو د زړه خبرې او څو د راز مشورې.............۱۴
- بابي ګله! ستا دلیدو په هیله.............................................۲۱
- په ((ځانګو)) کې کوم فکر زانګي؟....................................۲۳
- پوهاند محمد حسن کاکړ د جګړې پر لومړۍ کرښه!.............۳۰
- د ودان اوښکه..............................................................۳۶
- د (ضمیر) پر مړینه ضمیر لړزېږي......................................۴۲
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې.......................................۴۴
- د خوشـــال پوځي نړۍ لید...............................................۶۳
- ((د بریالیتوب لار)) له کومو پېچومو تېرېږي؟......................۷۸
- پښتو کې دري نوي شعري فورمونه ......................................۸۶
- پښتو اوسنی شعر د حوادثو په مسیر کې.............................۱۱۲
- د یو ښه لیدلوري لپاره یوه ښه هڅه....................................۱۳۸
- د استاد الفت په نثر کې شل فکري لیدلوري.........................۱۴۱
- د نظم رغنده توکونه........................................................۱۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تحمیلي جنګ کې را ټوکېدلی فرهنګ

په افغانستان کې له تېرو څو لسیزو راهیسې په بېلابېلو نومونو جنګ یانې د تمدنونو ټکر (Clash of Civilisation) یا د (باچا خان بابا) په وینا د پردي جنګ تنور تود دی، چې خشاک یې افغانان په تېره بیا پښتانه دي، وینه د افغان تو یږي، پښه د افغان غوڅیږي، کور د افغان ورانیږي، ښوونځی د افغان سوځول کیږي، ډاکټر، انجنیر، ښوونکی، سپین ږیری او ملک د پښتانه وژل کیږي، خو ثمر یې د سیمې او نړۍ زبېښونکي هېوادونه څټي. په جنګ کې ګوزڼ نه وېشل کیږي، جنګ افغانستان ته زیات مادي او معنوي زیانونه اړولي دي، په تېره بیا زموږ فرهنګ یې تر کچې ډېر زیانمن کړی دی، چې بېلګه یې له هېواده د پښتون کدر فرار، پردی فرهنګي یرغل او نور دي، خو ددې ترڅنګ بیا هم ځینې ژمنو پښتنو د جنګ په دغه بټ کې هم خپله فرهنګي او علمي ډیوه بله ساتلې او وخت نا وخت یې نوموتي اثار پنځولي دي، چې په دې جمله کې (جنګ او فرهنګ په افغانستان کې) د درانه استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د بېلابېلو ارزښتمنو لیکنو ټولګه ده، چې دده بېلابېلې لیکنې په کې شاملېږي.

په نوموړې ټولګه کې استاد ډېر ښکلي او په زړه پورې لیکنې، چې ځینې یې د تېرو پنځو کلونو په بهیر کې د علمي کنفرانوسونو لپاره چمتو کړې وې او علمي ارزښت لري، ځای کړي دي، او ځینې نورې یې وخت نا وخت د هېواد په روانو حالاتو د زړه درد او د هغو تداوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه له ټولني سره شريک کړي دي او ځيني نوري يې د هېواد د معتبرو ليکوالو پر اثارو تحليلي ليکني دي، د بېلګې په توګه: (جنګ او فرهنګ په افغانستان کې ) ليکنه، چې په همدې نامه کتاب هم نومول شوی، استاد دغه ليکنه د سارک هېوادونو سکرتريت لپاره ليکلې وه، چې په کې يې د هېواد فرهنګي غنا ته نغوته کړې او هم يې د روان ((پردي جنګ )) له امله زموږ هېواد ته اوښتي فرهنګي زيانونه ارزولي او په نړدې راتلونکي کې يې د شتو فرهنګي اثارو او فرهنګ ته د اوښتونکو زيانونود مخنيوي لارې چارې په ګوته کړي دي. د (د يو مثبت فرهنګي بدلون اوښتون هڅه) ليکنه د هېواد پر نوښتګرو چارو باندې را څرخي، چې څرنګه موږ په ګډه د يون کلتوري يون له لارې د استاد يون (۳۳) بېلابېل اثار په پښتون ځيونکي ارګ کې راټول، ترتيب، کمپوز، ايډيټ او خپاره کړل، چې بېلګه يې تر اوسه په افغانستان کې نه ده ليدل شوې، د دغو کتابونو په پار په کابل سرينا هوټل کې شانداره غونډه جوړه شوې وه، چې بېلابېلو ليکوالو له هماغه ځايه د خپلو اثارو د راټولولو او د چاپ له لارې د خونديتوب فکر واخيست او هوډ يې وکړ چې ورته کار به ترسره کوي، خو ((کار سخت کار دی )) ، له بده مرغه چې تر اوسه پورې يو پوخ ليکوال هم په دې چاره بريالی شوی نه دی.

په تېرو څوارلسو کلونو کې نړيوالو د پيسو د جوال خوله د افغانستان لپاره پرانيستې وه، چې له امله يې زياتې رسنۍ راټوکېدې، خو له بده مرغه زياتې رسنۍ په کې يرغمل شوې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورواکو او بهرنيو له خوا يرغمل شوي رسنۍ اوس د هېواد د ملي ګټو پر ضد خپروني کوي. له ښه مرغه په دې ټيل کې يو شمېر پښتو رسنۍ هم را وټوکېدې، چې په (پښتو رسنيو ته څو د زړه خبرې او څو د راز مشورې) په ليکنه کې د پښتو رسنيو د چارو د لا ښه والي او رسنيز څواک د اغېزمن کارولو لارې چارې په ګوته شوي دي، چې څنګه پښتو رسنۍ په تېره چاپي او برښنايي رسنۍ د بې ځايه تورونو او رسنيزو اخلاقو خلاف چارو پر ځای پر ملي او فرهنګی مسايلو تمرکز وکړي.

په افغانستان کې تل پر يوه غم پسې بل غم وي، يوازينۍ لوبې دي، چې د هېوادوالو په شونډو يې موسکا راوستې چې په دوی کې زموږ د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړي په سرکې راځي، دوی د هېواد بېرغ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ورپاوه. د تنظيمي جګړو پر مهال به موږ په پېښور کې کرکټ لوبې کتلې او کولې، خو په زړه کې مو د خپل هېواد د لوبډلې د لوبې د کتلو غټ ارمان و، چې الحمد الله دادی دا ارمان مو هم پوره شو، موږ به په خپلو ناستو کې ويل چې کله به د افغانستان ملي لوبډله په نړيوالو لوبو کې لوبېږي او موږ به په فخر ورته چکچې وهو او خپل احساسات او ولولې به څرګندوو، له ښه مرغه دا ورځ مو هم وليده، استاد په خپله ليکنه (د ودان اوښکه) کې د کرکټ لوبې لېوالتيا ته او د هېواد د ملي لوبډلې لپاره خپل، د خپلې کورنۍ او کشري زوی (ودان) احساسات انځور کړي، چې نن سبا د هر افغان کورنۍ همدا احساسات دي، (ودان) بختور دی چې وار له مخه په ماشومتوب کې يې د ملي لوبډلې لوبې وليدې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي ټیم د ماتې له امله یې او ښکې د بریا په هیله تویې کړې، کېدی شي راتلونکې کې د هېواد د همدې لوبډلې ستوري شي، زموږ د نسل خو یوازې دا ارمان و، چې خپل بېرغ د نړۍ په میدانونو کې رپانده ووینو، د (ودان) دا هیله چې ملي لوبډله به د نړۍ سترو لوبډلو ته ماتې ورکوي، یوه په بلې پسې رښتیا کېدونکې ده او هغه ورځ لرې نه ده چې زموږ هېواد به د نړۍ په کچه اتل وي.

یو چا رښتیا ویلي دي چې ((پښتانه ښه ژوندي او بد مړي نه لري)) خو دغه خبره بیا د د پوهاند محمد حسن کاکړ په اړه صدق نه کوي، ځکه چې پوهاند صیب او اروا ښاد زرملوال صیب دوه تکړه تاریخ لیکونکي وو، چې تل یې د غرضي او مرضي ستمي تاریخ تحریفوونکو لیکوالو پر وړاندې په زغرده په ثبوتونو او د تاریخ د علم د اصولو په رڼا کې ځوابونه ویلي دي، درانه استاد یون هم د (پوهاند محمد حسن کاکړ د جګړې پر لومړۍ کربښه!) لیکنې تر سرلیک لاندې د پوهاند صیب په اړه خورا کره او پخه لیکنه کړې، چې په کې یې د پوهاند صیب کاکړ پر کړو خدمتونو رڼا اچولې ده.

یون صیب د یو ژمن او وفادار دوست په څېر خپل ملګري په ژوند او مرګ دواړو پاللي دي، چې د ښاغلي عبدالحمید بابي صیب پر مرګ یې هم په (بابي ګله! ستا دلیدو په هیله) لیکنه کې او ښکې تویې کړي. دغه راز یې د (ضمیر پر مړینه ضمیر لړزېږي) سرلیک لاندې د ځوانیمرګ لیکوال (احمد ضمیر علم دوست) پر مړینه او ښکې توی کړي او هغه ته یې د عقیدت پیرزوینې وړاندې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[په ((ځانګو ) ) کې کوم فکر زانګي؟] ليکنه يې د نوموتي ليکوال فاتح الملک ننګ يوسفزي پر يوه کتاب ( ځانګو ) کښلې ده، چې په کې يې د کتاب منځپانګه په ژوره توګه روښانه کړې او د کتاب پر ارزښت او د موضوع پر اهميت رڼا اچولې ده.

زه چې څومره يون صيب پېژنم له خوشال بابا سره يوه روحي تړاو لري، چې پرې تر حده زيات ګران دی او ما چې د استاد څومره اثار لوستي، ده د خوشال بابا د شعر بېلګې په کې په يو نه يو ډول راوړي دي. (د خوشال پوځي نړۍ ليد ) يې يوه بله جالبه ليکنه ده. دا ليکنه د پروفيسر علي احمد جلالي پر کتاب ( د خوشال د عصر او چاپېريال پوځي څېړنه ) نومي کتاب باندې شوې ده، چې د بابا فکر يې په کې ښه شنلی دی. په دې کتاب کې داسې بېلګو ته اشاره شوې چې د هېواد په اوسنيو حالاتو کې هم د تطبيق وړ دي او ليکوال هڅه کړې چې نه يوازې د بابا د وخت، بلکې د هغه په رڼا کې اوسني جنګي چاپېريال او تکتيکونه هم وڅېړي. ورپسې ليکنه يې د نقيب احمد اتل پر ژباړه چې د نوموتي اروا پوه ډيل کارنيګي کتاب ( د برياليتوب لار ) کتاب باندې کړې ده، چې د کتاب ټوله محتوا يې په لنډ ډول په کې واضح کړې ده، نوموړې ليکنه د کتاب پر منځپانګې سربېره نور ډېر ګټور مطالب را پېژني او د شخصيت جوړونې په اړه په کې لازمې لارې چارې را ښيي، د کتاب په بله برخه کې يې د (د نړيوالو اړيکو، اند او انګېرنې ) پر کتاب چې د ښاغلي (نورولي خان نور ) يو څېړنيز او شننيز اثر دی، هم يوه هر اړخيزه ليکنې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز استاد یون د خپلو علمي ترفیعاتو لپاره ځیني څېړنیزې علمي لیکنې هم په دې ټولګه کې ځای کړي دي، چې وخت ناوخت یې په کابل پوهنتون کې د کنفرانسونو له لارې وړاندې کړې دي، چې (په پښتو شعر کې د دري نوي شعري فورمونه)، (پښتو او سنی شعر د حوادثو په مسیر کې)، (د استاد الفت په نثر کې شل فکري لیدلوري) او (د نظم رغنده توکونه) عنوانونو لاندې لیکنو کې یې په پوره تفصیل سره علمي او ادبي بحث کړی دی، چې د علم او ادب لارویانو لپاره یوه مشعل کېدی شي او په ورته موضوعاتو کې ترې د ریفرنس په توګه کټه اخیستلای شي.

په پای کې د ادب او لیکوالۍ د یو شاګرد په توګه ویلای شم، چې په دغه اثر کې کولای شو، د سریزې لیکنې، کره کتنې، یادښت لیکنې او نورو بېلابېلو لیکنو د لیکلو په اړه پوره مالومات ترلاسه کړو او کولای شو چې له دغو لیکنو په الهام اخیستنې سره ورته لیکنې وکړو، چې دا به زموږ د فردي وړتیا په غوړېدنه کې ستر رول ولوبوي، که څه هم ما هڅه کړې چې د کتاب د منځپانګې په اړه لنډېز وړاندې کړم، چې ایله په همدې خو کرښو په تورولو توانېدلی یم، په پای کې درانه لوستونکي ددې اثر لوستو ته رابولم او استاد ته د لوی الله ج له درباره د اوږد عمر، تاند قلم او ځیرک فکر هیله لرم.

په درناوي
پوهنیار وفاالرحمن وفا
کابل- بګرامي
د مرغومي ۲۲مه ۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه:

# بیا هم په جنګ او فرهنګ کې

دا زما د متفرقه پوهنیزو، ادبي او څېړنیزو لیکنو یوه ټولګه ده، دا لیکنې د (۱۳۸۸ل) کال له پیل څخه بیا د (۱۳۹۴ل) کال تر پایه پورې په بېلابېلو وختونو کې لیکل شوي دي. ځینې یې چاپي او برېښنایي رسنیو کې پر خپل وخت خپرې شوي او ځینې یې لا خپرې شوي هم نه دي. په دې هیله یې د یوې ټولګې په توګه خپل ولس ته ډالۍ کوم، چې ګټه یې عامه شي. په دې لیکنو کې ځینې پر بېلابېلو ادبي اثارو لیکل شوي چې د همغو اثارو څرنګوالی څېړي.

څلور لیکنې په کې داسې دي چې ما د (پوهنوالۍ) او (پوهاندۍ) د علمي رتبو لپاره د علمي کنفرانسونو په توګه وړاندې کړې او د کنفرانسونو ژوري هیئت له خوا مثبتې ارزول شوي دي، د هغوی سپارښتنه هم دا وه، چې دا کنفرانسونه باید چاپي بڼه هم خپله کړي.

(جنګ او فرهنګ په افغانستان کې) په دې ټولګه کې شامله یوه لیکنه ده، دا لیکنه ما په هندوستان کې د جنوبي اسیا د لیکوالو د ټولنې د سکرتریت په غوښتنه هلته د یوه جوړېدونکي علمي کنفرانس لپاره لیکلې وه. یاد سکرتریت د یادې ټولنې د غړو هېوادونو له یو دوه درېو تنو لیکوالو څخه غوښتي وو چې په خپله خوښه یوه مهمه فرهنګي موضوع وټاکي، یوه علمي لیکنه پرې وکړي او یاد سکرتریت ته یې ورولېږي!

څرنګه چې افغانستان یو جګړه ځپلی هېواد و او فرهنګ یې د پرله پسې جګړو له امله ډېر زیان لیدلی و، ما د څو کلونو په ترځ کې په دې برخه کې څېړنې کړې وې او لږ تر لږه مې (درې عنوانه) ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثـار هـم پـه دې برخـه کـې چـاپ کـړي وو ، نـو ځکـه مـې د (جنـګ او فرهنګ ) موضوع وټاکله، له دې ليکنې څخه مې هدف دا و چې مـوږ، نـړۍ پـه تېـره بيـا خپلـو ګـاونډيو هېوادونـو تـه دا پـه ډاګـه کـړو چـې افغانستان له فرهنګي پلوه يو غني هېواد و ، خو جګړو يې ډېره زياته مـادي او معنـوي شـتمني لـه منځـه وړې او پـاتې يـې هـم ډېـره زيـانمنـه کړې ده. ددې تر څنګ مې هدف دا و چې ددې فرهنګي شتمنۍ د نـور ويجاړي مخه ونيول شي، زموږ يـو شـمېر تـاريخي اثـار بېرتـه ترلاسـه شي او هم د نړۍ پام زموږ د فرهنګي شـتمنۍ خونديتابـه تـه راواوړي. دا ليکنه ما هغوی ته ورولېږله، دا چې هغوی پرې څه وکړل، په درد به يې ورته خوړلي وي که نه، خو ما خپـل ملي او فرهنګي مسؤليت ادا کړ. دلته مې په دې ټولګې کې يو ځل بيا دا ليکنـه ځـای پـر ځـای کـړه، که بهرنيان زموږ د فرهنګي شتمنۍ ساتنې ته پاملرنـه نـه کـوي، مـوږ خپله بايد لاس په کار شو. نو همـدې مسـئلې تـه د زيـاتې پـاملرنې پـه خـاطر ددې ليکنـو ټـولګې تـه مـې همـدا نـوم (جنـګ او فرهنـګ پـه افغانستان کـې ) غـوره کـړ. هيلـه ده درانـه لوسـتونکي ددې ليکنـې تـر څنګ نورې ليکنې هم په غور سره ولولي او هر څه يې چې د هېـواد د فرهنګ د بېلابېلو خواوو د خدمت لپاره په وس کې وي، له هغو څخه ډډه ونه کړي. په همدې هيله د ليکنو دا ټولګه ستاسو مخې ته ږدم.

په ټوله هېوادنۍ فرهنګي مينه

محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو مثبت فرهنګي بدلون او اوښتون هڅه

> دا یادښت د (۱۳۸۷ل) کال په وروستیو کې د یون کلتوري یون له خوا د (۳۳) عنوانو بېلابېلو اثارو د چاپ په مناسبت لیکل شوی و.

په افغانستان کې روان دېرش کلن بحران بېلابېل علتونه لري، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، فقر، بهرني او کورني سیاسي غرضونه او نور ډول ډول محرومیتونه ددې بحران د اوږدېدو لاملونه دي. خو ددې ترڅنګ یو بل مهم عامل چې تر اوسه لا چا ورته ډېره اشاره نه ده کړې او نه یې ورته ډېر کار کړی دی، هغه فرهنګي فقر، فرهنګي محرومیت او فرهنګي محکومیت دی. همدا فرهنګي فقر او محرومیت ددې سبب شوی، چې زموږ د ټولنې د بېلابېلو خواوو ترمنځ د تفاهم امکانات کمزوري شي او هم له نورو ټولنو سره د افغاني ټولنې ذهني واټن رامنځته شي. د فرهنګي محرومیت او محکومیت د ختمولو لپاره په هېواد کې د زیاتو ښوونیزو، روزنیزو، علمي او فرهنګي مرکزونو جوړول ډېر ضروري دي. د رسنیو فعالیت او خلکو ته د مثبت پیغام رسول هم ډېر مهم دي. د ډول ډول علمي، ادبي، ټولنیزو او سیاسي کتابونو چاپ او د هېواد هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستي او كم لوستي وګړي ته د هغو رسول د فرهنګي فقر او کلتوري محکوميت په ختمولو کې مهم نقش لري.

هر څومره چې په هېواد کې د کتابونو د چاپ او خپرونو مراکز زياتېږي، همغومره د فرهنګي فقر لمن راټولېږي، د خلکو ذهنونه روښانېږي، يو بل سره يې د تفاهم او تحمل روحيه پياوړې کېږي. (يون کلتوري يون) چې په هېواد کې د يو ازاد علمي او کلتوري مرکز په توګه له (۱۳۸۷ل) کال راهيسې فعاليت کوي، د لومړي ځل لپاره يې په افغانستان کې د يو مثبت فرهنګي کار برياليۍ تجربه ترسره کړه. (يون کلتوري يون) د (۱۳۸۷ل) کال په وروستيو کې (۳۳) عنوانه بېلابېل ادبي، ټولنيز، سياسي، روزنيز او علمي کتابونه په يوځايي ډول چاپ کړل. ددې (۳۳) عنوانو کتابونو مالي لګښت بېلابېلو افغانانو پر غاړه اخيستی و. کله چې دا کتابونه ټولنې ته وړاندې شول، نو د ټولنې له خوا يې تود هرکلی وشو، کتابونه نه يوازې په چاپي بڼه وو، بلکې (۳۳) عنوانه کتابونه په يوه سي ډي (CD) کې هم او د انټرنېټ له لارې هم لوستونکو ته وړاندې شول. ددې کتابونو هر عنوان له (۱۰۰۰-۲۰۰۰) ټوکو پورې په چاپي بڼه او نږدې (۳۰۰۰) سي ډګانو په شکل او همدارنګه په انټرنېټ کې د روهي، بېنوا، کتابتون او نورو سايټونو له خوا د لوستونکو په واک کې ورکړل شول. ټول (۳۳) عنوانه کتابونه د يوه پېکج يا بستې په شکل د هېواد هغو علمي، ښوونيزو او روزنيزو مرکزونو ته چې کتابتونونه يې درلودل، په وړيا ډول ورکړل شو، نږدې (۲۰۰) بکسې چې په هره يوه کې (۳۳) واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثـار ایښـودل شـوي لـه یـوې سـي ډي سـره د افغانسـتـان د خیبـر پښتونخوا ایالت کتابتونونو ته ولېږل شول. نږدې (۵۰) پېکجـه، روسیې، هندوستـان، ډنمارک، بلجیم، امریکـا متحـده ایـالات، کویټ، سعودي عـرب، جرمني، متحـده عربـي امـاراتو او ځینو نورو هېوادونو ته له سي ډیانو سره ولېـږل شـول. نـږدې (۲۰۰۰) سي ډیانې افغـان محصلینو، زده کوونکو، ښوونکو، لیکوالـو، شاعرانو او قلموالو ته ورکړل شوې او هیلـه ورڅخـه وشـوه، چې نورو اړتیا وړ کسانو ته هم دا (سي ډیانې) کاپي کړي. په دې ډول یوه نوي تاسیس شـوي علمـي، خپرنیز مرکز د هېـواد وګـړو یـوه پام وړ برخه تر علمـي پوښښ لاندې راوسته. دا د افغانسـتـان پـه تاریخ کې لومړی ځل دی، چې یو نوی تاسیس شـوی ازاد علمـي مرکز دې په خپلو هڅو او نوښت علمـي خدمتونـه د چـاپ، سـي ډي، انټرنیـټ لـه لارې پـر یـوه وخـت وړانـدې کـړي. کلـه چـې دا کتابونه د هېـواد بېلابېلـو مرکزونـو او کتـابتونونو تـه ورسېـدل، نو د لوستونکو ډېرې زیاتې او مکررې غوښـتنې (یـون کلتـوري یون) تـه راورسـېدلې او ددې اثـارو د لازیـات تکثیـر غوښـتنه یـې وکړه، خو یون کلتوري یون چې لـه کلونـو راهیسـې پـه دې پروژه کار کړی و، ددې اثـارو د بیـا چـاپ، تقسـیم او بیـا تکثیـر ورتـه اسانه نه و. دا چې یون کلتوري یون څه ډول یـو علمـي مرکـز دی، دلته به یې په لنډیز سره معرفي کړو:

**یـون کلتـوري یـون:** یـون کلتـوري یـون یـو علمـي او خپرنیـز مرکـز دی چـې پـر (۱۳۸۷ل) کـال یـې فعالیـت پیـل کـړ او پـه یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـايي ډول يـې (۳۳) عنوانـه علمـي، ادبـي او روزنيـز کتابونـه ټولنې ته وړاندې کړل. دا علمي مرکز زما (محمد اسمعيل يـون) او زمـا نـورو ملګرو (ضـيـاء الـرحمن ضـيـاء، وفـاء الـرحمن وفـا او شېر عـالم املـوال) لـه خوا تاسيس شوی. دا داسې يـو مرکـز دی چې نه سياسي فعاليت کوي، نه انتفاعي اهداف لـري، يـوازې د علمـي، ټـولنيز او روزنيـز، سياسـي او تفريحـي اثـارو د چـاپ او خپـراوي لپـاره کـار کـوي. د هېـواد د کوچنيـانو، ځـوان نسـل او فرهنګيانو د روزنې لپاره روزنيز، علمي او ښوونيز سيمينارونه او ورکشـاپونه جوړوي او فرهنګـي اسـتعدادونه روزي، دا مرکـز يــو علمــي مشــورتي بــورډ لــري، چــې د مرکــز لــه تګـلارې او کړنلارې سره د مرکز فعاليتونه تنظيموي.

د يون کلتوري يـون د علمـي بـورډ پـه مشـوره لـومړی مـا (يـون) خپـل اثار ددې علمي مرکز له لارې ځکه چاپ کړل چې دا لـومړۍ تجربه وه، لګښتونه مې هم خپلـه ورتـه پيـدا کـړل؛ ډېـر دوسـتان مې وهڅول هغـوی يـې لګښـتونه ورکـړل. مـوږ ټولـو وويـل کـه دا تجربـه بريـالۍ شـوه، نـو بيـا بـه يـې همداسـې پسـې وغځـوو، کـه چېرې پـه دې کـار کـې کومـه نيمګړتيـا وه، نـو مسـؤليت يـې هـم موږ تـه راجع کېـږي. سـره لـه دې چې دې مرکز سره زمـا تخلـص تړلی، خو دا په دې مانا نه وه چې يـوازې زه بـه خپـل اثـار ورځخـه چاپوم، مـا ځکه خپـل اثـار لـه دې لارې چـاپ کـړل چـې زه لـه خپـل کاره وزګار او د نورو خلکو کار ته وخت پيدا کړم، مـا خـو بـه هـم خپل اثار لـه يوې لارې چاپول، نورو خپرنـدويو ټولنـو کېـدی شـي د شکل او محتوا لـه مخـې ددې ټولـو اثـارو همهـالي او يـو ځـايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپ ته زړه نه وای ښه کړی، نو ځکه ما له دې مرکزه دا اثار چاپ کړل، له نورو لیکوالو مې هیله ده چې خپل لیکلي او بشپړ شوي اثار دې مرکز ته د چاپ لپاره راولیږي.

دا د یو مثبت فرهنګي بدلون او اوښتون لپاره یوه هڅه ده، موږ هیله لرو، ددې په شان نورې فرهنګي هڅې هم ترسره کړو، له ټولو هیوادپالو فرهنګیانو هیله کوو چې ددې ډول هڅو د بریالیتوب لپاره زموږ ملاتړ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو رسنیو ته څو د زړه خبرې
# او څو د راز مشورې

دا لیکنه ما پر (۱۳۸۷ل) کال هغه مهال وکړه، چې یو شمېر لیکوالو په بېلابېلو وېبپاڼو کې په مستعارو او ځینو په خپلو نومونو یو په بل پسې لیکنې کولې او یو بل ته یې سپکاوی کاوه.

د تاریخ په اوږدو کې کله هم چې پښتانه له بهرني یرغل څخه څه ناڅه په وقفه یې ډول بې غمه شوي، نو بیا یې په خپلو منځونو کې یو په بل پسې را اخیستي ده، دا تجربه له پخوا نه تر دې دمه لا تکرارېږي، خو اوس ددې وخت رارسېدلی چې دا تجربه پرېږدو مثبتې تجربې بدله کړو؛ تر بحران وروسته حالت او وخت پر پرمختګ او جوړونې ولګوو، نه د اختلافاتو پر راپنځونې. اوس سره له دې چې موږ لا د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له ډول ډول ګواښونو څخه نه یو بې غمه شوي خو په فرهنګي برخه کې مو څه نا څه پرمختګ کړی او کوو یې، خو له بده مرغه یو شمېر ګړني او لیکني ویناوال او لیکوال لا هم اوسنیو سترو خطرونو او ګواښونو ته په ژور نظر نه ګوري، ددې پر ځای چې خپل فکر او قلم د هېواد د ملي کلتور د غوړونې لپاره وکاروي، پر تا ویلو او ما ویلو سر دي او ځینې هم په دې خاطر چې د خپل شهرت غریزه خړوب کړي، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفي ليکنو خپل وخت تېروي او پر داسې مطرحو او مثبتو شخصيتونو غرضي ليکنې کوي، چې په ټولنه کې د درناوي پوړۍ ته رسېدلي دي، دا ډول اشخاص په دې ډول د بل چا د سپکاوي له لارې د خپل شهرت اسباب برابروي. دا عيبونه پخوا هم وو خو اوس په ځينو اشخاصو کې زيات ليدل کېږي، نو په دې ډول دا کټګورۍ اشخاص په عام ډول په ټولنه کې د شخصيت جوړونې پر معيارونو د ابهام تيارې خوروي او غواړي نور مثبتې شخصيتونه په خپلو دې ډول هلو ځلو خپلې کچې ته راټيټ کړي. زموږ د ټولنې د ځينو کسانو همدغه عيب ته په کتو سره (استاد روهي) مرحوم دا تشويش ښکاره کړی چې ((په وروسته پاتې ټولنو کې د شخصيت معيار معلوم نه دی)) مانا دا چې ځينې کسان په ټولنه کې د مثبتو شخصيتونو زغم ته تيار نه دي، دوی د رخې او کينې پر داسې يوې ناروغۍ اخته دي چې له ځانه پرته بل څوک نه شي زغملای. دوی ددې پر ځای چې پر ځان کار وکړي، د نورو کارونو او عملونو ته متوجه وي او هغه د خپل ذوق او تمايل په تله تلي، په حقيقت کې د دوی شخصيت د نورو په شخصيت پورې تړلی دی، که نور ښه، بشپړ او يا نيمګړي کارونه وکړي، نو دوی ته په واقعيت کې کار پيدا کېږي. څه د پاسه شل کاله کېږي چې زه د خپلو يو شمېر نورو ژمنو فرهنګي ملګرو تر څنګ پر کلتوري هلو ځلو بوخت يم او ددې تر څنګ يو شمېر سياسي او ټولنيزو هلو ځلو ته په دې خاطر زړه ښه کوم چې خپلو او د نورو ليکوالو ملګرو کلتوري هلو ځلو ته لار اواره کړم، خو په دې دوو-دوه نيمو لسيزو فرهنګي هلو ځلو کې مې د زمانې ډېرې تجربې ليدلي او دخپلو ځينې نږدې او لرې فرهنګيانو ذهني او شخصيتي حالت که راته ټول نه وي خو تر زياته حده معلوم دی. موږ داسې ليکوال هم لرو چې هم يې خپله کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او هم يې نورو ته کار پيدا کړي، هم يې خپل شخصيت جوړ کړي او هم يې د نورو د شخصيت د ودې او تثبيت لپاره پانګه جوړه کړې، خو له بده مرغه  موږ ځينې داسې په اصطلاح ليکوال هم لرو چې د نورو د شخصيت د ودې د مخنيوي په خاطر له ځان سره پر جګړه اخته دي، ددې پر ځاى چې د خپل ځان، خپل قلم او خپل ژوند د پرمختګ په لټه کې شي د نورو کارونه شمېري. د نورو د جيبونو حساب کوي او د نورو د پرمختګ پوړۍ شمېري، د دوى پر دې سر خلاص نه دى چې له هر چا څخه چې کوم لوى شخصيت جوړېږي هغه د ازمون له بټۍ څخه تېرېږي، شخصيت په دې نه جوړېږي چې يو به زحمت ګالي او بل به په راحت وخت تېروي، بيا به په ټولنه  کې د دواړو موازنه برابره وي. يو وخت موږ په پېښور کې ډېر کتابونه چاپول او بيا به مو کابل ته راوړل نو اکثره خلک ډېر خوشاله وو، يو وخت تکړه کره کتونکي (استاد اسدالله غضنفر) ماته وويل ((ډېر کارونه کوې او ښه کارونه کوې خلک درته ډېر احترام لري، خو ګوره چې يو شمېر خلک کينې او رخې هم لري يو څه عيبونه په ځان کې پرېږده، چې کينه ګر دې عيبونو ته متوجه شي او ته به خپل کار وکړې که نه وي نو کينه ګر به درته ډېر مشکل پيدا کړي...)) د استاد غضنفر به اوس دا خبره هېره وي که به يې په ياد وي خو زما ځکه په ياد ده چې زه عملاً په ژوند کې له دې ستونزې سره مخامخ شوى يم. له دې ليکنې څخه مې موخه دا ده، چې زموږ په ټولنه کې  د ځينو شخصي عقدو له مخې يو منفي کړکېچ را ټوکېدونکى دى او که ددې بحران مزي کش شي نو کېدلاى شي پر يو ژور بحران بدل شي. ددې بحران لومړنۍ نښې نښانې په ځينو چاپي او کتنيو رسنيو (ويبپاڼو) کې څرګندېږي او که مخه يې ونه نيول شي کېدى شي پر يوه فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحران بدل شي. ستونزه په دې کې ده چې یو شمېر کم لوستي په اصطلاح لیکوال غواړي د خپل شهرت لپاره پر لویو او مطرح لیکوالو او شخصیتونو غرضي لیکنې وکړي، هغه څوک چې لویې ارادې او لوی پلانونه لري که داسې ماشومانه جنګ او ځواب ته تمرېږي، نو خپل قیمتي وخت له لاسه ورکوي او لویو پلانونو ته یې زیان رسي او په نامستقیم ډول د کمزوري لیکوال د شهرت سبب ګرځي. زموږ یو شمېر مطرح لیکوال اوس له دې ستونزې سره مخ دي. زه په خپله ددې تجربو یو نچوړ لرم؛ یو ځل یو کمزوري، بل ځل متوسط او بل ځل یو قوي لیکوال زما د شخصیت پر وړاندې داسې سپورې لیکنې وکړې، چې د هغو یوه نښه څه چې څرک یې هم زما په شخصیت کې نه و، له روحي پلوه ډېر ارام ځکه وم؛ هغه څوک چې د عقدې له مخې یې زما مخالفت ته دانګلي، څومره سهوه شوي او څومره په نا حقه دي او زړه کې مې ویل چې لیکنه توکړې لاړې دي چې یو ځل تو شوې بیا نه پورته کېږي، ماویل یو وخت به دا اشخاص ډېر پښېمانه شي، ځکه انسان د خپل فطري جوهر له مخې یو وخت خپله ملامتي مني. میاشتې لا وتې نه وې چې یوه وویل ((زه د پښتنو په جرګه درته پړ یم، هر څه چې ته یې غواړې زه یې منم، حتی پړي اچولو ته هم تیار یم)) بل راته له شرمه مخامخېدی نه شو، په تلیفون کې یې راته وویل: ((استاده زه درته ډېر کوز ګوری یم، ستا کور او دفتر کې مې ستا نمک خوړلی، د شپې ارام نه لرم، که غواړې زه ارام شم زما د لیکنې ځواب راکړه، له ځواب پرته ما ته هېڅ خو ب نه راځي...))

درېیم په جلال اباد کې دفتر ته راغی، ډېر وخت ناست و کله چې نور خلک لاړل نو زما څنګ ته راغی ویې ویل: ((استاده ستا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې مې يو دوه کاله مخکې بې ادبي کړې، زه هيله لرم ما وبښې...)).

دې درې واړو کسانو ته ما نه هغه وخت او نه هم وروسته ځواب ورکړ، ځواب مې ځکه ور نه کړ چې زه نه غواړم خپل يو روحي پور چاته په همدې ډول ځواب کړم، زه غواړم ملامت ټول عمر زما پوروړی پاتې شي.

په دې ورځو کې يو څو ښاغلي غواړي زما او زما څو تنو نورو هېوادپالو افغان ليکوالو پر ضد د ناوړه تبليغ له لارې ځان په پنځو کې حساب کړي، يو ښاغلی خو لا په کې داسې هم دی چې تر خپلې مور او پلار وروسته يې تر هر چا ما او زما ملګرو زيات خدمت کړی دی، له يو داسې حالت څخه مو چې دلته يې يادونه ضروري نه ګڼم، تر ليکوالۍ او نور مقامه پورې را ورسوه، هغه هم په ګړنۍ تبليغ څه چې لا په ليکنۍ تبليغ کې برخه اخلي، کېدی شي دوی فکر وکړي که دوی هر ډول ادبي ليکنې وکړي دومره قوت به په کې نه وي چې دوی زيات مشهور کړي، خو که پر پښتو ادبي کړيو او ليکوالو پسې بدې راونغاړي نو بيا خو کېدی شي ډېر خلک د دوی د ليکنو پر ضد عکس العمل وښيي او دوی به نو بيا په پنځو کې ياد شي. زه نه غواړم په دې ليکنه کې ددې ښاغلو ګړنيو اوليکنيو ويناوو مستقيم او نامستقيم تبليغ ته ځواب ورکړم، زه غواړم دا ډول اشخاص د يادو شويو مثالونو په شکل، ځواب کړم خو له ټولو چاپي، ليدنيو، اورېدنيو او کتنيو رسنيو څخه مې دا هيله ده چې د هېڅ هغې ليکنې خپراوي ته لاره اواره نه کړي چې اساس يې شخصي عقده او رخه وي او هېڅ ډول، سياسي، علمي، هنري او ټولنيز پيغام نه لري. دا ډول ليکنې مثبت او منفي غبرګون راپاروي، د سوال او ځواب لړۍ يې غبرګېږي، ورو ورو د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساري ناروغۍ بنه نيسي او ډېرو ليکوالو ته سرايت کوي، په پايله کې زموږ فرهنګي بهير ته درون زيان اړوي. دې کې هم هېڅ شک نشته هغه کمزوري ليکوال چې له دې لارې د خپل شهرت په لټه کې دي، په وروستۍ نتيجه کې دوی هم له خپلو دې ډول عملونو څخه پښېمانه کېږي، خو هغه پښېمانۍ بيا څه ګټه ځکه نه لري چې زموږ د ليکوالو ډېره انرژي به يې ضايع کړې وي. زموږ ډېرو پخو ليکوالو ته ډېر غټ کارونه په مخ کې پراته دي، دوی بايد د غنې په جال کې راګير نه شي. له دې خبرو څخه مې مقصد عام ليکوال او رسنۍ دي، چې د پښتنو ليکوالو تر منځ د هر ډول ټکر مخه ونيسي که د کوم ښاغلي د صبر کاسه ډېره ډکه وي نو وخت پر وخت ادبي غونډې، مشاعرې، بهيرونه او د کره کتنې غونډې جوړېږي، که انتقاد يې اصولي وي نو هلته دې مطرح کړي که مقابل طرف يې د ځواب وس درلود ځواب به يې ووايي او که نه دده انتقاد به خپل ځای ونيسي. تر کومه ځايه چې دې ښاغلو ته خبره زما په خپل ځواب پورې اړه لري زه نه غواړم چې خپله انرژي له کم لوستو، رخه ګرو اوشهرت غوښتونکو په اصطلاح ليکوالو سره پر تا ويلو او ما ويلو مصرف کړم، که څه هم د دوی ځوابونه ماته ډېره اسانه ده، زه چې د افغانستان د ملي ګټو او د هېواد د ځمکني بشپړتيا د مخالفينو څو ګونو جبهو اود هغو له لسګونو ليکوالو سره مقابله کولای شم، نو دا څو تنه خو هغه د چا خبره نسوار هم نه دي. تر موږ مشرانو، پخو ليکوالو او لويو استادانو څخه مو هم هيله ده چې خپلې شخصي ليکنې، ستونزې او نور ډول ډول زړه بداوي دې رسنيز ډګر ته نه راباسي، ځکه دا ډول ليکنې نور زړه بداوي او نور ليدلوري پيدا کوي او په پای کې دهېواد، ملت او ملي فرهنګ زغورنه او پرمختګ له موږه پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، اوس چې د ځينو مشرانو ليکوالو دا ډول ليکنې په رسنيو کې ګورو دا يو خواشينوونکی حالت دی او زموږ د ځوان کلتوري پښت پر سالمه روزنه ناوړه اغېز کوي، له خپلو نورو ځوانو ليکوالو څخه چې موږ ورته د ښې راتلونکي هيله لرو، هم غواړو چې د چا پر تائيد يا رد دې ليکنې نه کوي، د خپلې ليکوالۍ لپاره دې ډېر لوی او اوږده ليدلوري په پام کې ونيسي او ځانونه دې دومره د پوهې، ذکاوت، ملتپالنې او ژوند جوړونې په پانګه سنبال کړي چې د خپل هېواد او کلتور له دښمنانو سره د مقابلې وس يې زيات شي او کينه ګر او رخه ګر يې له برياوو څخه خپل لړمون وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بابي ګله! ستا دليدو په هيله

دا ليکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د بابي صيب د شهادت د خبر په اورېدو ليکل شوې ده.



کله چې مې انټرنيټ خلاص کړ ، نو پر همدې دردونکي خبر مې سترګې ولګېدې ، زړه مې وښويد ، بيا پر مورږ يوه بله ټکه پرېوته ، عبد المجيد بابی هم راڅخه ولاړ ، د ژوند قافله مو څومره ورو ورو درومي ، خو د مرګ هغه څومره په ځغاسته ده ، هسې خو مرګ له مورږ سره روږدی دی ، مورږ هغه ښه پېژنو او هغه مورږ د خپلې سزا وړ ګڼلي يو ، په ډېرو مرګونو مو له مرګه ګيله نه ده کړې ، خو په يو نيم مو خامخا له لوی ذات او دا هغه له کوچني مخلوقاته ګيله کېږي چې ولې يې دومره مجبور ليدلي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونه کلونه وشول چې عبدالمجید بابی د خپل فرهنګ د غوړیدا پر هڅو بوخت و، ستړی و، ستومانه و، د چا یې زنه نیولې وه د چا یې لاس او د چا لمنه، ټولو ته په زاریو و، چې زموږ دژغور لاره همدا ده، په نورو لارو زړه مه خورئ. هغه نور د تل لپاره هر چاته له زاریو خلاص شو، پر یو داسې سفر لاړ، چې بیا به هیڅکله رانه شي، ځان یې د ټول عمر لپاره بې غمه کړ، خو موږ یې د ټول عمر لپاره د غم پر ټغر کېنولو. بابی بیا له موږ څخه یو ګام دمخه شو، خدای خبر چې عبد المجید بابي پسې به دا ځل د کوم بل خدمتګار بابي وار وي، د مرګ کډه زموږ له کلي نه ځي. بابي ګله! هلته ستا د لیدو په هیله


ستا یون، نوی ډیلی ـ هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ((ځانګو)) کې کوم فکر زانګي؟

دا ليکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د ((ځانګو)) کتاب د مخکتنې په وياړ شوې وه.

که موږ ټول پښتو ادبيات په تېره بيا شاعري له مانيز پلوه ډلبندي کړو، نو د ملي فکر برخه به په کې خورا درنه راڅرګنده شي. د ملي اند دايره پراخه ده، د ټولنيزو ناخوالو انعکاس، ژبپالنه، ملتپالنه، د ولسي ولولو پاروونه، پر تېرو تورو وياړنه او د سترو اتلانو ځلونه ټول د ملي فکر په دايره کې شاملېږي.




په پښتو کې به داسې ليکوال او يا شاعر د ګوتو په شمار پيدا شي، چې له دې دايرې بهر وي، نور اکثره ليکوال د همدې دايرې په داخل کې د خپل فکر او تخيل وزرونه غوړوي. دا چې ولې دا دايره دومره پراخه ده، دا يوه اساسي پوښتنه ده چې کېدای شي له څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلوریو ځواب شي، زما په نظر يې يو ځواب دادی چې زموږ په ټولنه کې ملي ارزښتونه، ملي هويت، ملي خپلواکي او ملي ارمانونه، زياتره وختونه تر تهديد لاندې وو او لا دي. شعر او شاعري او په ټوليز ډول ادبيات د محکوميت، محروميت او اختناق پر وړاندې يو ډول غبرګون او بغاوت دی، ملي احساس د ملي محکوميت په بهير کې ډېر راپارېږي. دا چې په پښتو ادبياتو کې ملي ولوله تر نورو برخو زياته ځلېږي، ددې يو علت دادی چې دلته د متواتر محکوميت لړۍ همداسې غځېدلې پاتې شوې ده. د ساري په توګه د نړۍ ډېر کم قومونه به وي چې د خپلې ژبې مظلوميت ته دې شعرونه وايي، هغوی خپلې ژبې سره مينه لري، کار هم ورته کوي، خو شعرونه ورته ځکه نه وايي چې ژبنی محروميت او محکوميت يې لا هغه حالت ته نه دی رسېدلی چې په دوی کې د شعر ولولې راوپاروي، خو موږ پښتانه ځکه خپلې ژبې ته شعرونه ليکو چې له ورايه يې مظلومه احساسوو.

زه چې څومره د ښاغلي فاتح الملک تنګ يوسفزي له کلام او ليک سره له پخوا اشنا وم او بيا چې مې دده د فکر په (ځانګو) کې وزانګل نو لا راته څرګنده شوه چې تنګ صيب د هغو شاعرانو او ليکوالو په ډله کې دی چې زموږ د ملت همدې پرله پسې محکوميت، مظلوميت او محروميت ته په ځير سره متوجه دي. تنګ صيب همدې محروميت کړولی، ځورولی او ژړولی دی. دده اکثره ليکنې چې موږ ګورو، د همدې جبر پر وړاندې يو غبرګون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې زموږ په هېواد کې يو ملي اکثريتي محکوميت او ژبنی محروميت نه وای، نو بيا خو موږ (فاتح الملک)، (ننګ) او (يوسفزي) ته دا ډول اړتيا نه احساسوله. وګورئ يو عجيب ترکيب دی:

(فاتح الملک ننګ يوسفزی). يو چا دې خاورې ته سترګې نيولې وې، چې موږ (د هېواد فاتح) ته اړتيا پيدا کړه، يوه مبارزه راپسې وه چې (ننګ) مو په کار شو، کوم مغول سره مو رقابت و چې (يوسفزي) ته مو اړتيا پيدا شوه. ظاهراً خو دا نومونه يو تصادف ښکاري، خو څوک چې ددې تصادفاتو تر شا ولاړ دی او دا ټوله نړۍ له تصادفاتو پرته کنټرولوي، هغه ته دا ډول تصادفات مانا نه لري، هغه ته (دم او قدم دواړه په حساب دي). زه چې کله د ښاغلي فاتح الملک ننګ يوسفزي دا (څلور کلمه ييز ترکيبي نوم) ته ګورم، ماته په کې تر ظاهري تصادف اخوا د يوه اوږده نري رنځ د علاج يوه نسخه ښکاري، داسې رنځ چې پېړۍ پېړۍ مو څوروي او ډوبوي ، خو لا يې هم موږ غوڅ علاج نه دی کړی. دا چې په (ځانګو) کې کوم فکر زانګي د ېته به لږ وروسته نغوته وکړو، خو دا چې خپله ټوله ځانګو ورته ډالۍ شوې هغه کوم درد، کوم فکر او کوم سوز دی؟

هغه زړه ته چې د خدای په مينه پايي
هغې ژبې ته چې خپله ژبه وايي
هغې څړيکې ته چې زېرى د ژوندون وي
هغه رګ ته چې يې وينه د پښتون وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کله چې يو څوک خپل ټول کتاب داسې يو ارمان ته ډالۍ کوي، نو هلته سړي ته ښه پته لګي چې ننګ صيب پر څه شي ننګ کړی او د څه لپاره يې قلم چلولی دی.

د ننګ صيب په خپلې وينا چې (په ژوند کې يې تر خوږو ترخه زيات دي)، د ژوند په داسې يو انډوله بهير کې ليکوال نه شي کولای، تصنعي خواږه توليد کړي، څه شی چې په ټولنه کې وي، هغه د ليکوال ذهني دايرې ته ورداخلېږي، ننګ صيب هم د خپل ژوند په اوږدو کې (ژوند) ته ډېر کم وخت پيدا کړی دی، که هغه د ژوند ډېر خواږه ليدلي وای، ده غوښتل که نه غوښتل هغه به ترې څرګندېدل:

د خوشال خټک له عشقه ګفت و ګوی شي
چې په لوښي کې څه وي هغه ترې توی شي

زموږ يو مرحوم ليکوال (مولانا سيفي صيب) به ويل: پښتانه کاليو (جامو) ته څکه کالي وايي چې په کال کې يې يو ځل کوي.

نو پښتو ادبياتو کې چې غنايي يا بزمي برخه د رزمي هغې په انډول کمه برېښي علت يې دادی چې دلته ددې قوم ليکوال ژوند ته وزګار پاتې شوی نه دی. ننګ صيب که د ولس استازی و او که د تنظيمي بهير په تاريخي جبر کې راولاړ مبارز او يا هم يو ازاد ليکوال، يو شی چې ورسره همېشه مل و هغه ملي فکر و او ملي ولوله وه. چې دده نړدې شپېته کلن سياسي-فرهنګي ژوندانه کې يې هېڅکله منکسر حرکت ونه کړ. که څوک د ننګ صيب فکري بهير له پيله بيا تر دې دمه وڅاري، نو پر يوه مستقيم خط يې عمودي حرکت کړی دی. په ټوليز ډول انسان يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګړې د پښتو متل په مصداق (تر کاڼي کلک او تر ګل نازک دی)، ځيني کسان د زمانې ناخوالو ته ځان نه شي ټينګولای، خو هغه کسان چې د زمانې بادونه يې د فکر ليکې کږې نه کړي، هغه په سترو شخصيتونو کې راځي. که موږ د ننګ صيب د ژوندانه د سختيو ټولو پړاوونو ته پام وکړو، نو په هر ډول حالاتو کې يې د ملي احساس او ملي فکر مستقيم خط همداسې پسې تعقيب کړی دی. دا کار د هر انسان په وس پوره نه دی. دې خبرې ته په پام سره چې د ننګ صيب په ليکوالۍ کې د ژوند نور ډګرونه هم په ښه ډول ځلول شوي او ستر انساني پيغامونه يې ټولنې ته وړاندې کړي، خو که په ټوليز ډول له فکري پلوه دده پر اثارو غږېږو، نو د ملي فکر برخه په کې تر ټولو برخو درنه ده. دده خپل کرکټر په حقيقت کې د ملي فکر د دايرې په محور کې واقع دی. د همدې اثر (ځانګو) په (ضمير) نثري ټوټه کې د (سر) او (زړه) د دوو متضادو کرکټرونو په مکالمه کې ستر انساني پيغام پروت دی. ددې ليکنې يا راډيويي فيچر پيغام دادی، چې مينه اوعواطف په پای کې پر زر او زور بريالي کېږي.

په (نوم ورکي شپون يا نامتو تورکښ شهيد) ډرامه کې د (شين خالی) او (شاعر) ډيالوګ د ژور ملي او وطني احساس څرګندونه کوي. دا ډرامه د شاعر د هغه فطري حالت او د ضمير د حقيقي درد انځورنه کوي چې په ټول وطن کې هېڅ کور نه لري، خو دی د ټول وطن دعوه کوي، نه د هغو په شان چې په هېواد کې هر څه لري خو هېڅ نه لري. دا ډرامه د شاعر هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګې ته اشاره کوي، چې اکثره شاعران پرې ډېره لګوي: ((د شاعر بچي د هغه شعرونه دي.))

د (کميس او ژولۍ) په ډرامه کې د پېروز په کرکټر کې د نيمه ځمکوالۍ ټولنې د يوه حريص وګړي شخصيت انځوروي او په ډېره جالبه اصطلاح د هغه ناعلاجه ناروغۍ ته د (حرص الدرهم) اصطلاح کاروي. دا ډرامه په انسان کې د بولهوسه ناروغيو د کنټرول او مهار لپاره ستر انساني پيغام لېږدوي.

(ځانګو) چې ددې ټولګې مرکزي ډرامه ده، ټوله ډرامه يوه ستره ملي او تاريخي پېښه انځوروي. ددې ډرامې د مرکزي کرکټرونو (بېټ نيکه، نازو انا او ميرويس نيکه) په ډيالوګونو کې ستر پيغامونه پراته دي. د نازو انا په دعا کې ستر ارمان پروت دی. د بېټ نيکه او نازو انا مکالمه د يوه ستر، واحد او بريمن ملت روح تمثيلوي.

د ((تربګني)) په نوم ډرامه خو له ورايه ښکاري، چې د کومې ټولنې زېږنده ده، تربګني د چا ترمنځ وي او تنيجه يې څه وي؟ ننګ صيب په دې ډرامه کې خورا کمال دا کړی، چې لومړی يې د دوو کرکټرونو (تور ګل) او (انار ګل) ترمنځ د تربورولۍ داسې ډيالوګ پيل کړی، چې د تربګنۍ له ناعادلانه منطق سره بشپړ انطباق لري، لوستونکی تر دې حده ځان سره کشوي چې وايي ضرور به اوس يو څه پېښېږي، خو خبره لا د ډزو پړاو ته نه رسېږي چې د (جانباز) او (سرباز) د تربګنۍ داستان چې (مرچکي) په کې د خپلې چغلګرۍ پرېمانه مرچ دوړولي، پيلېږي. ددې تربګنۍ په بهير کې سرباز او جانباز د يو بل ورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژني او خپله کلونه کلونه زندان ګالي، نو کله چې جانباز د خپل برخليک دا غمجنه کيسه (تور ګل) او (انارګل) ته کوي، هغوی ترې عبرت اخلي او دښمني يې پر دوستۍ بدلېږي.

د (غيرتي مېرمن) په ډرامه کې يې د احمدشاه بابا د وخت يو تاريخي روايت په ښکلې هنري ژبه بيان کړی او يو ستر ملي ارمان يې په کې ځلولی دی. د عينو نوم، د عينو کاريز له پېړيو راهيسې مشهور دی او له نېکه مرغه چې نن (عينو مېنه) په کندهار کې د نړۍ د يوه متمدن ښارګوټي په توګه نوی جوړېدونکی ښارګوټی دی.

همداسې نورې ډرامې چې د ټولو يادول دلته د وخت د کمي له امله ضروري نه بولم. په پای کې خپلې خبرې رالنډوم او وايم: له فکري پلوه (ملي فکر) په دې ډرامو کې داسې دی، لکه په شمسي نظام کې چې (لمر) وي. له ژبني پلوه دا ډرامې په ډېره پخه، کره، تر ډېره حده په نږه او معياري ژبه ليکل شوي، ليکوال چې څه غوښتي هغه يې په ښه بڼه افاده کړي. د ډرامو پيغامونه يې مثبت دي او ښه خو لا دا چې د هندي فلمونو په شان مثبت کرکټرونه په پای کې بری مومي او منفي هغه ماتې خوري، دا حالت د لوستونکو په ذهن کې د مثبتو شخصيتونو د روزلو روحيه روزي او لوستونکي په پای کې د راحت احساس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهاند محمد حسن کاکړ
# د جګړې پر لومړۍ کرښه!

دا لیکنه مې پر (۱۳۸۹ل) کال په کابل کې د پوهاند صیب محمد حسن کاکړ په یاد جوړه شوې غونډه کې اورولې ده.

کېدی شي ځینو دوستانو ته به دا پوښتنه عجیبه وي؛ په داسې حال کې چې زموږ هېواد له لکونو، کورنیو او بهرنیو جنګیالیو، جګړه مارو، جګړه پالو، جنګسالارانو، طالبانو، جنرالانو، مارشالانو، کېڼ لاسو او ښي لاسو وسلوالو ډک دی او دا دوه دېرش کاله کېږي، متواتره جګړه روانه ده، نو بیا داسې یوې جګړې ته څه اړتیا ده چې پوهاندان دې هم په کې راټاله شي؟ او هغه هم بیا د پوهاند محمد حسن کاکړ په شان یو پوهاند، چې هم د دودیزو علومو او تجربو په بتۍ کې پوخ شوی او هم د عصري علومو داسې پوره تجربه ورسره ده چې د ځمکې او اسمانونو ننداره پرې کېدلی شي...



(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند کاکړ داسې یو ځوک دی، چې په لغمان کې د طبیعي علم، چل، هنر او مهارت له سینده یې اوبه څښلي او په (ډېوه) کلي کې یې د علم ډیوې ته سترګې غړولي او هم یې د اوسنۍ عصري او تخنیکي نړۍ د تمدن د مخکښانو، امریکا، انګلیستان او نورو کې د عصري علومو په ټولو معیارونو برابرې زده کړې کړې دي. یانې دا چې زموږ پوهاند داسې یو پوهاند دی، چې د دوديزو او عصري دواړو علومو پخه تجربه لري. پوهاند کاکړ د تاریخ لیکنې د علمي میتودلوژۍ پر بنسټ خپلې لیکنې اعیاري کړي. دی لکه د ځینو نورو په شان د شخصي احساساتو تر اغېزې لاندې نه دی راغلی، پښتې لکه څنګه چې دي همغسې یې ښې څېړلي، البته د یوه تاریخ لیکونکي په توګه یې د پښتو هر اړخیزه شننه او څېړنه خپل حق ګڼلی دی؛ نه یې خپل ویاړونه په پردو پورې او نه یې پردی، توري خپل ځان پورې تړلي دي، شته داسې تاریخ لیکونکي چې کله کله د خاصو سیمه ییزو، قومي او مذهبي احساساتو تر اغېزې لاندې راځي او پښتو ته له خپل لید لوري ګوري، یو دوه بېلګې به یې راوړو: (محمود افشار یزدي) یو ایرانی لیکوال دی، هغه د افغانستان په اړه په (۱۲۰۰) مخونو کې د (افغان نامه) په نامه یو کتاب لیکلی دی، په هغه کې یې نه یوازې د افغانستان ټول ویاړونه په ایران پورې تړلي، بلکې د خدای په خلقت کې یې هم ګوتې وهلي او لیکلي یې دي، چې د افغانستان په غرونو کې کومې طبیعي ونې کېږي هغه هم له ایران څخه باد راوړي او دلته شنې شوې دي، هغه په کینه ییز ډول د افغانستان د تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسخه کولو هڅه کړې ده. مرحوم کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي بیا دا کتاب نقد کړی او دده افراطي نظریات یې رد کړي دي، عطایي صیب بیا د افراطي لیکوالو یا تاریخ لیکونکو په جمله کې د یو پښتون لیکوال یادونه هم کوي او وایي چې هغه بیا ځمکه او اسمانونه، غرونه او رغونه ټول پښتانه معرفي کړي، د بشر ټول خلقت یې پښتنو ته منسوب ګڼلی او لیکلي یې دي: ادم علیه السلام هم اصلاً پښتون و، نوم یې همېشه ګل و او په تیرا کې به اوسېده.

له دې بېلګو مې هدف دا و، چې په تاریخ لیکونکو کې هم داسې کسان شته چې ښي او کیڼې افراطي نظریې لري، خو زمونږ پوهاند صیب حسن کاکړ بیا له دا ډول افراطي نظریاتو څخه پاک دی، هغه د تاریخ د علمي میتودونو له مخې پر یوه مستقیم خط روان دی، خو ایا له دې علمي قوت، سپېڅلتیا او دقت سره بیا هم د پوهاند صیب د موافقینو او مخالفینو انډول برابر دی؟ دا مهمه نه ده چې پوهاند صیب څومره مخالفین لري، خو دا مهمه ده چې پوهاند صیب څه ویلي دي؟ په شرقي ټولنو کې دا یو دود دی چې کله کله د رښتیاوو پر وړاندې د مخالفینو شمېر زیات وي.

اوس راځم همغې پوښتنې ته چې زمونږ دا پوهاند ولې جګړې ته لاړ او بیا ولې د جګړې لومړی کرښې ته؟

ټولو ته څرګنده ده چې له پخوا څخه د ځینو ګاونډیو او د ځینو پردیپالو په اصطلاح لیکوالو او تاریخ لیکونکو د افغانستان مستقل هویت او حیثیت نه خوښېده او نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښېږي، پر افغانستان د شوروي له يرغل سره سم يو شمېر بهرنيو او د هغو کورنيو اړوندانو ته ددې لاره اواره شوه چې په منظم او سيستماتيک ډول د افغانستان پر تاريخ، وياړونو او تېر برم بلوسه وکړي او دا بلوسې لا تر اوسه په خپل قوت سره رواني دي، ددې منظم يرغل پر وړاندې ودرېدل د هر چا په وس پوره نه دي، خو پوهاند صيب د امير کروړ په څېر چې په يو تن به له سلو جنګاورانو سره جنګېده، په يوازې ځان د دوی پر وړاندې ودرېده، هغه څه يې وليکل چې بلوسګرو ته مناسب ځواب و، دا ډول سياسي، اخلاقي او علمي جرئت د ډېرې قربانۍ په بيه کېږي. د افغانستان د تاريخ مسخه کوونکي له هرې وسيلې څخه کار اخلي چې زموږ پر دې ډول ملي او علمي شخصيتونو د ژوند ساحه راتنګه کړي؛ په ټولنه کې يې د نشنليست، فاشيست او ژبپال په نامه معرفي، په ټولنيزو او سياسي چارو کې يې فعاليت ور محدود کړي او بيا له دې بېلګې نورو ليکوالو ته هم دا پيغام ولېږي چې که تاسو هم دا لاره تعقيبوئ نو برخليک به مو دغسې شي، زموږ اکثره پښتانه ليکوال، سياستوال او تاريخ ليکونکي زموږ د هېواد د هويت د پتهو او ښکاره مخالفينو له خوا د نشنليست او فاشيست له توره دومره وېرېږي، لکه ملا چې پر چا د تکفير ټاپه ولګوي او يا هم لکه پر سيسيو چې د شاهين د وزر سيوری خور شي، خو زموږ پوهاند صيب د عوامو په اصطلاح د مخالفينو ددې غور و پش په کيسه کې نه دی، هغه د شاعر ددې بيت په مصداق چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چا به ښه په چا به بده لګي
ما د رښتيا کيسه پوره وکړله

خپل حقانيت غځوي او بلوسګرو ته علمي او منطقي ځواب ورکوي. پوهاند صيب د هغو مخالفو بلوسګرو په شان نه دی چې د چا پر وياړ او پرتم بلوسي او يا ور سره رخه لري، بلکې هغه د خپل تاريخ، خپل وياړ او خپل پرتم د مخالفينو پر وړاندې دفاع کوي، په همدې خاطر خو يې د يوه مهم اثر نوم: (رڼا او دفاع) دی. زموږ پوهاند تياره روښانه کوي او د خپل تاريخ دفاع کوي، که دده په زړه کې لکه د نورو په شان خيری وای، نو بيا خو به يې د (رڼا او دفاع) پرځای (تورتم او تېری) اثر ليکلی و. هوکې! يو مدبر، مفکر، نوښتګر، ناپېيلی، ځيرک او هوښيار تاريخ ليکونکی او تاريخ پوه بايد همداسې وي، لکه زموږ د پوهاند په شان چې (رڼا او دفاع) ليکي، نه (تورتم او تېری). موږ پرې وياړو.

اوس راځم خپلو څو مشخصو وړانديزونو ته:

ددې په خاطر چې زموږ نسلونه د تل لپاره د پوهاندصيب ليکنو ته لاسرسی ولري او په خپل هېواد کې د هېواد د مخالفينو پر وړاندې له (رڼا او دفاع) څخه محروم نه شي، نو:

۱ - د پوهاندصيب ټول چاپي او ناچاپ اثار دې يو ځل بيا په منظم ډول چاپ شي.

۲ - د استاد متفرقه ليکنې دې له پيله بيا تر دې دمه راټولې، ډلبندي او بيا دې پر يوه وخت چاپ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د استاد ځینې اثار چې په انګرېزۍ او یا نورو ژبو لیکل شوي وي، په پښتو دې وژباړل شي.

۴- د استاد ځینې اثار دې د نړیوالو د ذهن د روښانتیا په خاطر په نړیوالو ژبو وژباړل شي.

۵- د کتابونو پر چاپ سربېره دې د استاد ټول اثار په یوه سي ډي (CD) کې خوندي او بیا دې اړتیا وړ شمېر تکثیر شي.

۶- د استاد ټول اثار دې په انټرنېټ کې خواره شي چې د نړۍ په هر ګوټ کې یې هر مینوال ترې ګټه پورته کړي.

۷- په انټرنېټ کې دې د ځوانو لیکوالو په مرسته د استاد د ژوند، نظریاتو او اثارو لپاره یو ځانګړې وېبپاڼه جوړه شي.

۸- او له استاد څخه مو هیله ده چې د ژوند پاتې عمر کې (له بابا ادمه تر دې دمه) د افغانستان یو مشرح تاریخ ولیکي چې زموږ ځوان نسل د هېواد د تاریخ د مخالفینو پر وړاندې د (رڼا او دفاع) جوګه شي.

اوس همدومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (ودان) اوښکه

دا لیکنه پر (۱۳۸۹ل) کال د افغانستان او هندوستان د کرکټ د ملي ټیمونو تر منځ د شل اوریزه سیالیو پر مهال شوې ده.

(ودان) زما کوچنی زوی، د ښوونځي د لومړي ټولګي زده کوونکی، په غوښه خوار خو په عقل پوخ دی، د خپل ټولګي اول نومره دی، هره ورځ چې له ښوونځي څخه کورته راځي نو ښوونکې یې پرمخ د لیاقت ستوري رسم کړي وي، د کتابچې په هره پاڼه کې ورته ښوونکې، افرین، ډېر ښه، Very good او excellent، لیکلي وي. خپلې کورنۍ دندې پرته له دې چې زه او یا مور یې ورته ووایو وخت پر وخت ترسره کوي. کله چې له ښوونځي راستون شي نو ژر تر ژره خپله کورنۍ دنده ترسره کړي، وخت ځانته سپما کړي، ددې یو علت شاید دا وي چې دی له ټلویزیون او کمپیوټر سره ډېره علاقه لري، په ټلویزیون کې یې ټول هغه چینلونه په نښه کړي چې سپورتي لوبې په کې وي او یا کارټوني نشرات لري، زما د ټلیفون څو سیټونه یې په ګېمونو خراب کړل، کله چې مې ټلیفون پرې بند کړ، نو ده راته وویل: ((د چا زوی چې اول نومره وي پلار یې هر څه ورته اخلي، خیر چې ټلیفون راته نه راکوې لیپټاپ راته واخله))، ما ویل کور کې ډیسکټاپ کمپیوټر شته، هغه کاروې! ده ویل: ((هغه ته ټوله ورځ سمسور (مشر ورور یې) ناست وي هغه مانه پرېږدي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل پرېږدي دې، ده ویل نه مې پرېږدي، ما ورته وویل څه که چېرې په کلنۍ ازموینه کې اول نومره شې، نو لیپټاپ درته اخلم، هغه اولنومره شو، نو ما هم ورسره خپله وعده پوره کړه، اوس نو پر لیپټاپ کمپیوټر دومره حاکم دی چې زه کله کومه پوښتنه ورڅخه کوم، نو موسکی شي مانا دا چې ته لا پر ډېرو شیانو نه پوهېږې. زه یې کله کله مور ته وایم چې دې د کمپیوټر نسل ته خو زه او ته دومره ساده ښکارو، لکه د غره سړی چې ښار ته راشي. هغه راته وایي، ما پورې هم کله کله خاندي ساده ورته ښکارو، دوی سره به څه کوو؟

په اکثرو کورونو کې د ټلویزیوني چینلونو د بدلولو واک له کوچنیانو سره وي، خو د ډرامو او تفریحي فلمونو پر سره د میندو او ماشومانو ترمنځ کله کله ټکر پېښېږي، ما په خپل کور کې درې ټلویزیونونه لګولي: یو د ماشومانو په خونه کې، یو په خپله خونه کې، یو په مېلمستون کې او په کتابتون کې مې کمپیوټر ایښی، هدف مې دادی کله چې د ماشومانو او زموږ د ذوق ترمنځ اختلاف راځي، نو چې هر یو د خپلې خوښې چینل ته لاسرسی ولري. پر دې مابښام چې د افغانستان او هندوستان ترمنځ د کرکټ لوبه مستقیماً ښودل کېدله، زه خپله خونه کې ټلویزیون ته کېناستم، لمر، شمشاد او نورو ټلویزیونونو لوبه په مستقیم ډول ښودله، لوبه لومړی افغانانو پیل کړه، له هر ځایه ټلیفونونه راتلل! استاده! ټلویزیون ته کېنه ټلویزیون ته، ما ورته ویل ناست یم. زړه مو د خپل هېواد لوبډلې ته ډب ډب کاوه، له دعاګانو پرته مو نور هېڅ نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولاې، مېرمن به مې یوه شېبه په پخلنځي کې وه، یوه شېبه به یې زما په خونه کې ټلویزیون کاته، کله چې به افغانستان کومه نومره واخیسته نو دواړو به چکچکې کړې. مېرمن به مې همدا ویل، خدای خو دې افغانستان کامیاب کړي، ډېر غریبان یو، افغانستان قندول ډېر مظلوم دی. کله چې به د افغانستان کوم لوبغاړی وسوځېده، نو ددې په غږ کې به هم تغیر راغی.

زما مټ به یې کېکاږه خدای دې زموږ افغانان کامیاب کړي، زه به ورته ډوډی تیاره کړم یو ښه محفل به ورته ونیسم. ودان له هغې بلې کوټې رامنډه کړه، اغا! اغا دا (سمسور) او هیلو (مشره خور یې) ګوره! ما ټلویزیون ته نه پرېږدي، غږ مې کړ: وه هلکو پرېږدئ ودان، سمسور راغی اغا دی بیا کارتوني نیسي او (کشتی کج) نیسي موږ هغه نه غواړو، ودان بیا راغی ګوره اغا نه مې پرېږدي، ودان ته مو وویل راځه ماسره کېنه، نن د افغانستان او هند د کرکټ مسابقه ده، خدای دې وکړي چې موږ یې وګټو! زویه که موږ وګټله نو ښه تحفه درته اخلم، هلک راغی، زما څنګ ته کېناست، بالښت ته یې ډډه ولګوله او سر یې زما پر ولي کېښود، ما یې پر سر ورو ورو لاس راکښه، هلک ورو ورو لوبې ته متوجه کېده، ودان تر ما زیات پر کرکټ پوهېده، ماته یې ویل دوی ژر ژر او په تېزه توپ نه ولي؟ ما ویل زویه ولې یې خو هند ډېره تجربه لري هغوی شپېته کاله کېږي چې دا لوبه کوي او موږ او تاسې خو دا دی څلور پنځه کاله کېږي چې دا لوبه کوو، ودان وویل: اغا هند کې کافران دي که مسلمانان؟ ما ورته وویل زویه هند کې اکثریت

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوان اوسي خو مسلمانان هم په کې شته! ده بیا یو سوړ اوسېلی وکېښ، کله چې به لوبه د افغانستان په ګټه نه وه، نو دده پر روحیاتو به پوهېدم چې ورو ورو به په کې تغیر راته. دی به کله کله هغه ریفري ته چې سرې جامې یې پر تن وې ډېر په قهر شو، ویل یې خدای خو دې دا سور رېږی مړ کړي ټول کار په همده کې دی، دی زموږ دښمن دی، ما ویل نه زویه هغه خو ریفري دی، ده ویل نه د توپ مخه نیسي. رښتیا هم څو ځله داسې وشول چې د افغانانو توپ د ریفري ترڅنګ تېر شو او هغه به ځان بچ کړ. مېرمن خو مې چې څو شېبې نوره لوبه وکتله ویل یې زه د لیدو تاب نه لرم، که کوم ښه زېری و ما باندې غږ کړئ، افغانانو هند ته (۱۱۵) منډې هدف وټاکه. کله چې هندیانو لوبه پیل کړه، نو دا وخت ډوډۍ هم تیاره شوه، نو ما ویل چې لوبه خلاصه شوې نه وي، ډوډۍ نه خورو، زه او ودان کرکېټ ته ناست وو او هیله، سمسور، سوله او مور یې په خپله خونه کې، کله چې به افغانانو کوم هندي لوبغاړی اوټ کړ، نو ما او ودان به چکچک وکړ، ټولو به یوځل زموږ خونې ته رامنډه کړه، دا به یو ښه زېری و، خو د لوبې حالت ته مې چې کتل، د افغانستان د ګټې چانس ورو ورو کمېده، د ودان وضعیت هم ورو ورو خرابېده، پر ما یې هم ډېر بد تاثیر کاوه، کله چې د لوبې د پای شېبو ته رانږدې شو، نو د ودان حالت نور هم خراب شو، یو وخت چې ورته متوجه شوم، د هلک په سترګو کې د اوښکو ډنډ راڅرګند شو ورو ورو یې د ښي سترګې له کونجه یوه اوښکه راووتله! ما ویل زویه خیر دی بل ځل یې ترې ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله يې پرېږدو، دا خو اول ځل دی، دې وخت کې مې مېرمن (ارين يون) سوله (کشره لور مې) سمسور (مشر زوی مې) ټول زما خونې ته راغلل، مېرمن مې وویل وش افغانستان قندولک بايلوله! ما ویل بېچاره ګانو ډېر زور وواهه خو هېڅ چاره نه وه، دې وخت کې سمسور او سوله ودان ته متوجه شول، يو دم دواړه په خندا شول، اوهـ ودان خو ژاړي ودان ژاړي، چکچک يې کړ، د ودان په سترګو کې نورې اوښکې هم راغلې، شونډې يې مرۍ مرۍ شوې، ګوره اغا که نه ما باندې ريشخند وهي! پر هغوی په قهر شوم، چوپ شئ غلي شئ، تاسې خو نه پوهېږئ، دا خو مې هوښيار زوی دی، پر خپل هېواد يې زړه خفه شوی، دی خو دومره تکړه سړی دی، چې هم په صنف کې اول نومره دی او هم خپل هېواد ورباندې ګران دی تاسې په دې خبرو څه پوهېږئ، دی خو په هر څه پوهېږي، دی چې له خيره غټ شي په کرکټ ټيم کې يې داخلوم، ټولو هندوانو ته به ماتې ورکوي، بيا به يې وګورئ، مور يې هم پر هغوی په قهر شوه دواړو ودان مچ کړ، د لاسه مو کړ، غېږ کې مې ونيو ما ورته وويل زويه تاته ښې ډېرې تحفې اخلم او دې نورو ته هېڅ شی نه اخلم پرې چې دوی ته ښه زور ورکړي.

څو شېبې وروسته ډوډۍ ته لاړو، خو ډوډۍ هېچا ته خوند ور نه کړ، ډېره ترخه راباندې تمامه شوه، زه خپلې خونې ته راغلم، لږه شېبه وروسته ودان خپل قلم او کتابچه راواخيستل او د خپلې کورنۍ دندې پر ليکلو يې پيل وکړ. هلک بيا لکه چې د کرکټ کوم خيال کې تللی وي، څو شېبې وروسته بيا سولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمسور چغه کړه، اوه ودان ژاړي ودان ژاړي، ورمنده مې کړه، بیا پر هغوی سخت په قهر شوم، دواړه مې له غوږونو ونیول په خپلو بسترو کې مې ځملول، چوپ شئ بې ادبو، ودان په سلګو و، ګوره اغا دوی په ما ریشخند وهي، نور نو د خبرو نه و د زړه له درده یې ښه په خوټ خوټ وژړل، خپله کتابچه یې لاندې مخې ته نیولې وه، کله چې کتابچې ته متوجه شوم، نو د اوښکو څاڅکو د پنسل کرښې سره ګډې کړې او تورې لیکې یې د پاڼې بېلابېلو برخو ته غځولې وې، غېږ کې مې ونیو خپلې خونې ته مې راوړ، ډاډ مې ورکړ، ما ویل زویه ته چې لږ غټ شې په کرکېټ ټیم کې دې داخلوم، ټولو ته به له خیره سره ماتې ورکوې، د افغانستان غچ به له خیره اخلې، د رخصتۍ پر ورځ به درته ډېرې تحفې اخلم، هر شی چې ته غواړې هغه به درته اخلم، د هلک په وېښتانو کې مې ورو ورو ګوتې وهلې، یو وخت ماشومانه خوب هغه په غېږ کې نیولی و، پر ما هم د پرېشانۍ داسې خوب راغی چې له پرېمانه نهیلو سره مل و، ودان خپلې اوښکې وڅڅولې، خو ما او مور یې خپلې ګرمې اوښکې خپل زړه ته تېرې کړې او هېچا هم ونه لیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (ضمیر) پر مړینه ضمیر لړزیږي

دا یادښت د ځوانیمرګ لیکوال (احمد ضمیر علم دوست) پر مړینه پر (۱۳۸۹ل) کال لیکل شوی دی.

کله چې په یوه ټولنه کې (ضمیر) ژوندی وي، نو هغه ټولنه پرې روښانه وي، خو کله چې ضمیر مړاوی شي، په ټولنه کې د عدالت وړانګې هم تتې شي. زموږ (احمد ضمیر علم دوست) هم زموږ د ټولنې د ځوان کهول لپاره یوه رڼا وه او یوه ځلا وه؛ هغه هم (احمد) و، هم (ضمیر) و او هم (علم دوست) و، پر یوه وخت خدای(ج) موږ له دریو نعمتونو بې برخې کړو.



(ضمیر) د خپل (ضمیر) په رڼا کې د خپل ولس د سوکالۍ لپاره ډېر ((لوړ خیالونه)) او ((ژور فکرونه)) لرل، خو د مرګ قاصد هغه خپل لوړ (فکر) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

(تفکـر) تـه پرېښـود ، د هغـه د مینـې او فکـر خزانـه همداسـې ناسپړلې پاتې شوه. اوس نو د (ضـمير) لاروپـان پرتـه لـه دې چـې خپل (ضمير) ته د دعا لاسونه پورتـه کړي او مهربـاني کـورنۍ تـه يې د لوی خدای(ج) له درباره د لوی زغـم هيلـه وکړي، نـور هېڅ يې په وس کې نه شـته، کـه نـه خـو ټـول پـوهېږو چـې بـې (ضـميره) ژوند څومره ګران دی او سړی لـه کومـو تيـارو سـره مخـامخوي. لوی رب دې د (ضمير) د فکر او خيال ډيوه په دې نړۍ او د ابـدي ژوند ډيوه دې ورته په فردوس جنت کې بله لري.

د (ضمير) په مينه

يون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګ او فرهنګ
# په افغانستان کې

دا لیکنه مې پر (۱۳۹۰) ل کال د سارک هېوادونو د لیکوالو د ټولنې په غوښتنه د هغوی له خوا یو رابلل شوي علمي سیمینار ته لیکلې او ورلېږلې وه.

جنګ او فرهنګ د مانا او محتوا له مخې دوه متضادې کلمې دي. فرهنګ د یوې ټولنې یا یوه ملت د ټولې مادي او مانیزې شتمنۍ یوه مجموعه ګڼل کېږي او جنګ بیا داسې پدیده ده چې د یوه ملت ټوله مادي او معنوي شتمني له منځه وړلای شي. د جنګ او فرهنګ پر معنوي تضاد هغه ملتونه ډېر پوهېږي چې د غني فرهنګ خاوندان وو، خو جنګ ورځخه دا ټوله شتمني لوټلې وي. موږ (افغانان) د اسیا په زړه کې هغه ملت یو چې لرغونی کلتور او تاریخ لرو، خو د پېړیو په اوږدو کې جګړو زموږ د فرهنګ اکثره فزیکي او معنوي شتمني داسې له منځه وړي چې اوس یې یوازې د کتابونو په پاڼو کې نومونه ګورو. ان دا چې دا نومونه او ویاړونه لاکله کله د شک تر وهم او وېرې لاندې هم راځي.

پر افغانستان باندې د عربو، چنګېزیانو، انګرېزانو، روسانو او غربیانو د یرغلونو او د هغو پر وړاندې د جنګېدونکو افغانانو د جګړو له امله په متواتر ډول د افغانستان ډېره زیاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتوري شتمني لـه منځـه تللي، چې ددې ټولې لـه منځـه وړل شوې شتمنۍ څېړل ددې ليکنې په وس کې نه دي، خو زه غـواړم د خپل نسل او خپلې زمانې د يوه شاهد په توګـه هغې کلتوري شتمنۍ ته اشاره وکړم، چې لـه (۱۹۷۸ع) کـال بيـا تـر (۲۰۱۱ع) کال پورې يا په بشپړ ډول له منځه تللې يا زيانمنـه شوې ده. زه د هغو افغانانو په ډله کې يم چې د تېرې (۳۳) کلنې جګړې پـه ټول بهير کې په افغانستان کې پاتې شوی يم. مـا د جګړې هر ناتـار په خپلو سترګو ليدلی او د جګړې ډېرې ناخوالې مې په خپلـه لمس کړې دي. د همدې درې دېرش کلنې جګړې په ترڅ کې چې به هر کله د جګړې اور زموږ هر فرهنګي ميـراث تـر ستوني تېر کړ، نو زما پر زړه به لمبې شوې، قلم او کاغذ به مې راواخيست او هغه پېښنه به مې ثبت کړه. د همدې جګړه ييزو کلونو پـه بهير کې مې (د افغانستان فرهنګ تـه اوښتي زيانونـه)، (د مغزونـو فـرار)، (کلتـوري يـون) او (افغـاني اوسنۍ رسنۍ) بېلابېل اثـار وليکل. په دې اثارو کې اکثـرو هغـو فرهنګي ميراثونو تـه کتنـه شـوې چې د جګړې لـه امله يـا بېخي لـه منځـه تللي او يـا هـم زيـانمن شـوي دي. پـه دې ليکنـه کې زه غـواړم د افغانسـتان فرهنګ ته د اوښتو زيانونو يو نچوړ وړاندې کړم او پـه دې کې مې پيغام دا دی چې نړيوال زموږ پر فرهنګ د راغلې غمېزې لـه حجم او څرنګوالي څخه خبر شي، بل پيغام مې دادی چې نړيـوال د نړۍ په هر ګوټ کې چې وي بايـد د هـر ډول جګړې مخنيـوی وکړي او بـل پيغـام مې دادی چې فرهنګي شتمني کـه څـه هـم د دنيـا پـه هـر ګـوټ کې رامنځتـه شـوې وي، د ټول بشـريت ګـډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګه ګڼل کېږي؛ د ساتنې او پالنې لپاره يې بايد ټول په ګډه کار وکړي. افغانستان فرهنګ د تېرو دېرشو کلونو په ترڅ کې دومره زيانونه زغملي چې که پر هره برخه يې بحث وکړو جلا جلا اثار پرې ليکل کېدی شي، خو زه به دلته يوازې مهمو زيانمن شويو فرهنګي ميراثونو ته په لنډيز سره اشاره وکړم:

## ۱- ښوونځي:

ښوونه او روزنه د يوه هېواد د فرهنګ اساس جوړوي. کله چې په افغانستان کې جګړه پيل شوه، نو تر ټولو لومړی او سخت ګوزار يې پر همدې ښوونځيو وکړ. له (۱۹۷۸ع) کال څخه چې په افغانستان کې ګرمه فزيکي جګړه پيل شوه، بيا تر (۱۹۹۲ع) کال پورې په افغانستان کې د ټولو ښوونځيو شمېر د اوو زرو (۷۰۰۰) په شاوخوا کې وو. د څوارلس کلنې جګړې په ترڅ کې ددې ښوونځيو له جملې څخه درې زره پينځه سوه (۳۵۰۰) ښوونځي وسوځول شول. دا (۳۵۰۰) ښوونځي اکثره د هېواد په کليوالو سيمو کې وو چې د (ډاکتر نجيب الله) حکومت له کنټروله وتي وو او د (مجاهدينو) تر کنټرول لاندې ساحه کې وو. کله چې د (ډاکتر نجيب الله) حکومت ړنګ شو، مختلف او متفرق (مجاهدين) پر ښارونو خواره شول، نو په ښارونو کې پاتې ښوونځي هم اکثره له همغه برخليک سره مخامخ شول؛ يا ړنګ او يا هم زيانمن شول، د پاتې ښوونځيو ايله نيمايي برخه په نسبي ډول پرانيستي پاتې شوه چې په هغو کې هم درسي کيفيت ډېر ټيټ و. دې دورې نږدې څلورنيم کاله دوام وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریـــسې د طالبــانو رنـځ او کـړاو راغــی، هغــو نــو هغــه پــاتې ښوونځي هم په بله بڼه واړول، د ښـوونځیو درسي نصـاب یې لـه عصـري علومـو ځخـه دینـي علومـو تـه واړوه، نـږدې یـوولس سـوه(۱۱۰۰) ښـوونځي یې پـر سـوچه دینـي (مدرسـو) واړول. پـه دې ډول پـه افغانسـتان کـې د هـر سیاسـي نظام پـه بـدلون سـره د پوهنې بنسټونه زیانمن شول او دا لړۍ تر دې دمه روانه ده.

د نارسـمي ارقــامو لــه مخــې یــوازې لــه (۱۹۷۸ع) ځخــه تــر (۱۹۹۲ع) کـال پـورې لـږ تـر لـږه د اوه نـیم ملیونـه (۷۵۰۰۰۰۰) افغانانو د باسواده کېدو مخه نیول شوې. لـه (۱۹۹۲ع) ځخـه تـر (۲۰۰۰ ع) کال پورې هـم د همـدومره کسـانو د باسـواده کېـدو د مخنیـوي اټکـل کېـدی شـي. دا هغـه معنـوي زیـان دی چـې د یـو بشپړ نسـل زمانـه پـه غبـږ کـې نیسـي او جبران یـې هـم همـدومره وخت او په ملیاردونو ډالرو مالي لګښت ته اړتیا لري. که ځه هم لـه (۲۰۰۱ع) ځخـه بیـا تـر ننـه پـورې د افغانسـتان د معـارف پـه ډګر کې ډېر پرمختګ شوی؛ اوس پـه ټـول افغانسـتان کـې لـږ تـر لـږه یـوولس زره (۱۱۰۰۰) ښـوونځي فعـال دي چـې نـږدې اتـه اعشـاریه درې ملیونـه (۸،۳۰۰۰۰۰) زده کـوونکي پـه کـې زده کړه کوي او له هغې جملې ځخه (۳۰) په سلو کې یې نجونې دي.

د خصوصي ښوونځیو د جوړولو زمینه هم برابره شوې چې شمېر یـې اوس پـه ټـول هېـواد کـې نـږدې ځلـور سـوه (۴۰۰) خصوصـي ښوونځیو ته رسېږي. دې سره سره د افغانسـتان پـه زیـاتو سـیمو کې اوس هم د ښوونځیو د سوځوني لړۍ روانه ده. د همدې تېـرو لســو کلونـو پــه تــرڅ کــې لــږ تــر لــږه تــر دوه ســوه (۲۰۰) زیــات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځي سوځول شوي او همدا اوس (۲۲۱) ښوونځي تړلي دي. د هېواد په زياتو سيمو په تېره بيا په جنوب، جنوب لويديځ او ختيځ کې د وهم وېره خوره ده، په دې يادو سيمو کې د دوه نيم مليونه (۲۵۰۰۰۰۰) هغو ماشومانو د زده کړې مخه نيول شوې چې همدا اوس بايد ښوونځيو کې پر زده کړو بوخت واى.
د افغانستان پر معارف دا ناورين اوس هم روان دی، جګړې د تمدن او پرمختګ، په تېره بيا د پوهنې پر پرمختګ سخت ګوزار کړی او کوي يې. افغان ماشومان يې نه يوازې له پرمختګ، بلکې له خپل اساسي حق (تعليم) څخه هم محروم کړي دي. د نړۍ په کوم ګوټ کې به داسې پېښې کمې رامنځته شوې وي چې ماشوم دې د تعليم په خاطر د ژوند له حق څخه محروم شوی وي، خو افغان ماشومان ډېر ځله په دې ((ګناه)) چې ولې مو قلم او کتاب په لاس کې دی، ښوونځي ته روان ياست، وژل شوي، تېزاب پرې پاشل شوي او د بدن غړي يې پرې شوي دي. داسې ډېرې تراژيکي پېښې لرو چې دلته يې بيان د دې ليکنې له اوسېلې څخه وځي.

**۲- د لوړو زده کړو موسسې او علمي مرکزونه:**

د ښوونځيو ترڅنګ د هېواد علمي مرکزونه او د لوړو زده کړو موسسو هم پراخ زيانونه وزغمل، خو دا زيانونه د ښوونځيو هغو په اندول ډېر زيات نه وو. د لوړو زده کړو مرکزونه اکثره په لويو ښارونو کې وو. په افغانستان کې د ځوارلس (۱۹۷۸-۱۹۹۲) کلنې جګړې اور اکثره پر کليوالو سيمو متمرکز و، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۹۹۲ - ۱۹۹۵) کلونو کې بیا جګړې په لویو ښارونو کې زیاتې ګرمې وې، د همدې کلونو په ترڅ کې د هېواد د لوړو زده کړو موسسو او نورو علمي مرکزونو خورا درانه زیانونه وزغمل. یوازې کابل پوهنتون لږ تر لږه (۲۱) ملیونه درسي ساعتونه ضایع کړل او (۵۰) ملیونه ډالر مالي زیان یې وزغمه. کابل پلتخنیک، ګڼ شمېر ولایتي پوهنتونونو مسلکي انستیتیونو، د ښوونې او روزنې موسسو او نورو روزنیزو مرکزونو خورا درانه زیانونه وزغمل، تر (۵۰) زیات داسې علمي مرکزونه وو چې په ټولیز او نسبي ډول یې زیانونه وزغمل، کدرونه یې له لاسه ورکړل او د لسګونو زره محصلینو په درسي سیستم کې یې اخلال راغی. د طالبانو د حاکمیت په بهیر کې ښځینه قشر له تحصیلي بهیره حذف شو او په درسي نصاب کې اخلال نور هم پسې زیات شو. د طالبانو نظام تر سقوط وروسته له (۲۰۰۱م) کال راهیسې بیا تر (۲۰۰۱م) کال پورې د ټول هېواد په تحصیلي موسسو کې نوې ساه پوه شوه، پخواني علمي مرکزونه یوځل بیا ورغېدل، نوي پوهنتونونه او نوي علمي مرکزونه جوړ شول.

اوس د ټول هېواد په کچه د دولتي پوهنتونونو شمېر تر (۲۱) اوړي او د ښوونکو د روزنې او نورو لوړو زده کړو د موسساتو شمېر هم تر (۱۰۰) اوړي. د نویو قوانینو پر اساس د لوړو زده کړو خصوصي پوهنتونونه او موسسې هم د فعالیت حق لري. د تېرو لسو کلونو په ترڅ کې اوس په مرکز او ولایتونو کې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو تر (لسو) زیاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسسې جوړې شوې دي. اوس د ټول هېواد په کچه د لوړو زده کړو په موسسو او پوهنتونونو کې تر سل زرو (۱۰۰،۰۰۰) زيات محصلين زده کړه کوي، چې نجونې او هلکان دواړه په کې شامل دي. له لس کلن چټک پرمختګ سره سره بيا هم د هېواد په بېلابېلو سيمو کې لاهم د وهم او ډار سيوری خور دی او د امنيت په خرابېدو سره د ټولو پرمختګونو د له منځه تللو وېره شته.

### ۳- فرهنګي ټولنې او کتابتونونه:

په افغانستان کې د (۳۳) کلنې جګړې په ترڅ کې په سلګونو دولتي او نادولتي فرهنګي ټولنې زيانمنې شوې دي. جګړې د فرهنګي پرمختګ سرعت کمزوری کړی او د ګڼو ليکوالو او فرهنګيانو د راټوکېدو زمينه يې له منځه وړې ده. که څه هم (۱۹۷۸- ۲۰۰۰م کال) پورې په افغانستان کې د ازادو فرهنګي ټولنو شمېر ډېر زيات نه وو او اکثره فرهنګي ټولنو رسمي يا دولتي بڼه لرله، خو بيا هم په نارسمي ډول ځينې فرهنګي ټولنې موجودې وې چې فرهنګي کارونه يې کول، کتابتونونه يې لرل او روزنيز مرکزونه، خو جګړې د فرهنګي فعاليتونو زياته برخه زيانمنه کړه. يوازې د (۱۹۹۲م) کال د څو ورځنيو جګړو په ترڅ کې د هېواد د لويو علمي مرکزونو اکثره کتابتونونه لوټ شول. کابل پوهنتون چې په هېواد کې يو لوی مرکزي کتابتون درلود، نږدې دوه مليونه (۲،۰۰۰،۰۰۰) ټوکه کتابونه يې په څو ورځو کې لوټ شول. يوازې د کابل ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېلابېلو کتابتونونو او کتابپلورنځيو کې (۲۰) مليونه ټوکه کتابونه له منځه يوړل شول. د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د ټولو له منځه وړل شويو کتابونو شمېر تر دې هم زيات دی. د ټول ټال پنځوس مليونو (۵۰،۰۰۰،۰۰۰) ټوکو کتابونو له منځه تګ، کېدی شي د يوه پرمختللي هېواد لپاره ډېره غټه ضايع نه وي، ځکه هلته کېدی شي د څو عنوانو کتابونو عمومي شمېر مليونونو ټوکونو ته ورسېږي، خو په افغانستان کې له تعليمي کتابونو پرته چې شمېر يې لکونو ټوکو ته رسېږي، نور اکثره کتابونه له (۵۰۰-۵۰۰۰) ټوکو په شمېر چاپېږي، نو د دومره کتابونو، کتابتونونو، فرهنګي مرکزونو له منځه تګ او زيانمنېدل خورا درونډ فرهنګي زيان دی. له (۱۹۷۸-۲۰۰۰م) کال پورې د افغانستان فرهنګي ډګر ته خورا درانه زيانونه رسېدلي، خو له نېکه مرغه د تېرو لسو (۲۰۰۱-۲۰۱۱م) کلونو په ترڅ کې افغانستان په فرهنګي ډګر کې ډېر پرمختګ کړی دی. اوس د ټول هېواد په کچه تر (۵۰۰) زياتې ازادې فرهنګي ټولنې فعاليت لري چې ځينې يې خپلې ازادې رسنۍ هم لري، د دولتي فرهنګي ټولنو او مرکزونو شمېر هم سلګونو ته رسېږي، د کتابتونونو شمېر خو اوس زرګونو ته رسېږي. اوس د هېواد اکثره علمي، تعليمي او فرهنګي مرکزونه کتابتونونه لري. په لسګونو لويې چاپخونې او په سلګونو چاپي خپرنۍ موسسې فعاليت لري، چې که چېرې بيا پرې د جګړې سيوری راخور نه شي او افغانستان په همدې ډول فرهنګي پرمختګ وکړي، کېدی شي ډېره هيله ورته پيدا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴- مسلکي کادرونه**: افغانستان کې له (۱۹۷۸-۱۹۹۲م) کلونو پورې داسې حکومتونه وو، چې کمونيستي افکارو ته يې تمايل درلود او چې د شوروي اتحاد ملاتړ ورسره و، په دې دوره کې د څلورو سياسي مشرانو په مشرۍ څلور حکومتونه رامنځته شول، چې په مجموعي ډول دا ټول حکومتونه له اختناق سره ملګري وو، فکري ازادي او ديموکراسي په کې نه وه، هر حکومت له حکومتي وسايلو او زور څخه اعظمي ګټه اخيسته او خپل وسلوال او ناوسله وال مخالفين يې ځپل. دې حالت څوارلس کاله دوام وکړ. د هېواد يو زيات شمېر کادرونه يا زندانونو کې واچول شول او يا هم د هېواد پرېښودو ته اړ شول، د دې څوارلس کلن جنګ په اوږدو کې نږدې پنځه مليونه (۵۰۰۰۰۰۰) افغانان مهاجر شول، په دې کې هم يو زيات شمېر هغه افغانان شامل وو چې د لوړو او مسلکي زده کړو خاوندان وو. په دې بهير کې يوازې د کابل پوهنتون نږدې (۲۰۰)تنه استادان يا زنداني شول يا ووژل او يا هم مهاجرت ته اړ شول، په همدې مقياس د هېواد د نورو علمي مرکزونو مسلکي کادرونه هم محاسبه کېدی شي. په مجموعي ډول په دې څوارلس کلن بهير کې نږدې پنځوس زره (۵۰،۰۰۰) مسلکي کادرونه يا مهاجر شوي يا يې خپل مسلک پرې اينبی، يا زنداني شوي او يو زيات شمېر يې وژل شوي دي. د افغانستان په شان يو هېواد لپاره چې دا مهال يې ايله په سلو کې (لس) کسان د ليک لوست خاوندان وو، د دومره زيات شمېر کادرونو له لاسه ورکول يو نه جبېره کېدونکی زيان و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې (۱۹۷۹ - ۱۹۹۲م) کلونو په بهیر کې د حکومت مخالف ځواکونه چې د (مجاهدینو) په نامه یادېدل هم د حکومت په شان د مسلکي کادرونو په وژنې صرفه ونه کړه، دوی هم په زرګونو مسلکي افغانان له حکومت سره د همکارۍ او (چپي افکارو) د لرلو په تور ووژل، په تېره بیا ښوونکي. د هغو ښوونکو شمېر چې د مجاهدینو یا حکومت مخالفو ځواکونو له خوا په همدې موده کې وژل شوي (۳۰۰۰) تنو ته رسېږي. دې ډلو په لغمان ولایت کې پر یوه ورځ (۹) تنه ښوونکي د تدریس په تور ووژل. هغه مسلکي افغانان چې پاکستان ته مهاجر شوي وو هغوی هم د ترور له بلا خلاص نه شول، څرګنده بېلګه یې نومیالی افغان فیلسوف (پوهاند سید بهاالدین مجروح) دی چې په (پېښور) کې ترور شو. کله چې دا ډلې پر (۱۹۹۲م) کال پر کابل ښار او نورو لویو ښارونو راشېوه شوې، نو د لوټ او تالان یو بې مثاله حالت رامنځته شو. یوازې په کابل ښار کې یې (۲۵) زره کسان ووژل، دا مهال یو ځل بیا د عامو افغانانو او مسلکي کادرونو د فرار لړۍ پیل شوه، افغانستان یو ځل بیا په زرګونو مسکلي کادرونه له لاسه ورکړل. (څلورنیم) کاله دې حالت دوام وکړ. دې پسې د طالبانو دواکمنۍ لړۍ پیل شوه، هغوی بیا په زرګونو مسلکي کادرونه له دندو لرې کړل او پرځای یې طالبان او ملایان مقرر کړل. طالبانو یوازې اووه دېرش زره (۳۷۰۰۰) ښځینه مامورینې، چې اکثره یې ښوونکې او د لوړو زده کړو خاوندانې وې، له دندو ګوښه کړې او پر کور یې کېنولې. په دې ډول هغه ناتار چې له (۱۹۷۸ع) کال څخه تر (۲۰۰۰ م) کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې د افغانستان پر کادري ټولنه خور و، د طالبانو نظام په سقوط سره پای ته ورسېده. له (۲۰۰۱- ۲۰۱۱م) کال پورې اوس د افغانستان په کدري برخه کې ډېر پرمختګ شوی، نه يوازې د هېواد په داخل کې پوهنتونونه او د لوړو زده کړو نور مرکزونه ورغول شول، فعال شول او زيات شول، بلکې اوس هر کال تر دوو زرو (۲۰۰۰) زيات افغانان د لوړو زده کړو؛ ليسانس، ماسټرۍ، او دوکتورا لپاره نورو هېوادونو ته لېږل کېږي. هغه افغان مسلکي کادرونه چې د بېلابېلو يادو عواملو له امله مختلفو هېوادونو ته مهاجر شوي وو، د زرګونو په شمېر بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي، خو بيا هم افغانستان ته لا ډېر زماني واټن پاتې چې خپله کادري خلا ډکه کړي.

**۵- رسنۍ:** په افغانستان کې د (**۱۹۷۸-۱۹۹۵**) کلونو تر منځ افغاني رسنۍ په پرله پسې ډول زيانمنې شوي. د همدې کلونو په بهير کې افغانستان کې ازادې رسنۍ نه وې، اکثره دولتي رسنۍ وې او پر هغو باندې هم فکري اختناق واکمن و. پر (۱۹۷۸م) کال په ټول هېواد کې يو سراسري ټلويزيون او يوې عمومي راډيو خپرونې درلودلې، وروسته بيا محلي دولتي راډيو ټلويزيونونه چې همغه مرکزي نشرات او يو څه خپل محلي نشرات يې درلودل، فعال شول، دا وخت په ټول هېواد کې د چاپي رسنيو شمېر تر (۲۰۰) عنوانو اوښته خو په ټولو رسنيو کې د حاکم نظام افکارو انعکاس کاوه. پر (۱۹۹۲م) کال چې جهادي ډلې کابل ښار او نورو لويو ښارونو ته داخلې شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د نورو دولتي تاسيساتو د زيانمنېدو ترڅنګ، ټولو رسنيو په تېره بيا دولتي راډيو ټلويزيون تاسيساتو ته خورا درانه زيانونه واوښتل. چاپي رسنۍ اکثره په ټپه ودرېدلې، د دولتي راډيو ټلويزيون اکثره تاسيسات له منځه لاړل، د بېلګې په توګه د غزني ولايت د راډيو ټلويزيون تاسيساتو، ودانيو او تجهيزاتو يو نيم مليون، د مقر ته يو مليون ډالره، د پکتيا ولايت ته يو مليون ډالره، قلات ته يو مليون دالره، کندهار ته يو مليون ډالره، هلمند ته يونيم مليون ډالره، هرات ته نيم مليون ډالره، فراه ته نيم مليون، نيمروز ته نيم مليون او ننګرهار راډيو ټلويزيون ته ته دوه مليونه ډالره زيان واوښت، همدارنګه نورو سيمو کې همدا ډول زيانونه، په مجموعي ډول پر لويو ښارونو باندې د جګړې د راغلي ناتار له امله په ټول افغانستان کې د راډيو ټلويزيون، ودانيو، تاسيساتو او تجهيزاتو ته (۲۵۲) مليونه ډالره زيان اوښتی. د (۱۹۹۲-۱۹۹۵م) کلونو په بهير کې د راډيو ټلويزيون اکثره پروګرامونه په ټپه ودرېدل او ډېر کم نشراتي فعاليت يې درلود. په لسګونو مامورين، انجنيران او مسلکي اشخاص يې مهاجرت ته اړ شول او ځينو نورو يې خپلې دندې له لاسه ورکړې. پر (۱۹۹۶م) کال طالبان واک ته ورسېدل، د دوی واک پر رسنيو يو بل ګوزار و، طالبانو پر رسنيو چورلټ بنديز ولګاوه، په تېره بيا پر تصويري رسنيو. په چاپي رسنيو کې هم د ژيروحو اجسامو د عکسونو خپرېدل منع شول، يوازې د (شريعت غږ) په نامه يوې سراسري راډيو، څو محلي راډيوګانو او د ټول هېواد په کچه تر (۲۰) عنوانو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپي خپرونو فعالیت درلود. راډیوګانو یوازې مذهبي ترانې، خبرونه او د طالبانو د نظام د چارواکو نظرونه خپرول، چاپي رسنۍ هم همدغه شان وې. د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې تر دې بله تنګه دوره نه ده تېره شوې. د طالبانو د نظام د سقوط په وروستیو شپو ورځو کې د امریکایي الوتکو د بمبارۍ په وجه د راډیو ټلویزیون تاسیساتو ته نور زیانونه هم واوښتل او د زیانونو لړۍ تر همغه وخته راورسېده.

کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، د افغاني رسنیو په تاریخ کې بې سارې پرمختګ څرګند شو. د رسنیو قانون جوړ شو او د هغه په رڼا کې اوس په هېواد کې، ډول ډول چاپي، غږیزې، انځوریزې او انټرنېټي رسنۍ فعالیت لري چې د کمیت له پلوه په کې ډېر زیات او د کیفیت له پلوه هم په کې پاموړ پرمختګ شوی دی.

اوس د ټول هېواد په کچه پر دولتي راډیو ټلویزیون سربېره چې په مرکز او ولایتونو کې خپرونې لري، تر (۴۰) زیات شخصي ټلویزیونونه فعالیت لري. (۱۳۰) اف ام خصوصي راډیوګانې په ټول افغانستان کې فعالې دي، چاپي رسنۍ تر (۱۰۰۰) عنوانو اوړي او د انټرنېټي وېبپاڼو شمېر هم سلګونو ته رسېږي، که څه هم له کمي او کیفي پلوه خورا پرمختګ لیدل کېږي، خو بیا هم د افغانستان د رسنیو اوسنی پرمختګ تضمین نه دی. د نظام په بدلون، سقوط، د بهرنیو ځواکونو په وتلو او یا هم د جنګسالارانو د واک په زیاتېدو سره دا پرمختګ له ستر ګواښ سره مخامخېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶- تاریخي ودانۍ او اثار**: په افغانستان کې د فرهنګ د نورو ډګرونو د زیانمنېدو ترڅنګ، تاریخي ودانیو، څلو، ښارونو او نورو تاریخي اثارو هم خورا درانه زیانونه لیدلي دي، داسې زیانونه چې ځینې یې په ډېر لګښت د بیا رغېدو امکان لري، خو ځینې د ابد لپاره د افغانستان له لاسه ووتل. د هغو ودانیو شمېر لسګونو ته رسېږي چې افغانستان ته یې تاریخي ارزښت درلود، خو جګړو پرې اورونه بل کړل، دا ودانۍ په ولایتونو کې هم وې او په کابل ښار کې هم چې د ټولو یادونه یې دلته ممکنه نه ده. د کابل د تاجک بیک تاریخي ماڼۍ، د چهلستون بڼ او ماڼۍ، د دارالامان ماڼۍ، د استالف ماڼۍ، د ارګ د دلکشا ماڼۍ، د ملي ارشیف ودانۍ او نورې چې له تاریخي پلوه یې خورا ارزښت درلود، ټولې زیانمنې شوې دي. د دارالامان ماڼۍ د (۳۳) کلونو په ترڅ کې دوه ځله زیانمنه شوه، وروستی زیان یې د (۱۹۹۳-۱۹۹۵م) کلونو کورنیو جګړو کې ولید چې یوه زیاته برخه یې ونړېدله. اوس ددې ودانۍ د بیا رغونې پلان جوړ شوی، چې (۱۷) ملیونه امریکایي ډالره لګښت پرې راځي، په همدې مقایس مونږ نورو تاریخي ودانیو ته د ور اوښتي زیان کچه هم معلومولای شو.

د جګړو او طبیعي حوادثو په بهیر کې تر (پنځه لسو) داسې تاریخي څلي او منارونه زیانمن شوي چې د افغانستان تاریخ ته یې زیات ارزښت درلود، د بېلګې په توګه د (چکرویو) منار چې عمر یې لومړیو میلادي پېړیو ته رسېده او دا یو بودایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینار و چې د توغندیو د لګېدو له امله زیانمن شوی و او د (۱۹۹۸م) کال په اپریل کې ونړېد. په (۱۲میلادي) پېړۍ کې د غزنویانو منارونه، د غوریانو جام مینار او نور په لسګونو منارونه یا په بشپړ ډول له منځه وړل شوي او یا زیانمن شوي دي. نور نو د هېواد داسې تاریخي ځلې او منار نه شو لیدلی چې د هغه پر زړه او ګوګل دې د مرمیو داغونه نه وي لګېدلي.

د تاریخي ودانیو ترڅنګ تاریخي نندارتونونه هم خورا زیانمن شول او ان ځینې له منځه لاړل. په کابل ښار کې د افغانستان د لاسي صنایعو، قیمتي ډبرو او نظامي توکو پینځه لس بېلابېل نندارتونونه وو، چې خورا قیمتي او تاریخي اثار په کې ایښودل شوي وو. هر کال په زرګونو کسانو ددې نندارتونونو لیدنه کتنه کوله او د افغانستان د خلکو د بریاوو له بېلابېلو ډګرونو خبرېدل. کله چې پر (۱۹۹۲م) کال د کابل ښار د کابل ننداري په سیمه کې جګړه پیل شوه، نو دا ټول پنځه لس ننداړتونونه په کې وسوځېدل. په زرګونو اثار یې یا لوټ شول او یا هم د اور خوراک شول، یو ملت چې د پېړیو په اوږدو کې د لاس کومې ننبې او بریاوې درلودلې، دا ټولې د جګړې ښامار پر یوه ورځ له ستوني تېرې کړې. ددې ننداړتونونو مادي او معنوي ارزښت تر تصور پورته و.

د جګړې د ښامار ګېډه پر ننداړتونونو هم مړه نه شوه، د افغانستان داسې شتمنۍ ته یې ځان ورسوه چې افغانان به یې بیا هېڅکله هم خاوندان نه شي، موزیمونه یادوم، ملي او سیمه ییز موزیمونه. د جګړې په بهیر کې پنځه سیمه ییز: میمنې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرات، کندهار، ننګرهار او بلخ موزیمونه زیانمن شول، خو مرکزي او ملي موزیم چې د زیاتو تاریخي اثارو لرونکی و، د جګړې پر ډګر بدل شو. د سیمه ییزو موزیمونو له جملې څخه به یوازې د ننګرهار د هډې نامنقول موزیم یادکړم او بیا به د ملي موزیم غم لړلی داستان ته لاړشم.

د هډې نامنقول موزیم د ننګرهار د جلال اباد ښار په ختیزې څنډه کې پروت دی. په دې نامنقول موزیم کې د بودایي عصر داسې اثار ایښودل شوي یا جوړ شوي وو چې د خپل جوړښت او نوعیت له پلوه یې په افغانستان کې د بامیانو تر تاریخي بتانو وروسته ډېر زیات تاریخي ارزښت درلود. دا موزیم د (۱۹۸۱م) کال په جګړو کې د جهادي تنظیمونو له خوا په کنډوالو بدل شو، تر جګړو وروسته بیا هم په دې ځای کې ناقانونه کېندنې وشوې او یو شمېر هغه اثار چې تر ځمکې لاندې وو، هغه هم په نافني ډول وکېنل شول او د تاریخي اثارو د قاچاقوړونکو لاس ته ورغلل، اوس دا سیمه یوازې د یوې مخروبې حیثیت لري.

بل ډېر ستر زیان چې جبیره یې ناممکنه ده هغه د افغانستان ملي موزیم او د افغانستان د اردو موزیم و. د افغانستان د اردو موزیم د دارالامان په سیمه تاج بېک ماڼۍ کې و. په دې موزیم کې له لرغوني زمانې بیا تر (۱۹۹۲م) کال پورې په بېلابېلو جګړو کې د افغانانو او د هغو د مخالفو پردیو عسکرو له خوا د کارېدلو وسلو بېلګې خوندي وې ، د افغانستان د شاهانو تختونه، مېزونه، څوکۍ، لاس توري او لباس خوندي وو. دا هر څه د اور خوراک، لوټ او تالان شول. په همدې سیمه کې؛ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارالامان تاریخي ماڼۍ مخې ته د افغانستان د ملي موزیم ودانۍ وه. د افغانستان ملي موزیم د سیمې له مهمو موزیمونو څخه یو و، په دې موزیم کې سل زره (۱۰۰۰۰۰) ټوټې بېلابېل اثار وو، چې د ځینو عمر یې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کالو ته رسېده.

د جګړو په لومړیو وختونو کې په سیستماتیک ډول د بېلابېلو جګړه مارو له خوا د موزیم اثار ولوټل شول. د موزیم په سلو کې اویا (۷۰) تاریخي اثار لوټ شول. پر (۱۹۸۸م) کال شبرغان ته نږدې د طلا تپې له غونډۍ څخه د (۲۱) زرو طلایي سکو حیرانوونکې خزانه لاسته راغله. دا خزانه هم د افغانستان د ملي موزیم برخه وه. تر (۱۹۹۲م) کابل تر جګړو دمخه د وخت د حکومت مشر ډاکتر نجیب الله د جګړې د احتمالي خطر له امله د ملي موزیم له مشر سره پرېکړه وکړه چې دا مهمه خزانه باید له موزیم څخه یوه خوندي ځای ته انتقال شي، دا خزانه پر همغه وخت (د افغانستان بانک) محفوظو ځایونو کې چې د افغانستان د جمهوري ریاست د ارګ ماڼۍ ته لاره لري، خوندي شوه، خو په دې راز هېڅوک خبر نه وو، همغه و چې دا مهمه خزانه د لوټمارو له لوټه خوندي پاتې شوه. اوس دا خزانه اروپا، امریکا او د نړۍ نورو سیمو ته د ننداریې لپاره وړل کېږي. د نړۍ ګڼ شمېر سیلانیان هغه ګوري او له دې لارې افغانستان پاموړ ګټه ترلاسه کوي.

د ملي موزیم ترڅنګ د افغانستان ملي ارشیف هم د جګړې له ناتاره خوندي پاتې نه شو. د افغانستان د ملي ارشیف د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثارو شمېر زرګونو ته رسېږي. د افغانستان په ملي ارشيف کې د سوو کلونو تاريخي اثار خوندي دي، په تېره بيا د اسلامي دورې اثار. له نېکه مرغه چې د ملي موزيم په پرتله ملي ارشيف ته د غلو کم لاس رسېدلی، خو د جګړې د ناتار له امله د ملي ارشيف د اثارو خونديتابه ته ډېره توجه ونه شوه او يو شمېر اثار يې له همدې امله زيانمن او له منځه لاړل. خو د ملي ارشيف نورې ولايتي څانګې بيا ډېرې زيانمنې شوې.

د افغانستان د تاريخي اثارو او ملي هويت د ښکارندويي بل مرکز د افغانستان ملي ګالري وه چې د (۱۹۹۲م) کال جګړو پرې خورا ناوړه اغېز وکړ. پر (۱۹۹۲م) کال په ملي ګالرۍ کې د نقاشۍ، ميناتورۍ، مجسمې او ظريفه اثارو (۵۹۲) بېلابېل اثار موجود وو، چې په کابل کې د جګړو د پيل له امله ددې اثارو يوه پاموړ برخه يا زيانمنه شوله او يا د غلو له خوا لوټ شوه.

د پورتنيو يادو او مهمو تاريخي اثارو د زيانمنېدو ترڅنګ بله ډېره ستره او نه جبرانېدونکې فرهنګي ضايعه چې افغانستان ته پېښه شوه، هغه همغه د باميانو تاريخي بتان وو چې طالبانو د خپل حاکميت په اوج کې ونړول، دا تاريخي اثار نه يوازې په افغانستان، بلکې په سيمه او نړۍ کې بې سارې وو. د باميانو بتانو لومړي يې (۵۳) او بل يې (۳۵) متره لوړوالی درلود. له (۳-۵) ميلادي پېړيو ترمنځ موده کې جوړ شوي وو او د بودايي دورې شهکارونه ګڼل کېدل، خو طالبانو د افغانانو د تاريخ دا ستر ارزښت د خپلو افراطي افکارو په اور کې وسوځوه. طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کار سره نه يوازې افغانان، بلکې ګرده نړۍ وځوروله. د باميانو ددې تاريخي بتانو له نړولو سره د طالبانو واکمنۍ هم په نړېدو شوه. افغانان به ډېر له لاسه ورکړي شيان بيا ترلاسه کړي، خو داسې تاريخي اثار به بيا هېڅکله ترلاسه نه کړي. داسې نورې په سلګونو او زرګونو فرهنګي غميزې چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې پېښې شوي، خو ما يې يوازې د ځينو هغو لنډيز دلته راوړ.

له پورته ورې ليکنې څخه دا جاج اخيستلای شو چې جګړه له فرهنګ سره څومره تضاد لري، جګړه څنګه کولای شي چې د (۲۰۰۰) کلونو په بهير کې يو جوړ شوی ميراث د سترګو په رپ کې له سترګو پناه کړي. موږ هغه ملت يو چې ډېر څه مو لرل، خو اوس ډېر څه نه لرو، يا مو بايد ډېر څه لرلای خو اوس هېڅ نه لرو، دا ځکه چې د جګړې ښامار همېشه زموږ د فرهنګ پر ځالې اور بل کړی او زموږ د فرهنګ بلبلان اواز او الوت ته نه پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خوشال پوځي نړۍ لید

دا لیکنه ما پر (۱۳۹۱ل) کال د خوشال په باب د ښاغلي (علي احمد جلالي) پر یو کتاب (د خوشال خان خټک د عصر او چاپېریال پوځي څېړنه) پر اثر کړې وه او د نوموړي کتاب د مخکتنې په غونډه کې اورول شوې ده

یا د سپینو تورو مرد شه یا عاشق شه
چې یاد بړي په بدلو په سندرو
د خوشال خټک خوښي به هغه وخت شي
چې بربښنا د سپینو تورو شي یا زغرو.

د خوشال بابا په باب دا خبره عامه ده، چې یو څو اړخیز شخصیت دی. رښتیا هم کله چې څوک بابا مطالعه کوي، نو ورته ځرګند بړي، چې خوشال بابا هم شاعر دی، هم لیکوال، هم ادیب دی هم ادبپوه، هم سیاستپوه دی او هم سیاستوال، هم صوفي دی، هم فلسفي، هم رنځپوه دی هم ټولنپوه، هم قومي مشر دی، هم ټبر پوه، هم ښکاري دی هم ښکار پوه، هم د ځان نقاد دی هم د ټولنې، هم عالم دی هم د علم لېوال، هم خطاط دی هم لیکپوه، هم ارواه پوه دی هم دینپوه، هم خان دی او هم د غریبانو یار، هم پرځان خبر دی هم پرجهان، هم جنګیالی دی هم توریالی، هم سرتېری دی هم جنرال، لنډه دا چې زموږ خان څه نه دی چې نه دی. نو په همدې خاطر خوشالپوهانو په لنډه مانا زموږ خان ته د فرهنګیالي او توریالي خان یا د تورې او قلم


(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند لقب ورکړی دی. د خان د ژوند ، مبارزې او اثارو په باب تراوسه پورې نړۍ دوه زره بېلا بېلې لیکنې شوي او نړۍ پنځوس ځانګړي اثار لیکل شوي، خو بیا هم خان لکه د علم د ښار او کان په شان لا د نړۍ نوي خبرې لري او لا هم نوري څېړنې، سپړنې، شننې او ځلونې ته اړتیا لري. خوشال د یو نړیوال شاعر او لیکوال په توګه د نړۍ له هر لوی لیکوال او شاعر سره یوازې د یو شاعر او لیکوال په توګه د پرتلنې وړ دی، خو که د خوشال د څو اړخیز شخصیت ټول بعدونه د یوې مجموعې په توګه پام کې ونیسو، نو له مبالغې پرته په زغرده ویلای شو، چې د نړۍ هېڅ لیکوال او شاعر ورسره د پرتلنې او سیالۍ جوګه نه دی. د نړۍ تېر ستر شاعران او لیکوال چې نړۍ یې لا اوس هم د افکارو له ځلا او ښکلا څخه خوند اخلي، یوازې د شاعر او لیکوال او یا هم د ژوندانه د یو یا څو نورو ډګرونو د مفکرینو په توګه مطرح دي، خو زموږ د خان په شان داسې نه دي، لکه د علم او هنر د یو کان په شان چې هر څو مره یې سپړو لا هم نورو خزانو ته لار مومو. دوه ستر ممیزات او نعمتونه چې د نړۍ د نورو ژبو له ادبیاتو څخه د پښتو ادبیاتو ځانګړې ښکلا جوتوي؛ یو یې پښتو لنډۍ دي چې د نړۍ په نورو ژبو کې یې ساری نه لیدل کېږي او بل زموږ همدا لوی خان؛ خان علین مکان خوشال بابا دی. نادره خبره به وي چې پښتانه او نړۍ بیا داسې، ننګیالی، فرهنګیالی او توریالی انسان وټوکوي، خو د پښتو متل دی چې د خوار ملا په اذان څوک روژه نه ماتوي؛ هغه ملت او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولس چې خپله تر خاورو لاندې وي، اتل به يې هم د زمانې په گردونو کې پټ وي.

د خان د گڼ اړخيز شخصيت يو اړخ د هغه پوځي شخصيت دی.




د خان د پوځي شخصيت، چاپېريال، عواملو او دلايلو په باب لکه څنگه چې لازمه او ضروري ده، ډېرې ليکنې نه دي شوي، البته د خان پوځي کرونولوژي ترتيب شوې، خو د جگړو د بېلابېلو اړخونو، ټولنيزو، سياسي، اقتصادي او تاريخي عواملو په باب ډېرې ليکنې نه دي شوي. سره له دې چې د خوشال د شخصيت بېلابېل اړخونه پر توره او قلم ولاړ دي، د قلم اړخ يې څېړل شوی، که څه هم لا نورې څېړنې ته اړتيا لري، خو د تورې چاپېريال يې تت دی. ددې کار يو علت شايد دا وي چې موږ د پوځي چارو د څېړنې او ارزونې لپاره لږ متخصصين او کارپوه ليکوال لرو، که ليکوال ولرو نو بيا د پوځي چارو داسې ماهرين او څېړونکي نه دي چې له سياسي، پوځي، ټولنيز او تاريخي پلوه يوه موضوع ښه وڅېړي او يا هم که د پوځي چارو کارپوهان ولرو، د ليکوالۍ تخنيکي او فني عناصر يې کمزوري دي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې وجه نه یوازې د خوشال بابا، بلکې د پښتنو د نورو پوځي اتلولیو د مبارزو بېلابېل ډګرونه هماغسې تت پاتې شوي دي. د خپلو تورو په ځلونه کې موږ تر خپلو لرې او نږدې سیالانو ډېر شاته پاتې یو. له نېکه مرغه نن تر مودو وروسته موږ د یوې داسې هڅې شاهدان یو چې توره او قلم په کې دواړه غاړه غړې دي، د یو مسلکي جنرال او لیکوال له خوا، د خپل وخت د یوه نابغه لیکوال او مارشال د پوځي فعالیتونو د بېلابېلو اړخونو ژوره علمي څېړنه او شننه ګورو.

ښاغلي پروفیسور علي احمد جلالي ((د خوشال ختک د عصر او چاپېریال پوځي څېړنه)) د خوشال بابا په یوه شعر پیل کړې:

(( چې مغولو ته مې وتړله توره
درست پښتون مې و عالم وته ښکاره کړ
اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شو
کنه ما به د مغول ګرېوان پاره کړ.))

ښاغلی جلالي د دغه شعر په شننه کې وايي: ((د خوشال ختک دغه منظوم کلام که له یوې خوا په لنډ عبارت د هغه نومیالي پښتون د اوږدو مبارزو اغېزې او پایلې څرګندوي، نو له بله پلوه په دې مضمون کې د هغه لښکري ځواک، او داخلي کمزورتیا انعکاس پروت دی، چې په قبیلوي ټولنیز نظام باندې اتکا لري او له یوې مسلطې فیوډالي واکمنۍ سره یې د پوځي ازماینښت په ډګرونو کې د تکتیکي نتایجو په منځ کې د اړیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نشتوالي او بېلتون په وجه، مجموعي اغېزې هېڅکله په يوه ستراتيژيک لوري توجيه نه شوې او په نتيجه کې، د زياتو تکتيکي برياليتوبونو له ګټلو سره سره يې، ستراتيژيک مرام په مطلوب ډول ترسره نه شو.))

دا هغه تحليلي خبرې وې چې له پورتني شعر څخه يې الهام اخيستی، ليکوال د يوه پوځي په توګه د خوشال د چاپېريال په درک سره يو داسې تحليل وړاندې کړی، چې د خوشال له زمانې څخه بيا تر دې دمه پورې يې نتيجه يوه ده؛ هغه قوم چې د زمانې په بهير کې په تکتيکي جګړو کې بريالی وي، داسې تکتيکي جنګونه چې يو بل سره ارګانيک او سيستماتيک اړيکي ونه لري او په ټوله کې يوه واحده او دقيقه ستراتيژي تعقيب نه کړي، نو سترو هدفونو ته نه شي رسېدلی.

ښاغلي جلالي په خپل دې اثر کې د خوشال د چاپېريال حال او تر هغه لږ وړاندې ماضي، د جګړې او سياليو بېلابېل طرفونه، د جګړې تخنيک او وسايل، د جګړې ميتودونه، د خوشال په نظر د جګړې موثرې لارې چارې او ټول هغه پوځي اتموسفير تشريح کوي، چې خوشال په کې ژوند کړی او پوځي مبارزې ته اړ شوی دی.

خوشال په يوه ډېر تنګ چاپېريال کې پوځي مبارزه پيل کړه، له يوې خوا له مغولي واکمنۍ سره چې د تورې او قلم، فيوډالي مناسباتو او يوې سياسي ستراتيژۍ څخه برخمنه وه او ان د تورې په انډول يې د فرهنګ تله درنه وه، له خپلمنځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافاتو لرې او له بلې خوا يې پانګه او شتمني په لاس کې وه، خوشال بيا د يوه داسې قوم سرلښکر او جنرال و، چې کورني اختلافونه يې د ټولنې زړي وو، د پوهې کچه يې له تورې سره موازي نه وه، د تورې پر وړاندې ورته خپل او پردي يو شان وو، نو په داسې يوه اغزن چاپېريال کې د يو جنرال ظهور او بريا تر تصوره پورته کار و. که د خوشال د زماني سختې بدبختي، د پښتنو ټولنيز چاپېريال، قبيله يي رقابتونه او نورې ستونزې په پام کې ونيسو او بيا داسې يو شخص چې له دې ستونزو څخه د راوتو لاره په ګوته کړي او د يوه غښتلي دښمن پر وړاندې په ټينګه ودرېږي، دريځ او حالت په پام کې ونيسو ، نو په زغرده ويلای شو چې خوشال د خپل وخت يو ستر پوځي جنرال او مارشال و. د مغولو ستر واکمن ظهيرالدين بابر به ويل چې له پښتنو څخه هېڅکله مه وېرېږئ؛ د هېڅ مغول توره د خپل مغول په وينو سره نه ده، خو د پښتون توره همېشه د خپل پښتانه په وينه سره ده، د بابر ددې خبرې تفسير دا و؛ پښتون هغه قوم دی چې واک و ځواک يې د خپل ورور په وژنه مصرفېږي. د مغولو د بريا راز په اتفاق او د پښتنو د بدمرغۍ عامل په بې اتفاقۍ او لنډ فکرۍ کې نغښتی و. بابا وايي:

چې بنياد يې پيدا شوی په نفاق
له هغو نه طمع مه کړه اتفاق.

***

تفحص که څوک د خوږو زړونو کاندي
د خپل قام له لاسه ورک خوشال خټک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

کــه هــر څــو يــې ســمومه نــه ســمېږي
پښـــتانه دي د کـــرږو تيـــرږو د پـــوال

***

پښـــتانه لکـــه مګـــس وربانـــدې ګرځـــي
ورتـــه ايښـــی دی مغـــول د حلـــوا تـــال

***

درســت جهــان پــه ناپوهــانو ســره ډک دی
ولــې زيــات کــه پــه کــې وګــورې افغــان دی

***

کـه پـه نـور خلکـو کـې ښـه سړي مونده شي
ولـــې ښـــه ســـړي بـــه لـــږ وي افغانـــان

خوشال بابا پر يو مهال له څو بېلابېلو ستونزو سره په جګړه کې و.

جلالي صيب د خوشال بابا د زمانې دغه ستونزمن چاپېريـال پـه هر اړخيز ډول تحليل کړی دی، دا سې نتيجه وړاندې کـوي چـې پر قبيلوي جګړې باندې د امپراتورۍ قدرت، ستراتيژيک لاس بری لري، خو په سيمه ييزو شرايطو کې د امپراتـورۍ پـر جنګـي ماشين باندې د قبيلو پرګنيز جګړه ييز ځواک تکتيکي تفوق ترلاسه کوي. دی د مغولو پر وړاندې د پښتنو تکتيکي بريا هغـه سېلاب ګڼي، چې تر چټک حرکت وروسته په سيند بدلېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن ته د بیا فعالیت مجال ورکوي، دی وایي پښتانه ((په خپل وطن او ننګ مین، ښه مېړني، زړور او جنګیالي سپاهیان وو، چې د سېلاب په شان به په غلیم راکوز شول، د جګړې ډګر به یې وګاټه، مګر وروسته له هغه به یې د تشکیلاتي کمزورتیا او داخلي بېلوالي په وجه، د هرې تکتیکي ګټې اغېزه له بلې تکتیکي اغېزې سره ونه تړل شوه او په پای کې به ددې جګړو تکتیکي سوبې او ګټنې ستراتیژیکي هدف ته د رسېدو په چاره کې پاتې راغلې. هغه یرغلیز سېلاب چې په شدت له اوچتو سردرو راکوز شوی وو، لږ څه وروسته به ارام سیند شو او تر څو چې به بیا یو سېلاب ترې جوړېده، نو دښمنانو به د تېر سېلاب په اثر خپلې منځته راغلې ماتې ګوډې ببرته جوړې کړې وې او بیا به په میدان تازه نفس ورته ولاړ وو.))

## ددې اثر ځینې ګټور پیغامونه:

د ښاغلي جلالي صیب دا اثر که څه هم د پاڼو د شمېر له مخې کوچنی اثر ګڼل کېږي، خو د محتوایي پانګې د ځایونې له مخې خورا مغتنم اثر دی. په دې اثر کې نه یوازې د خوشال د عصر پوځي چاپېریال څېړل شوی، بلکې یو ډول داسې مهم تحلیلونه او پیغامونه هم په کې ځای پرځای شوي، چې نه یوازې د خوشال بابا د عصر انځورونه روښانوي، بلکې زموږ د نن او سبا لپاره هم ډېر ګټور مفاهیم لري. دلته به ددې ډول پیغامونو او تحلیلي پایلو څو بېلګو ته اشاره وکړم، چې لا هم زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې پر حالاتو تاثير لرلای او دقيق غور پرې موږ ته ګټه رسولای شي.

په دې اثر کې راغلي:

* تکتيک او يا هم تکتيکي جګړه چې له ستراتيژۍ سره منطقي او ټينګ اړيکي ونه لري، تاثير يې موقتي دی او لوی هدف پرې نه شي ترلاسه کېدلای.
* د تکتيکي جګړو تاثيرات موقتي وي او د يوه سېلاب بڼه لري، که چا ترې ځان بچ کړو، نو بېرته خپل ځان رغولای شي.
* توره د جنګ مادي او تدبير د جنګ معنوي قوتونه دي، که تورې سره پوهه او تدبير ملګري نه شي، مثبته نتيجه نه شي ترلاسه کولای.
* د مغولو د تجربو پر بنسټ، هغه ولس چې څوک غواړي حکومت پرې وکړي، هلته بايد محلي ډلو ته واک انتقال او مخرب قوتونه يې بايد پر يو بل دفع شي.
* د هر سيمه ييز واکمن لپاره بايد سيال او بديل په پام کې ونيول شي.
* داخلي اختلافات د جګړه ييز ځواک اساسي برخه کمزورې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* مغولو په سیستماتیک او منظم ډول د پوځي روزنې له لارې جنګي مهارتونه زده کړي وو او پښتنو په غرنیو سیمو کې په عنعنه یې ښه. منظمې لښکرې په غرني چاپېریال کې د عنعنه یي لښکرو پر وړاندې ماتې خوري.
* لوژستیکي عنصر په محاربه کې مهم رول لري، هر څومره چې د ستراتیژیکو عملیاتو په ترڅ کې د ارتباط کرښې اوږدې شي، په هماغه تناسب یوه پراخ مغلق او درانده لوژستیکي بنسټ ته اړتیا زیاتېږي. په همدې توګه د جنګي عمل په ساحه کې د پوځونو د لوژستیکي بنیادونو محدودیت، د عسکري عملیاتو د محدودیت سبب ګرځي.
* له پښتنو سره په جګړه کې د مغولو د ځینو عسکري ټولګیو د ماتې یو علت دا و چې ددې پرځای چې د مغولو دا عسکر ښه سپاهیان وي، ښه خدمتګاران وو.
* منظمې لښکرې چې سیستماتیک جنګ پرمخ بیایي او هره برخه یې خپل فعالیت کوي، په غرنیو سیمو او نا اواره چاپېریال کې د نامنظمو ګوریلایي او چریکي جنګیالیو پر وړاندې ماتې خوري.
* لیکوال زیاتوي: ((په ګوریلایي جګړه کې د پردي یرغل په مقابل کې د سیمې د خلکو عنعنوي جګړه ییز تمایل هم وي، په داسې چاپېریال کې ګوریلایي قوتونه ځانته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندي اړه لري، په داسې حال کې چې پردی لښکر په هره برخه کې ناخوندي وي.

* مغولو خپل پوځي زور په حرفوي لښکرو، درنو او سپکو وسلو، پراخ لوژستیکي ملاتړ او منظم جنګي هنر کې ګاڼه، خو د پښتنو ملي وسله وال جوړښت، په ستر روحي قوت، ملي ګډ احساس او داسې مېړانې کې و چې د خپل ولس د خپلواک ژوندانه له حماسي تاریخ او دود دستور څخه یې په میراث اخیستی و.

* د مغولو د سیاسي ستراتیژۍ په اندول د پښتنو سیاسي ستراتیژي کمزورې وه او یوازې پر تکتیکي جنګونو یې ډډه لګوله.

* مغولو د سیاسي ستراتیژۍ له مخې هڅه کوله پښتانه په خپل منځ کې سره واچوي چې سره وسوزي او میدان دوی ته صاف پاتې شي.

* ګورګاني حکومت په شمالي هند کې د پښتنو په توره ټینګ شو او بیا دغه حکومت په همدې تورې نور زیات میدانونه وګټل، بیا یې له ټولنیزو او سیاسي شرایطو څخه په ګټه اخیستلو سره په همدې پښتني توره په خپله پښتانه ووهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* مغولو د سیاسي مهارتونو له مخې پښتانه یو بل سره واچول او ان د کورنۍ غړي یې د منصبونو او امتیازاتو په ورکړه یو د بل دښمن کړل. د یوسفزو مشر (بهاګود) د مغولو پر ضد کلونه کلونه د مبارزې سنګرونه تاوده وساتل، خو زوی یې د شاه جهان منصب ترلاسه کړ. خوشال خان د ژوند ترپایه د مغولو پر ضد جګړه وکړه، خو زوی یې (بهرام) د اورنګ زېب له خوا په خانۍ او سردارۍ ونازول شو. خوشال بابا وایي:

دا منصبونه دا انعامونه
واړه زندې دي واړه مارونه

***

لېوني شول پښتانه په منصبونو
خدایه ما ژغورې له هسې غضبونو

***

پښتانه چې بې ننګي کا ځوک یې څه کا
ګورستان لره به درومو له ارمانه

* مغولو ځینو پښتنو ته د منصبونو، لقبونو او جاګیرونو په ورکولو سره د هغوی سترې تکتیکي اغېزې د خپلې سیاسي ستراتیژۍ په ډینامیزم کې تر زیاتې اندازې شنډې کړې. په بل عبارت هغه کټنې چې پښتنو د پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستراتيژۍ په غیرمستقیم تقرب کې ترلاسه کولې، ګورګانیانو د عمومي ستراتیژۍ په غیرمستقیم تقرب له منځه وړلې. په نتیجه کې ویلای شو، چې په (۱۲ او ۱۷) میلادي مې پېړۍ کې له مسلطې ګورګاني واکمنۍ سره د پښتنو وسلوالې مبارزې ځکه خپل وروستي مرام ته ونه رسېدلې، چې د پښتنو د قبیله یي نظام حماسي او بهادري جوړښت بې له کومې واحدې رهبرۍ د یوې فیوډالۍ واکمنۍ له ټولو موسساتو سره، د لښکري جوړښت په ګډون، مخامخ وو.

* روښاني غورځنګ له پوځي عمل سره ایډیولوژیک عمل، چې د سیاسي ستراتیژۍ یوه اغېزمنه وسله ده، ملګری کړ، خو د ګورګانیانو د سیاسي ستراتیژۍ په وجه دا غورځنګ هم له ایډیالوژیک اغېز څخه محروم شو او په نتیجه کې یوازې د یو پوځي عمل په توګه په میدان کې پاتې شو.

ښاغلی جلالي په خپل دې پوځي تحلیلي اثر کې د وروستۍ نتیجې په توګه دا پیغام ورکوي، چې د جګړې او مبارزې لپاره د تورې او تدبیر، مادي او معنوي قوت په کار دی، تکتیکي عملونه باید د یوې سیاسي او عمومي ستراتیژي برخه وي او د ټولنې سیاسي موسسات باید په ترتیب سره وده وکړي، له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته پوځي او ایډیولوژیک غورځنګونه نه شي بریالي کېدی.
ښاغلی جلالي وايي:

(( دا د (۱۷) مې پېړۍ خوشال و چې ددې ټولو تاریخي واقعیتونو په درک کولو سره یې له توري سره قلم هم راواخیست او په دواړو وسلو یې مبارزې ته دوام ورکړ. هغه په خپله زمانه کې د سیاست او عسکرۍ ستراتیژۍ د یو نسبتاً پراخ نړۍ لید په رڼا کې د جنګي شرایطو مفصله څېړنه وکړه، له یوې خوا یې د ژوند ترپایه دښمن ته توره په څمکه کېښنبوده او له بله پلوه یې تر مرګ پورې د پښتنو په قومي تحریک کې، د هغوی سیاسي او ستراتیژیکي کمزورتیاوې کله په خوږه او نرمه او کله په ترخه او ستوغه ژبه څرګند کړې:

هره چاره د پښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نه شته ډېر ارمان
د بهلول او د شېرشاه خبرې اورم
چې په هند کې پښتانه وو بادشاهان
شپږ او اوه پېړۍ یې هسې بادشاهي وه
چې په دوی پورې درست خلک وو حیران
یا هغه پښتانه نور و دا څه نور شول
یا د خدای دی اوس دا هسې شان فرمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشال به دوباره شي په دا ځوان

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جلالي صيب په نظر چريکي جنګ چې خوشال يې د ((قزاقي))
جنګ يوه برخه ګڼي او اوس په نړۍ کې د ګوريلايي جنګ په
نامه نومول شوی، د خوشال د پوځي مبارزې د تکتيک اساسي
عنصر دی، همدا چريکي جنګ و چې د مقدوني سکندر،
چنګېز، انګرېز او روس منظمې لښکرې يې ماتې کړې او اوس
دا دی په يوه بل عصري تعبير سره د نړۍ د شلمې او يوويشتمې
پېړۍ ستر زبرځواک او د هغه لسګونو انډيوالانو ته د سر په
کاسه کې اوبه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((د بریالیتوب لار)) له کومو پېچومو تېرېږي؟

(د بریالیتوب لار) د نړۍ د نومیالي لیکوال (ډېل کارنیګي) اثر دی چې (نقیب احمد اتل) په خوږه پښتو ژباړلی، ماته یې د سریزې لپاره راکړی و، پر ۱۳۹۱ ل کال ما پر دې اثر دا سریزه ولیکله، دا اثر پر همدې کال چاپ شو.

په ژوند کې د ستونزو پر وړاندې مبارزه او پر ناخوالو لاسبری اسانه کار نه دی. هغه تولنې چې د سوکالۍ پړاو ته رسېدلي، د کار، زیار او متواترو تجربو له یوه اوږده تسلسل څخه تېرې شوي دي. ستر شخصیتونه هم په اسانۍ نه دي ستر شوي، دوی هم ډېرې شپې رنې کړي؛ د مرګ او ژوند د پولې پر لیکه ودرېدلي، د ازمېښت د اور له بټۍ څخه تېر شوي دي. هغوی چې د سختیو اورونو خوړلي، نومونه یې د تاریخ له حافظې وتي دي.




د تاریخ قضاوت هم سل په سلو کې عادلانه نه دی؛ تصادفات، استثناات او ناڅاپي پېښې هم له عادي اشخاصو اتلان جوړولای او همدا پېښې بیا د نړۍ سترې ستې هم د هېرېدو کندې ته ټېل وهلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ټولنیزو ستونزو د بري حل لارې او فورمولونه لکه د ساینسي هغو په شان نه دي، چې په ټوله نړۍ کې یو شان قابلیت او منښت لري؛ عاطفي، درد، احساس، تخیل، اخلاقو او نورو ټولنیزو ترونونو ته اړتیا نه لري، د محاسبې او تجربې فکس او ټاکلي قوانین لري، په ټولنیزو چارو کې بیا فورمولونه بل ډول دي؛ متواترې تجربې، متلونه، د خلکو د افکارو مجموعي نچوړ، اخلاق او ټولنیز قراردادونه د ټولنیزو شخړو د حل فورمولونه دي چې د زمان او مکان ټول حاکم چاپېریال پرې خپل خپل تاثیرات لري.

په نړۍ کې ګڼ شمېر داسې پوهان شته چې د زماني د اوږدو تجربو په برکت یې د شخصیت جوړونې او پر ټولنیزو ستونزو د لاسبري حل لارې په ګوته کړې دي. انسان کولای شي همدې تجربو ته په کتو سره خپل ځان د بري پړاو ته ورسوي، پر ستونزو لاسبری پیدا کړي، ځان او ټولنه سوکاله او خپل نوم ابدي کړي.

د پوهانو همدا نظریې او پخې خبرې د یوه ټولنیز فورمول په توګه کار ورکوي او که څوک یې عملي کړي، کېدی شي د ژوند ډېرې ناخوالې یې له منځه لاړې شي.

(ډیل کارنیګي) د نړۍ د ګڼو لیکوالو په منځ کې هغه لیکوال دی چې خبره یې د عوامو په اصطلاح د کاڼي کرښه ده او د یوه ټولنیز فورمول حیثیت لري. ډیل کارنیګي (د ژوند لار)، (د خبرو هنر یا فن) او ګڼ شمېر نور داسې کتابونه لیکلي چې په سوونو ملیونه ټوکه چاپ شوي او په سلګونو ملیونه لوستونکي لري. د ډیل کارنیګي هر اثر له یو ځل څخه تر شلو ځلو پورې چاپ شوی او د هر ځل چاپ ټیټ شمېر یې یو ملیون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوکه و. د نړۍ په ډېرو ګڼ ویونکو ژبو یې اثار چاپ شوي دي. نړدې نیمه پېړۍ کېږي چې د نړۍ مارکېټ او ذهن د ډېل کارنیګي پر اثارو راڅرخي. ((د بریالیتوب لاره)) هم د نړۍ د دې نامتو لیکوال بل اثر دی، چې دده د پراخې مطالعې او اوږدې تجربې نچوړ دی. دا اثر که څه هم ډېرې پاڼې نه لري، خو ډېرې د کار خبرې لري. دا اثر اصلاً د تجربه شویو خبرو یو نچوړ دی چې فرعي، څنګزنۍ او اضافي خبرې نه لري، هره خبره یې په تول تللې او له هدفه ډکه ده. هغه چا څخه چې د ژوند لاره ورکه وي، دا اثر ورته د سوکاله ژوند لپاره یوه کوڅې ده، یو څراغ دی. د ناهیلو انسانانو لپاره د هیلو یوه ډیوه ده، د کم جرئته اشخاصو لپاره هم د جرئت یوه نسخه. لکه څنګه چې حساب، هندسه، کیمیا، الجبر او نورو ساینسي مضامینو کې د هرې معادلې د حل لپاره یو فورمول وي، دا اثر هم د شخصیت جوړونې او د ستونزې د هرې معادلې لپاره یو فورمول لري، که هر ناکام او ناهیلی شخص د خپل د ژوند په بېلابېلو ناکامو ډګرونو کې ددې اثر نسخې عملي کړي، نو پوره باور دی چې ډېرې بریاوې به ترلاسه کړي. ددې اثر اصلي جوهر دا دی چې له ((سړي)) نه ((سړی)) جوړ کړي، یو ناکام شخص پر یوه بریالي شخص بدل کړي، یو ناهیلی انسان پر یوه هیله من انسان او یو ناهدفه شخص پر یوه هدفمن شخص عوض کړي. دا اثر یو ژوندود دی چې ستنې یې د پخو تجربو پر بنسټ ولاړې دي.

په دې اثر کې واضح کېږي چې ذوق او مزاج د انسان په ژوند کې ډېر مهم دي؛ هر هغه کار چې د انسان په ذوق برابر نه وي، د هغه انتخاب او بیا د هغه بری د هغه شخص لپاره اسانه کار نه دی. هدف په خپله د بري لپاره مهم عنصر دی؛ هغه انسانان چې بې هدفه مبارزه کې وي، وروستۍ نتیجه یې له سترپا پرته بل څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دي. هر انسان چې غواړي بري ته ورسېږي، بايد پر ځان و ېسا او باور پيدا کړي، پر يوه هدف بې باوري، هدف ته تر رسېدو دمخه د ناکامۍ پيلامه ده. د هدف او بري په لاره کې شوق، ذوق او ولوله مهم رول لري، انسان له ستړيا څخه ژغوري، له خپل کاره خوند اخلي. انسان بايد خپله تېره ناکامه او مايوسه ماضي هېره کړي، خپل ذهن هلته مصروف نه کړي، خپل او سنی وخت په پام کې ونيسي، د خپل وخت له امکاناتو اعظمي ګټه پورته کړي، د راتلونکي په اړه فکر وکړي او هغه هم مثبت فکر. منفي تفکر هم د ناکامۍ چينجی دی، چې د بريا مغز خوري. انسان بايد له تېرو تجربو څخه مثبته ګټه پورته کړي. تجربه داسې ده لکه د رڼا لار. انسان بايد د خپل ځان د صحت او سلامت هم زيات خيال وساتي. د ډيل کارنيګي په نظر هغه انسان چې په صورت روغ نه وي، سالم فکر نه شي کولای، (سليم عقل په سالم بدن کې دی) متل د مصداق په توګه راوړي. انسان بايد د خپلو ښېګڼو او نيمګړتياوو جاج واخلي، له نيمګړتياوو بايد خواشينی نه شي، د هغو د حل لپاره بايد کار وکړي او ښېګڼې بايد زياتې کړي. انسان بايد په ټولنه کې خلکو ته خپل کمال او مهارت څرګند کړي، دا کار په ټولنه کې دده د شخصيت د ګرانښت او منښت سبب ګرځي او دده د لازياتې هڅونې عامل ګڼل کېږي. زړورتيا د شخصيت په وده کې بل مهم عنصر دی. که يو انسان د يو کار وړتيا هم ولري، خو چې لازمه زړورتيا ورسره ونه لري، د هغه د اجرا لپاره اقدام نه کوي.

د ډيل کارنيګي په وينا (د وينا فن) او اغېزناکه وينا هم د شخصيت په وده کې ډېر مهم رول لري، د نړۍ يو زيات شمېر مشهور شخصيتونه د خپلې اغېزناکې وينا په برکت د شهرت او بري لوړ مقام ته رسېدلي دي، نو که يو څوک غواړي ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت شي او خپل فکر خلکو ته بیان کړي، نو باید د وینا فن زده کړي. ده په خپل دې اثر او هم په یو بل ځانګړي اثر کې د یوې ښې او جذابې وینا رغنده توکي تشریح کړي دي.

کارنیګي وايي چې ازاد فکر او پرله پسې هڅه د انسان په بریالیتوب کې بل اساسي عنصر دی؛ هر څومره چې د انسان د فکر دایره پراخه وي او له خپلو هڅو ستړی نه شي، همغومره د بري حد ته نږدې کېږي. د ستونزو پر وړاندې په ټینګه مبارزه د بري بل راز دی.

ډیل کارنیګي په دې اثر کې د شخصیت جوړونې بېلابېل او کړلېچن پړاوونه تشریح کوي، دا پړاوونه او قوانین یې اکثره داسې دي چې د نړۍ پر اکثرو ټولنو د تطبیق وړ دي، له هغې جملې څخه زموږ پر ټولنه. هغو ناروغیو ته چې کارنیګي اشاره کړې، د هغو یو زیات شمېر همدا اوس زموږ په ټولنه کې ګزمې کوي او د یو زیات شمېر خلکو ذهن اخلالوي. د ساري په توګه (غیبت کول). سره له دې چې غیبت کول اسلامي شریعت غندلی او په ټینګه یې منع کړي، خو بیا هم زموږ په ټولنه کې د لوستي او نالوستو اشخاصو ترمنځ لکه د یوې ساري ناروغۍ په توګه فعالیت کوي، د ګړني، لیکني او د غیبت نور ډولونه همدا اوس دود دي. د دې کار یو علت شاید دا وي چې دلته څوک د یو چا د شخصیت وده نه شي زغملای، نو ځکه د هغه د تخریب لپاره له داسې یوې وسیلې څخه کار اخلي چې هېڅ لګښت پرې نه راځي؛ غیبت کول، تور پورې کول او دروغ ویل. کارنیګي وايي: ((له غیبت کولو نه بل اسان کار نشته، ځکه چې په دې کار کې فکر، پوهې او وړتیا ته اړتیا نه لیدل کېږي)). زموږ په ټولنه کې یو ډول هغه کسان دي چې کار کوي او بل ډول هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسان دي، چې د هغوی کار ته متوجه دي او غواړي په غیبت او تور پورې کولو یې د کار رنګه پیکه کړي. ځیني خلک بیا داسې دي لکه د سلطان محمود پاچا لټان، د کار لټه نه کوي، یوې موقع او طلایي چانس ته منتظر وي، په دې پلمه چې د کار موقع نه شته خپله تنبلي پټوي. کارنیګي وایي: (( موقع یا چانس د چا کور ته نه ورځي، باید تاسو خپله موقع پسې لاړ شئ ! )).

ځیني خلک له دې وېرې هم د یو مثبت کار لټه نه کوي چې څوک یې مخالفت ونه کړي. د مخالفت وېره د یو لوی کار د مخنیوي سبب ګرځي، خو هوډمن اشخاص هغه دي چې د چا مخالفت ته ډېر ارزښت ورنه کړي، خپل کار ترسره کړي. کارنیګي په دې نظر دی چې (( په ژوند کې هغه وخت مزه پیدا کېږي، چې څوک دې مخالفت وکړي. )) زه به خپله یوه شخصي تجربه هم درسره شریکه کړم: هر کله چې یو چا د حسد او کینې له مخې زما د فرهنګي او ټولنیزو کارونو مخالفت کړی، نو ما نور هم هغه کار ته کش ورکړی، تر هغه چې مې هغه کار ترسره کړی دی. کله چې مې په سختۍ د کار ثمر ترلاسه کړی، نو ډېر خوند یې راکړی، لکه څومره چې یې ماته خوند راکړی زما مخالفین یې کړولي دي، نو اوس ماته یوه پخه تجربه ده چې که ستا او مخالفت ترمنځ د یو کار پر سر اختلاف وي، ته باید مخالف سره په داوو دانګلو وخت تېر نه کړې، ژر خپل کار ترسره کړې. مخالف ته بیا تر دې بله خپله سخته ماتې او عذاب نشته. که څه هم ځینې خلک داسې شته چې غیبت او منفي هڅو ته یې کار ویلای وي، عادت یې نه بدلېږي، د کارنیګي په وینا (( عادت یې د فطرت په خټه کې وده کوي ))، خو ددې پرځای چې موږ د چا د ټولنیزو او فطري عادتونو پر بدلولو وخت مصرف کړو، خپل کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ترسره کړو. کار د نېکمرغۍ او ((بې کاري د بدبختۍ زانګو ده)).

د اپلاتون، کارنیګي او نورو پوهانو په نظر پوهه د انسان لپاره لویه نېکمرغي ده، که څوک غواړي نېکمرغه شي، نو ځان باید د مطالعې او پوهې په ګاڼه سمبال کړي. کله چې مونږ خپلې ټولنې ته وګورو، هغه اشخاص، لیکوال او نورو خلک چې ذهن یې له تفکره ډک وي، هغوی کار کوي، د بري لارې لنډوي، خو هغوی چې خالي ذهنه وي، ذهن کې وسوسې، کینه او حسد وده کوي، ځان خوري. دا پخه خبره ده چې ((خالي ذهن د شیطان کور دی))، نو که مونږ غواړو ځان له شیطانه وژغورو، باید خپل ذهن د علم په رڼا روښانه کړو.

هر سخت کار یوې سختې او قوي ارادې ته اړتیا لري، هېڅ ستر کار له سترې ارادې پرته نه شي ترسره کېدلای، د کارنیګي په نظر ((اراده یو روحي عمل دی)) چې د سختو عملونو د ترسره کولو لپاره خورا اغېزمنه وسیله ده.

د کارنیګي په نظر ناهیلي، بې ځایه شهرت غوښتنه، ځان کم ګڼل، بې زړه توب، د کمترۍ احساس او نور هغه مرضونه دي چې که په یو انسان کې یې ځای ونیو، انسان له سختیو بدمرغیو سره مخامخولای شي. دی وایي ((نېکمرغي هغه ذهني کیفیت دی، چې د یوه انسان د ټولو غوښتنو او امیدونو تر پوره کېدو وروسته رامنځته کېږي.))

کارنیګي وایي، که غواړئ د نېکمرغۍ ذهني کیفیت ترلاسه کړئ، نو ((له چا څخه نفرت مه کوئ، له چا سره کینه او حسد مه کوئ، بې له کومې وجې د چا بې عزتي مه کوئ، دښمنۍ ته لار مه اواروئ، د کینې ناروغي له ځانه لرې کړئ، یو کار په صبر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکون سره ترسره کړئ، په ځان کې له ژوند سره د مینې جذبه پیدا کړئ، د نظم او د سپلین تابع شئ)) او داسې نور مهم عناصر، چې په یو انسان کې د نېکمرغۍ وزرې غوړولای شي.

ددې اثر د توضیح لپاره د اثر مطالعه تر ټولو ښه لاره ده، که زموږ ولس په تېره بیا ځوان نسل دا اثر په دقت ولولي او ډېرې برخې عملي کړي، نو کېدی شي د ښه ژوندانه لپاره ورته یوه ښه کیلي په لاس ورشي. دا چې کارنیګې د نړۍ ولسونو ته د ښه ژوند لپاره داسې یوه وړیا کیلي جوړه کړې، نو پر هغه دې هم سل افرین شي او دا چې ښاغلي نقیب احمد اتل بیا په خوږه، روانه او اسانه پښتو دا کیلي د هر افغان کور ته په وړیا ډول رسولې، دده په ځوانۍ دې هم برکت شي، الله(ج) دې دی د نېکمرغۍ په هغو ټولو خوږلنیو کې ډوب کړي، چې لیکوال یې په دې کتاب کې هیله کړې او په پای کې د هر افغان او د نړۍ هر انسان لپاره همدا هیله.

ددې ټولنې

یو یون

۱۳۹۱ل کال د غويي ۱۳مه

ارګ، د جمهوري ریاست ماڼۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو کې درې نوي شعري فورمونه

## (ټپيزه، ټکوريزه او هايکو)

دا ليکنه پر (۱۳۹۱ل) کال د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د يوه علمي کنفرانس په بڼه اورول شوې وه.

د يوې ژبې د ادبي دورې په ټاکنه کې يو مهم اصل شکلي او محتوايي بدلون دی. جوليز او مانيز بدلون هم په اسانۍ سره نه رامنځته کېږي، يا د اوږدو ټولنيزو بدلونونو زېږنده وي، يا هم د پخو ادبي تجربو د تکرار او اوج له پړاوونو څخه دا محتوايي او شکلي بدلون راټوکېږي.

پښتو ادب له محتوايي او شکلي، په تېره بيا له جوليز پلوه خورا غني دی. د پښتو ژبې سکښت، جوړښت او اهنګين ترتيب دا ځانګړې وړتيا لري، چې د نړۍ د هرې ژبې د ادبياتو جوليز جوړښت راخپل او د خپلو ادبي فورمونو په ليکه کې زيات کړي. د (۱۴) (عربي) شعري فورمونو په ګډون چې پښتو يوازې له عربي څخه راخپل کړي دي، د (دري) (دوه بيتۍ) هم پښتو کې څه نا څه ځای لري، له (انګليسي) او نورو نړيوالو ژبو څخه راغلی ازاد شعر او د هغه بېلابېل ډولونه هم پښتو کې دود دي. د پښتو د خپلو شعري فورمونو شمېر هم د نړۍ تر بلې هرې ژبې زيات دی. که د پښتو د ټولو شعري فورمونو شمېر او په واحد شعري فورم کې د هغو بېلابېلې بڼې په پام کې ونيسو، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو پښتو شعري فورمونو شمېر نږدې (۵۵) بېلابېلو شعري فورمونو ته رسېږي. پښتو ژبه که څه هم د هغې د خپل جوړښت، د غږونو د تراکم، د جنس، حالت او نورو اوښتونو له نظره ناپښتنو ته د زده کړې له مخې سخته برېښي، خو د اهنګين جوړښت او موسيقيت له مخې بيا هغه شان ده، چې د نړۍ هر موسيقيوال او سندرغاړي ته تر هرې بلې ژبې خوږه، اهنګينه او اسانه ده.

خبره لا دوه نيمو لسيزو ته نه ده رسېدلې، چې د پښتو ادب په لمن کې (درې نوي شعري فورمونه) په ټوکېدو او غوړېدو دي. دا شعري فورمونه که څه هم هر يو خپل جوړښت او سکښت لري، خو داسې هم نه ده چې په پښتو ادب کې پخوانۍ ريښه او مخينه نه لري. دا شعري جولې، (ټپيزه)، (ټکوريزه) او (هايکو) دي. دلته غواړو، د هرې يوې پر جوليز سکښت او جوړښت بحث وکړو. تر بحث د مخه يادونه کوو چې د دې جولو له ټوکېدو سره سم بيا تر دې دمه دا هر يو فورم خپل مخالفين او موافقين لري. موږ به دلته د هر يو فورم پر جوړښت بحث وکړو، د موافقينو او مخالفينو پر احساساتو او د اختلافاتو پر انګېزو به هم يو څه وغږېږو.

## ۱- ټپيزه:

ټپيزه د پښتو تر ټولو قوي او مشهور شعري فورم (لنډۍ يا ټپې) پر بنسټ رغول شوی فورم دی. سره له دې چې د پښتو مشهور شعري فورم (لنډۍ) نور نومونه ټيکۍ، ټپه، مصرۍ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، خو ټپيزه چې له (لنډۍ) څخه مشتق شوې د پوهاند زيار په نظر ورته (ټپيزه) نوموونه تر ټولو ځکه غوره برېښي، چې له بلې نوموونې يا اصطلاح سره مانيز ټکر نه پېښوي او يا هم ويون يا تلفظ يې اسانه دی. لکه څنګه چې ځرګنده ده پښتو ټپه يا لنډۍ دوه ثابتې مسرې لري او يوه څپه يې هم تر ټاکلي حده زياتېدی يا کمېدی نه شي او که د فشار له امله يې کومه څپه زياته يا کمه شي، نو لنډۍ يا ټپه خپله دا ځانګړتيا له لاسه ورکوي او هېڅکله هغه خوند او اهنګ چې لري يې، نه شي ورکولای.

ما ويل يو ازې زما يار يې
د اختر ټال يې هر سړی دې زنګوينه
ستا به واده زما به مرګ وي
ستا به ډولۍ زما به کټ خاورو ته ځينه
خويندې چې کښني ورونه ستايي
ورونه چې کښني خويندې بل ته ورکوينه

لومړۍ مسره (۹) او دويمه (۱۳) څپې ده، چې ټولې (۲۲) څپې کېږي. همدا (۹+۱۳) څپې د لنډۍ رياضي ده، چې له دې جوړښت پرته لنډۍ يا ټپه هډو جوړېدی نه شي.

ټپيزه چې اساس يې همدا لنډۍ ده او په وروستۍ برخه کې يې همدا لنډۍ ورزياتېږي او ټپيزه سره تړي، د لنډۍ يا ټپې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستني پیوستون وروسته ثابت شکل غوره کوي او د نور انکشاف امکان یې له منځه ځي.

هره ټپیزه په مجموعي ډول پینځه مسرې لري؛ درې مسرې په خپله د ټپیزې لومړۍ برخه وي او دوه مسرې د لنډۍ وي، چې له لومړیو دریو مسرو سره یوځای کېږي یا د لومړۍ برخې درې مسرې له وروستیو دوو مسرو سره یوځای کېږي. د ټپیزې لومړۍ مسره (۹) دویمه (۹) دریمه هم (۹) څپې لري، د لنډۍ لومړۍ مسره خو هسې هم (۹) څپیزه وي، په دې ډول دا څلورې مسرې نه یوازې د څپو د شمېر له مخې سره مساوي دي، بلکې د قافیز جوړښت له پلوه هم په خپل منځ کې هم قافیه دي او څلور واړه مسرې یوه مشترکه قافیه تعقیبوي، که چېرې احیاناً د لنډۍ لومړۍ مسره پر قافیې سربېره ردیف هم ولري، د ټپیزې د لومړۍ برخې د لومړیو دریو مسرو ردیفونه هم تر همغې قافیې وروسته هماغه ردیف تعقیبوي. دلته پوښتنه پیدا کېږي چې خپله لنډۍ خو اصلاً یو ناقفیوال نظم دی، نو دلته بیا قافیه له کومه شوه؟ دلته باید واضح شي چې کله هم یو ټپیزوال ټپیزه جوړوي، نو لنډۍ یې د اساس په توګه غوره کوي؛ د لنډۍ د لومړۍ مسرې وروستۍ بڼه، اهنګ یا د کلمې سکښت په پام کې نیسي، خپلې لومړۍ درې مسرې هم پر همغه وزن او اهنګ برابروي، نو ځکه د لنډۍ لومړۍ مسره که څه هم له آره قافیه نه لري، خو چې د لومړۍ مسرۍ وروستۍ برخه یې د ټپیزې له دریو لومړیو مسرو سره غاړه غړۍ شي، نو قافیوال بڼه خپله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لنډې ځانګړې هندسي بڼه داده:

خو کله چې د ټپيزې له لومړيو دريو مسرو سره يو ځای کېږي له ټپيزې سره دا شکل خپلوي.

a_________________
a_________________
a_________________
a_________________

او يا هم

= a_________________
= a_________________
= a_________________
= a_________________

دلته به يې څو بېلګې وړاندې کړو:

غليم يې ډاري له پرتمه
کړه يې ورپرې د ښکېلاک تمه
غازيان راټول پرې له هر چمه
د توريالي اکبر له برمه
ځوانان د ننګ توري وهي، سر ورکوينه

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځښتن دې مات هغه لښکر کړي
له ژوند وژواکه لاس پر سر کړي
چې پښتانه ته بد نظر کړي
میرویسه خدای دې جنت در کړي
چې مور دې خلاص کړو د پردو له منتونه

*** 

شوم لاس پر سر له پردي خپله
څوک به یې نه کړي پر ما بله
څو دا ستا مینه نه کړم خپله
پاس پر کمره ولاړه ګله
یا به دې پرې کړم یا به ځان وغورځومه

***

ته به د چا پر کور مېلمه یې
ورسره ناست په څه پلمه یې
تیاره ماښام ته بلېنده یې
ته به د کوم محفل ډیوه یې
زه د هجران تورو تیارو ته ناسته یمه
(د پوهاند زیار له لیکنې څخه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګـــــورئ د نــــــورو ګــــوډاګی دی
پـــــرې مــــه غــــولېږئ دا پـــــردی دی
دی د ډالـــــــــــرو لېـــــــــونی دی
ســــــړی پــــــه رنــــګ کـــــله سړی دی
ســــړی هغــــه دی چـــې یـــې خــوی د ســــړي وینــــه
( د اخلاقي جرئت غوره سمبول، ۲۲مخ. )

هســــې مــــې کلــــي کــــې زړه تنــــګ شـــو
چـــې یـــار روان رانـــه پـــه ځنــګ شـــو
لــــه خپــل نصـیب سـره مـې جنـګ شـو
زمــــا د میــــنې یــــار مــــلنــګ شـــو
اوس بــــــه د پــــرې د مــلنګانــــــو لټوم ــــــــه.

✵✵✵

هغــــــه لـــــه زړه نـــــه راتـــــه ګــــران دی
د ســــــــــتمونو یـــــــــــې بــــــاران دی
زمــــا تــــرې ســــر او مــــال قربــــان دی
پـــــــه مــــــا یــــــې زر منه احسان دی
چــې جانــان ټــول کلــی پربــږدي مالــه راځینــه

د ټپیزې ځپیز خجیز جوړښت هم د لنډۍ د فورم تابع دی، د پښتو د ټولو شعرونو خجیز جوړښت داسې دی چې که د مسرې پر هره لومړۍ، دویمه، دریمه او یا هم ځلورمه څپه خج یا فشار

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغی، نو تر هغې وروسته به هره څلورمه څپه خجنه وي، همدا خج او څپه ده چې د پښتو شعر یا نظم اسکلیټ جوړوي. دا قانون د پښتو پر ټول نظمي جوړښت؛ ازاد وي که قافیوال، یوشان د تطبیق وړ دی. په پښتو لنډیو کې په لومړۍ او دویمه مسره کې هره څلورمه څپه خجنه ده:

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړينه

ددې لنډۍ څپیز جوړښت په دې ډول دی

U – U U U – U U U

U - U U U - U U U - U U U

(د پښتو شعر هندسي جوړښت ۱۳۹مخ)

پـــه زړه مـــې ډېـــر ګلونـــه شـــنه دي
زړه کـــې مـــې پـــټ دي هغـــه ښـــه دي
زمـــا او ســـتا ترمنځـــه څـــه دي
نـــور خـــو یـــې هـــېڅ ویلـــي نـــه دي

دا ســـتا پېغـــور یـــې راکـــاوه پـــه ژړا شـــومه

ددې ټپيزې څپيز جوړښت په دې ډول دی:

U -U U U-U U U

U -U U U-U U U

U -U U U-U U U

U -U U U-U U U

U-U U U-U U U-U U U

زه به تر ګوره درته کېنم
چېرته بې کوره درته کېنم
د زړه له زوره درته کېنم
يو کال به نوره درته کېنم

زيارت خو نه يې چې جنډې به دې ساتمه
(د محبوب شاه محبوب له ليکنې)

د پورتنۍ ټپيزې څپيز خجيز جوړښت هم د پورتنۍ هغې په شان دی.

هندسي جوړښت يې:

= a________________
= a________________
= a________________
= a________________

د يادونې وړ ده چې د ټولو څپيز خجيز جوړښت، لکه د رياضي د فورمول په شان دی، خو هندسي جوړښت يې لږ تر لږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوه ډوله دی. یو ډول همغه چې د لنډۍ د لومړۍ مسرې په ګډون په کې څلور واړه مسرې یو شان قافیه تعقیبوي او پينځمه مسره یې له قافیې څخه ازاده وي او دویم شکل یې همغه دی چې تر قافیې وروسته ردیف هم لري:

لومړی شکل:

a________________
a________________
a________________
a________________

دویم شکل:

= a________________
= a________________
= a________________
= a________________

په پښتو کې ټپیزه ډېر اوږد تاریخ نه لري، البته په ژبه کې د بېته ورته نظمونه شته. نږدې دوه لسیزې کېږي چې ټپیزه په پښتو ادب کې تر سترګو کېږي، ان تر دوو لسیزو کمه موده کېږي. ځینې لیکوال په دې نظر دي چې پوهاند مجاور احمد زیار د ټپیزې د مخکښانو له جملې څخه دی. البته په پښتو ازاد شعر کې د پښتو لنډۍ کارونه مخکې هم شوې؛ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر شاعرانو چې پښتو ازاد شعر یې لیکلی، په خپلو ځینو شعرونو کې یې پښتو لنډۍ د خپل شعر د قوت، د منطق د پوخوالي او د استدلال د یوې ستنې په توګه کارولې ده. پوهاند زیار هم په خپلو ځینو ازادو شعرونو کې لنډۍ کارولې. سربېره پر دې پوهاند زیار خپلواکې ټپیزې هم لیکلې دي. تراوسه د پوهاند زیار د ټپیزو کوم ځانګړی اثر نه دی چاپ شوی، خو د پښتو یو شمېر ځوانو لیکوالو ټپیزې ته خپل کار ویلی او په دې برخه کې یې دومره کار کړی چې خپل مستقل اثار یې چاپ کړې دي. ځوان لیکوال (حنیف حیران) او (رحیم الله ارماني) هغه لیکوال دي، چې د ټپیزو مستقل اثار لري.

د حنیف حیران د ټپیزو ټولګه (یو ځلې بیا په دې لار راشه) نومېږي، یو شمېر نورو لیکوالو او شاعرانو هم ټپیزې لیکلې دي. ټپیزو هغه وخت خپل عام ګرانښت پیدا کړ چې د موسیقۍ تر څپو ورسېدلې؛ نامتو سندرغاړو د موسیقۍ له هنر سره یوځای کړې، د پښتنو هر کلي او بانډو ته یې ورسولې.

**یو ادبي فورم څنګه رامنځته کېږي؟** یو ادبي فورم د وخت اړتیا ، د زماني د اوږدو تجربو او د شاعرانو د منظم تمرین او د یوې بېلګې د بیا بیا تکرار په نتیجه کې رامنځته کېږي. یو ادبي فورم تر هغه پورې فورم نه دی چې واحده بڼه یې نه وي خپله کړې، واحد قانون پرې تطبیق نه شي. په پښتو کې چې موږ اوس کوم شعري فورمونه لرو ، پر هغو اکثرو یو مشخص قانون او قاعده تطبیقېږي او یا لږ تر لږه تر یوې یا څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاعدو لاندې راځي. کله چې موږ د ټپيزې فورم ته ګورو، نو عيناً لکه د لنډۍ په شان پرې يو مشخص قانون د تطبيق وړ دی او د رياضي د يو قاعدې حيثيت لري، هر هغه څه چې د قاعدې خلاف وي او په دې قاعده کې زيات او يا کم شي، فورم خپل خصوصيت، کيفيت، ارزښت او ماهيت له لاسه ورکوي.

**د ټپيزې موافقين او مخالفين:** لکه د بلې هرې نوې ادبي، ټولنيزې او سياسي پديدې په شان له ټپيزې سره موافقت او مخالفت هم يوه طبيعي پروسه ده. هره نوې پديده چې رامنځته کېږي په ټولنه کې حاکم کلتور او دود پديدې ورسره مخالفت کوي، تر هغه پورې چې نوې پديده د تجربې، ګټورتيا او اغېزمنتيا له يوه بهيره تېرېږي، دا مخالفت دوام مومي، خو د وخت په تېرېدو سره د مخالفت کچه راټيټېږي او د موافقت هغه زياتېږي. په پښتو کې په پيل کې د ازاد شعر پر وړاندې هم يو لړ حساسيتونه موجود وو، خو ورو ورو ازاد شعر د پښتو ادب په ګلبڼ کې خپل ځانته ځای پيدا کړ. د ازاد شعر د ودې شرايط ډېر سخت وو، ځکه د موسيقۍ قوت، مقيد او ثابت وزن ورسره ملګري نه وو، خو د ټپيزې ښکمرغي په دې کې ده، چې تر شا يې د موسيقۍ هنر ولاړ دی. د موسيقۍ هنر هم ټپيزې ته اړ دی، نو ځکه په وړيا ډول د ټپيزې عاملو ته تيار دی. د نامتو سندرغاړي (کرن خان) د خولې ټپيزې چې څومره مشهورې او خوندورې دي، کچه يې نه شي اټکلېدی. د ټپيزو د مخالفينو تشويش دادی چې دا د لنډۍ ټولمنلي فورم ته زيان رسوي، کمزوري شاعران د خپل ځان د شهرت په خاطر له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېو مسرو سره يوه لنډۍ ملګرې کوي او د ټپيزې نوم ورکوي. ددوی بل تشويش دا دی چې ځينې شاعران يا ناظمان کېدلای شي د خپلې ټپيزې د تکميل په خاطر تصنعي لنډۍ جوړې کړي؛ داسې لنډۍ چې نه په کې خوند وي، نه لذت او نه هم کوم شعري جوهر لري، په دې ډول به لنډۍ له خپل اوسني موقف ځخه، چې د ولس د مينې، تفکر او احساس اصلي هنداره ده، مبتذل حالت ته راکښته شي او له لنډيو به هم د خلکو زړه تور شي. دا حالت به ددې سبب شي چې د يو نوي فورم په رامنځته کېدو سره به موږ يو خپل پخوانی او اصلي فورم له لاسه ورکړو.
د موافقينو او مخالفينو د دواړو تفکراتو په باب بايد وويل شي چې په دې برخه کې بايد تر هر څه لومړی د فورم او محتوا مغالطه له منځه لاړه شي. ځينې ټپيزوال چې کمزورې ټپيزې ليکي ايا دا د فورم مشکل دی، که د شاعر يا ناظم د تفکر او هنري ظرفيت؟ موږ په پښتو کې د غزل د فورم ډېر او چت شاعران هم لرو، خو د ډېرې ټيټې کچې هم، دواړو د غزل فورم کارولی، يوې ډلې په لوړ کيفيت او مهارت او بلې په مبتذل او ډېر ټيټ کيفيت. ايا دې کار په پښتو کې د غزل فورم زيانمن کړ او يا يې له منځه يوړ؟ ښه خبره لا په دې کې دا ده چې ټپيزوال ددې صلاحيت نه لري چې په اصلي لنډۍ کې لاسوهنه وکړي، کله که د ټپيزې لومړۍ برخه چې خپله د ناظم يا شاعر د فکر زېږنده ده، کمزورې وي له اصلي لنډۍ سره يې اوچت توپير کېږي او که څوک تصنعي لنډۍ جوړې هم کړي، نو برخليک يې همغه شان دی چې ځينو نورو شاعرانو د تصنعي لنډيو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولو هڅه کړې ده. نو که اوس ځينې کمزوري شاعران ټپيزې وليکي دا د ټپيزې يا لنډۍ اصلي فورم ته زيان رسوي؟ دا بله فرضيه به هم وړاندې کړو: که ډېر قوي شاعران د ټپيزو په فورم کې قوي محتوا وړاندې کړي بيا به څه وو ايو؟ اصلي خبره دا ده چې په يوه ادبي فورم کې په زرګونو تجربې وړاندې کېږي او تکراريږي، له يوې نيمې يې غمې جوړېږي او عم مقبوليت ته رسېږي. د محتوا کمزوري تر ډېره حده د پنځوونکو په هنري کمال پورې اړه لري، نه په فورم پورې، البته ځينې فورمونه داسې دي چې د فکر د بيان لپاره خپلې خپلې اسانتياوې لري، دا هم په پنځوونکې پورې اړه لري، چې د خپل فکر او محتوا د بيان لپاره کوم فورم انتخاب کړي.

## ۲- ټکوريزه:

ټکوريزه په پښتو ادب کې بله جوله ده چې غالباً تر ټپيزې وروسته رامنځته شوې ده. له ټپيزې سره يې توپير دادی، چې دا فورم په مجموعي ډول شپږ مسرې لري او ټپيزه پينځه. په ټکوريزه کې څلور مساوي الوزنه مسرې چې د يوې څلوريزې بڼه لري؛ د ټکوريزې لومړی اصلي برخه او دوه وروستۍ مسرې چې اصلي لنډۍ ده، د ټکوريزې دويمه برخه جوړوي.

که څه هم د (ټکوريزې) نومونه يوه محتوايي اصطلاح ده نه شکلي، خو بيا هم چې د يو شکل لپاره غوره شوې ده، پر ذهن بده نه لګي. ټکوريزې ته ځکه محتوايي اصطلاح وايو چې يوه محتوا بيانوي؛ يانې همغه شعر چې زړه ته تسکين او ټکور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي. لکه مرثیه، ویرنه، ویاړنه یا غندنه چې محتوایي فورمونه دي. یوه ویرنه یا مرثیه کېدی شي په غزل، قصیدې، مثنوي او یا هم کوم بل فورم کې وړاندې شي، د غسې په یو غزل، قصیده، یا بل شعري فورم کې کېدی شي، ټکوریزه محتوا هم وړاندې شي، نو دلته باید د فورم بڼه یا محتوایي شکل په دقت سره وارزول شي، خو له دې سره سره ټکوریزه ډېره ښایسته او خوږه نومونه ده او راساً د سړي د زړه تل ته لاره کوي او د هغه شعري فورم، چې د یوې لنډۍ او څلورو لنډو متحدالوزونه مسرو لرونکی وي، د هغه لپاره یې کارونه مناسبه بریښي.

ځینې لیکوال وایي چې ټکوریزه اصلاً له یوې قطعې او یوې لنډۍ څخه جوړېږي. دلته ځینې کسان د (قطعې) او (څلوریزې) ترمنځ توپیر نه کوي. قطعه او څلوریزه دواړه هغه شعري فورمونه دي، چې له عربي څخه پښتو ته راغلي دي، د دواړو د مسرو شمېر سره مساوي وي، خو توپیر یې یوازې په دې کې وي چې د قطعې دویمه او څلورمه مسره په خپل منځ کې مشترکه قافیه لري او د څلوریزې بیا لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره خپل منځ کې مشترکه قافیه تعقیبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قطعه:**

بیا د میو جام به مات کړم
چې ځواني شي زما تېره
په ځوانۍ کې ګناه خوند کړي
په پیرۍ کې تقوا ډېره

**هندسي جوړښت:**

__________________
a__________________
__________________
a__________________

**ثلوریزه:**

د مار که نه وي په تن کې زهر
سردار که نه لري خنجر د قهر
دا دواړه توکه به زما په پوهه
نه یاد په کلي وي نه یاد په ښهر

**هندسي جوړښت:**

a__________________
a__________________
__________________
a__________________

(د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۴۱ او ۴۲ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته ردیف لرونکي قطعې او څلوریزې هم همدا شکل تعقیبوي، خو یوازې ردیف یې زیات وي. کله چې موږ د ټکوریزې بڼې ته ګورو ، نو لومړۍ برخه یې د څلوریزې تر فورمول لاندې راځي، نه د قطعې تر چتر لاندې.

هېڅ درنه نه وړي
غم به په زړه وړي
خوږو لره درشي
همېش ترخه وړي
خویندې د ورور له کوره څه وړي
خواره زلفان په اوږو وړي په ژړا ځینه

✵✵✵

دا نورې مه کړې
بې کورې مه کړې
پښتنې پېغلې
سرتورې مه کړې
خدایه ګورګورې تورې مه کړې
جینکۍ سرې شونډې وروړي تورې راوړینه.
(ګورګورې، محبوب شاه محبوب)

ټکوریزه هم لکه د ټپیزې په شان د لنډۍ تابع ده، یوازې د مسرو او څپو په شمېر کې توپیر لري.

ددې ټکوریزې هندسي جوړښت په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

= a________________
= a________________
= a________________
= a________________
=a_____–_________

سویه ګوګله !

مړ شې پاګله

زما جانـــانـه

د ګلاب ګـله

پاس په کمره ولاړه ګله

نصیب د چا یې او به زه درخېږومه

✵ ✵ ✵

جــانـــانـــه خاندې

سترګې دې لاندې

په تـــرخ راګـــورې

هیلې دې تـــاندې

جانانه زېرې مې درباندې

زموږه کډه ستا سو کلي ته درځینه.

(ګورګورې، محبوب شاه محبوب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ټکوريزو هندسي جوړښت په دې ډول دی:

a________________
a________________
________________
a________________
a_____-_____-_____

له ټپيزو سره د ټکوريزو بل توپير دا دی چې ټکوريزه له لنډۍ پرته هم يوه مستقله مانا لرلای شي. که لنډۍ ترې لرې هم شي، دا د يوې ځانګړې څلوريزې په شان خپله محتوا بښندي، خو په ټپيزه کې د ټپيزې لومړۍ مسرې د لنډۍ له مانا سره پيوستون لري. تراوسه پورې په پښتو ادب کې ډېرې ټکوريزې نه دي ويل شوي. يوازې محبوب شاه محبوب د (ګورګورې) په نامه د ټکوريزو يوه ټولګه چاپ کړې ده.

د ټکوريزو د اوسني څپيز جوړښت له مخې د هرې مسرې د څپو شمېر (۵) څپو ته رسېږي. دا فورم لا نوی دی، نورې تجربې ته هم اړتيا لري، و به کتل شي چې شپږ څپيزې، اوه څپيزې او اته څپيزې ټکوريزې هم راټوکېږي او که نه يوازې پر همدې (۵) څپيزې ودرېږي او د ټپيزو په شان (۹) څپيز ثابت شکل غوره کوي.

د ټپيزو په شان د ټکوريزو هم يو شمېر مخالفين شته او پر دې فورم هم لکه د ټپيزو هغو په شان نيوکې کوي. خو له نيوکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره سره دا فورم هم د خپلې بشپړتیا پړاوونه وهي، که چېرې تکوریزې پر همدې پنځو څپو ولاړې پاتې شي، نو د څپېز جوړښت له مخې به یو ثابت شکل غوره کړي، خو د پیغام د لېږد لپاره به یې لمن پراخه نه وي، نو که شپږ څپېزې، اوه څپېزې او اته څپېزې تکوریزې رامنځته شي، د پرمختګ چانس یې هم ډېر زیاتېږي او د موسیقۍ لمن ته هم په اسانۍ سره لاره پیدا کولای شي.

## ۳- هایکو:

هایکو یوه جاپاني کلمه او د یوه جاپاني شعري فورم نوم دی، چې په نړۍ کې تر ټولو ډېر کوچنی شعري فورم ګڼل کېږي. دا هغه ډول شعري فورم دی چې نه وزن لري، نه قافیه، نو ځکه یې لیکوال یا شاعر په پنځونه کې ازاد دی، څومره چې دا د وزن او قافیې له قیده ازاد دی، همدومره یې لیکل سخت دي، ډېرې باریکۍ او ژورتیا ته اړتیا لري.

ادبپوهان وایي چې دوه زره کاله پخوا (هایکو) د (تانکا) په نامه د (۳۱) څپېز شعر لومړنۍ برخه وه، دا هغه ډول شعر و چې د پوښتنې او ځواب په بڼه ویل کېده، وروسته بیا په (۱۲مه) میلادي پېړۍ کې لومړۍ اولس (۱۷) څپېزه برخه له دویمې (۱۴) څپېزې برخې جلا او د یو خپلواک فورم بڼه یې خپله کړه. (د صدیق الله بدر لیکنه).

په جاپاني ژبه کې هایکو له ډېرو باریکیو ډکه ده. په همدې خاطر یو الماني ژباړن (مانفرد هاوسمان) په دې نظر دی چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاپانۍ پرته د نړۍ هېڅ ژبه ددې توان نه لري، چې په (۱۷) څپو کې همغه څه بیان کړي، چې یو جاپانی شاعر یې د هایکو په قالب کې بیانوي.

په جاپاني ژبه کې د هایکو هندسي جوړښت په دې ډول دی:

_________ پینځه څپې

_________ اوه څپې

_________ پینځه څپې

دا فورم ټولې درې مسرې لري، چې لومړۍ او درېیمه یې سره مساوي یانې هره یې پینځه پینځه څپې لري، خو دویمه یې بیا لږ اوږده چې ټولې اووه څپې لري. جاپاني هایکو بیا د پښتو لنډۍ په شان هم نه ده، چې شاعر یې معلوم نه دی او هر څوک چې د زړه درد او غم ولري، احساس پرې غلبه وکړي، لوستی وي که نا لوستی، پېغله وي که ځوان ټول یې ویلای شي. جاپاني هایکو ډېره باریکه او له خاصو نزاکتونو ډکه ده، یوازې ډېر مطرح شاعران یې ویلای شي، هغه شاعران چې په هایکو کې مهارت لري هغه څرګند دي.

(ماتسـوـیو باشـوریا) (۱۲۴۴-۱۲۹۴م) (بوسـوـن) (۱۷۱۲-۱۷۸۳م) (ایسـا) (۱۷۲۴-۱۸۲۷م) او (شـیـکي) د (۱۸۶۷-۱۹۰۲م) نامتو هایکو ویونکي دي. د دوی د هر یوه، یوه یوه هایکو به هم راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتسو یوباشوریا:

زوړ ډنډ
د کانتهار منډه
د اوبو غږ

بوسون:

د زاړه ډنډ غاړه
کانتهار زړېږي
رژېدلي پاڼې

ایسا:

دا شبنمي نړۍ
بېشکه شبنمي ده
خو تراوسه...

شیکي:

فکر کوم
دا مې وروستی کال
دا امبلوک خورم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څومره او په هر ډول چې جاپاني هایکو د نړۍ نورو ژبو ته واړول شي، هغه خوند او هنر نه شي لېږدولای لکه په خپله، چې په اصلي جاپاني ژبه کې خوندي دی. جاپاني او چیني ژبه د هجایي سیستم لرونکې دي. په دې ژبو کې څپه یا هجا خپله یوه مستقله مانا لري، خو په پښتو او ځینو نورو ژبو کې کېدی شي څپه کومه مستقله مانا ولري او یا یې ونه لري.

دا چې جاپاني هایکو څه وخت او څه ډول پښتو ته راغلې ده، تراوسه پورې دقیق معلومات نه شته او نه هم په پښتو کې کټ مټ جاپاني هایکو ته ورته شعرونه ډېره سابقه لري.

په پښتو کې ظفرخان ظفر (د ناوې لور) په نامه د (هایکوګانو) یوه ټولګه لري. په دې ټولګه کې (۳۰۲) هایکوګانې راغلي، لومړی ځل په (۲۰۰۴) او بیا په (۲۰۰۸) م کال کې چاپ شوې ده.

یه خدایه پاکه ما په دې مه نیسه!
زه خو دا خلک خندومه ځکه
چې څوک له غمه خودکشي ونه کړي.

✵✵✵

ما چې وهل او ټکول وخوړل
ما ته ارمان د دې خبرې راغی
زه د جانان کوڅې ته څله تلمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ظفرخان ظفر وورسته ځوان ليکوال (محب الله سباوون) هم د خپلو هايکوګانو يوه ټولګه چاپ کړې ده. ((په چنارونو دې لمبې پورې شي)) دا ټولګه (۴۲۹) هايکوګانې لري.

مور چې کيسې د ماشومتوب کوونو
سترګې يې ډکې شي له اوښکو وايي
ځه سباوونه اکوبکو وکړو.

✵ ✵ ✵

ځه چې کړو ماته د ماحول خاموشي
محبوبې زه به هايکو ووايم
ته خو جينۍ يې ځه ټپه شه په کې

✵ ✵ ✵

او به دې تېل شي نور د دغې چينې
ما او جانان چې ورله نه راځو نو
په چينارونو دې لمبې پورې شي.

پورتنۍ هايکوګانې چې مور ګورو له جاپاني هغو سره يې درې غټ توپيرونه دي: لومړی دا چې د پښتو هايکو د دريواړو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی، دويم دا چې دا هايکو يو مقيد وزن تعقيبوي او دريېم دا چې د پښتو ټولې هايکوګانې د څپو د شمېر له مخې يو شان جوړښت نه لري. ياني د څپيز جوړښت له مخې کېدی شي د يوې هايکو د څپو شمېر يو ډول او د بلې بل ډول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د هرې هايکو د خپلو مسرو د خپلمنځي څپو شمېر سره مساوي دی.

پورتنۍ هايکوګانې ټولې (۱۱) څپيزې دي. درې واړه مسرې يې يو واحد وزن تعقيبوي.

خو نورې هايکوګانې هم شته چې د څپو د شمېر له مخې له دې توپير کوي.

د نجيب الله عامر يوه هايکو:

خدايه يو غټ زړه راکړې
لکه د غره په شان ته
خو چې د کاڼي نه وي.

د څپو شمېر يې اووه اووه څپې دی.
خو د پښتو د ټولو هايکوګانو هندسي جوړښت يو شان دی.

---

---

---

په دې ډول که موږ د شکل له پلوه وګورو پښتو هايکوګانې له جاپاني هغو سره پوره توپير لري، داسې نه دي لکه د غزل، قطعې، رباعي، قصيدې او نورو په شان چې په پښتو او عربي کې يو ډول شکل لري. د محتوا له مخې هم پښتو هايکوګانې اکثره مزاحيه رنګ لري، خو جاپاني هايکو د طنزيه محتوا ترڅنګ د طبيعت د ښکلا انځورونې يوه ښه هنداره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه

۱- پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار، پښتو ټپیزه د جاپاني هایکو ترڅنګ، ۱۳۹۱ل کال.

۲- محبوب شاه محبوب، ټپیزه او ټکوریزه د ټپې معنویت ته ګټه رسوي که تاوان؟۱۳۹۱ل کال.

۳ – انورالحق، ټپه که د ولس مال دی نو ټپیزه د چا ده؟۱۳۹۱ل کال.

۴ – محمد حنیف حیران، د پښتو ټپیزې رامنځته کېدل، برياوې او پر وړاندې يې اند ښنې او چیلنجونه، ۱۳۹۱ل کال.

۵ –صدیق الله بدر، هایکو، ۱۳۹۱ل کال.

۶ – عبدالله کمال، پښتو ادب ته هایکو له کوم لوري راغله؟ ۱۳۹۱ل کال.

۷ – محمدعزیز تحریک، د اخلاقي جرئت غوره سمبول، ۱۳۹۰ل کال.

۸ – محمد اسمعیل یون، د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۱۳۸۷ل کال.

۹ – محبوب شاه محبوب، ګورګورې، ۱۳۹۰ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو اوسنی شعر د حوادثو په مسیر کې
## (۱۳۸۱-۱۳۹۱ کلونه)

> دا لیکنه پر ۱۳۹۱ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه کې د یوه علمي کنفرانس په بڼه اورول شوې ده.

پښتو شعر له امیر کروړه رانیولې بیا تر شیخ اسعد سوري، ښکارندوی غوري، ملکیار غرشین، هوتک بابا، روښانیانو، د خوشال تر عصر او ان تر دې معاصرې دورې پورې اکثره د حوادثو تر سیوري لاندې ټوکېدلی دی. کله حوادثو شعر ټوکولای او کله شعر حوادث زېږولي دي. په یوه لنډه لیکنه کې نه شي کېدای د یوې ژبې د شعر د پنځونې ټول اساسي عوامل او حوادث بیان شي، له همدې کبله خپلې اصلي موضوع او مهالیزې محدودې ته راځم او یوازې په نږدې یوه لسیزه (۱۳۸۱-۱۳۹۱) کې چې د سختو سیاسي او پوځي پېښو لسیزه ګڼل کېږي، د پښتو شعر، پرمختګ پړشاتګ، خوځون او بدلاینې په باب بحث کوم:

په دې لیکنه کې دغه لاندې غټې ټکي بیانوم:

- د لیکوالو او شاعرانو د کاري ساحې بدلون

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سیاسي او پوځي حوادث او پښتو شعر
- د پښتو شعر شکل
- په پښتو شعر کې د شعریت او شعاریت معادله

## ۱- د شاعرانو د کاري ساحې بدلون:

(۱۳۸۱-۱۳۹۱المریز) کلونه داسې لسیزه ده، چې افغاني ټولنه له سترو پېښو سره مخامخ ده. په دې پېښو کې یو شمېر مثبتې پېښې هم شته او منفي هغه هم. د مثبتو پېښو له جملې څخه یوه هم په افغانستان کې د رسنیو ازادي او رسنیزه پرمختیا ده. په دې لسیزه کې په افغانستان کې په منځني ډول تر (۱۰۰۰) عنوانو زیاتې چاپي رسنۍ، د (۱۵۰) په شاوخوا کې غږیزې یا راډیویي رسنۍ، (۵۰) په شاوخوا کې لیدنۍ یا ټلویزیوني رسنۍ او په سلګونو برېښنا ییزې یا انټرنېټي رسنۍ راټوکېدلي دي. ددې ګڼ شمېر رسنیو راټوکېدنه د ټولنې د ودې د طبیعي بهیر نتیجه نه وه، د تصنعي ولسواکۍ، د بیان د ازادۍ او د نړیوالې ټولنې د ناکنټروله اقتصادي مرستو نتیجه وه.

دې کار پر خپل ځای او وخت خپلې خپلې ګټې او زیانونه درلودل، چې د ټولو سپړنه یې ددې لیکنې له وسه وځي. د رسنیو دې چټکې ودې یو زیات شمېر کدرونو ته اړتیا درلوده. څرنګه چې دا مهال د ژورنالیزم په ډګر کې دومره ګڼ شمېر کدرونه موجود نه وو، نو د رسنیو چلوونکي اړ وو له هغو اشخاصو څخه هم ببرنۍ ګټه واخلي چې ژورنالیزم یې آر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلک نه و ، خو د ژورنالیزم له ساحې سره یې څه نا څه کار درلود. لیکوال او شاعران چې په اسانۍ سره د ژورنالیزم چارې پرمخ وړلای شي، د نویو رسنیو ددې پراخې ساحې لپاره تر ټولو وړ کسان وګڼل شول، اکثره لیکوال او شاعران په رسنیو کې پر سنیز کار بوخت شول. دې کار که له یوې خوا د رسنیو ماشین وڅرخوه، رسنۍ یې ښې وځلولې، خو له بلې خوا دې کار د لیکوالو او شاعرانو تخلیقي هڅو او پنځونو ته سخت زیان ورساوه.

شاعران اړ وو لکه د ماشین د یوې پرزې په شان کار وکړي او استهلاک شي، ټوله ورځ خپلو رسنیزو چارو ته پاملرنه وکړي او تخلیقي کار ترې پاتې شي. که څه هم رسنیو په خپل ذات کې شعر و شاعرۍ او په ټوله کې د ادبیاتو ځلونې او پراختیا ته ډېر کار وکړ، خو خپله هغه شاعر چې پخوا یوازې د شاعر په توګه مطرح و او د زیاتې پنځونې وخت، ظرفیت او ځواک یې درلود ، په رسنیزه برخه کې د هغه مصروفیت ددې سبب شو چې ټوله انرژي یې پر څو برخو ووېشل شي. نو په دې ډول شاعرانو ژورنالیزم خپل ځان ته دویم مسلک په توګه غوره کړ. دې کار طبعاً پر پښتو شاعرۍ نامطلوب اغېز وښنده. لکه څنګه چې یو ژورنالیست ته په ژورنالیستي کار کې د ژوند د خړوب لپاره ښه زمینه برابره شوه، دغسې که شاعر ته هم یوازې په شاعرۍ کې دومره امکانات برابر شوي وای، نو شاعرانو به د شاعرۍ په برخه کې ډېر کار کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- سیاسي او پوځي حوادث او پښتو شعر:

په تېره یوه لسیزه کې د خوږو پښتو په انډول د ترخو حوادثو شمېر زیات وو. پښتنو شاعرانو، د کلاسیکې دورې په شان ارامه ذهني فضا نه لرله، د متواتر تفکر لپاره هم وخت ډېر نه وو. د شاعر په باب دا ویل کېږي چې پوټکی یې ډېر نازک دی، د چاپېریال پېښې پرې ډېر ژر تاثیر کوي او چټک غبرګون ښيي. په پخوانیو دورو کې که څه هم شعر له محیطه متاثره کېده او له همدې پېښو راټوکېده، خو داسې شعرونه هم په کې وو چې خپله د پېښو د ټوکېدو سبب کېدل. یوه ساده شان بېلګه به یې ورکړو: که د میوند جګړه نه وای رامنځته شوې، نو د ملالۍ د خولې دا ټپه:

(که په میوند کې شهید نه شوې ــــ خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه) نه رامنځته کېدله، خو که د ملالۍ له خولې دا لنډۍ نه وای راوتلې، نو کېدی شول افغان ځوانان به په ولولو نه وای راغلي او د میوند د بري پېښه به زموږ په نصیب شوې نه وای. دلته ګورو چې پېښې یو شعر او شعر بیا بله بریمنه پېښه وزېږوله. کله چې موږ تېر لس کلن بهیر ته ګورو، دلته پېښو شعرونه یا نظمونه ټوکولي، خو شعرونو بیا پېښې نه دي ټوکولي. هره هغه سیاسي یا پوځي پېښه چې افغانستان کې رامنځته شوې، پر لیکوالو او شاعرانو یې خپل اغېز شیندلی دی. د جګړې په ډګر کې چې کوم اصطلاحات او مفاهیم کارول کېږي، هغو پېښو شعر یا نظم ته هم لاره کړې ده. الوتکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټانکونه، څانوژنه، بهرنیان، کورنیان، واسکټ، ماین، فساد، رشوت، دیموکراسي او نور چې د اوسنۍ جګړې او د ټولنې د ناخوالو بېلابېل عناصر دي، پښتو نظم کې یې هم همدا ډول انعکاس موندلی دی:

د ځان وژنې منظره لکه پتنګ خوښوي
دغه سړی بې ننګه ژوند نه، مرګ د ننګ خوښوي.
(جلال امرخېل، اوس دې هم هره شېبه په خوب کې وینم)

هر بهرنی عنصر چې د افغانستان په جګړه کې په یو نه یو ډول ښکېل دی، شعر یا نظم ته یې هم په همغه ډول لاره کړې ده.

ای په مشرق کې د مغرب واکداره
ستا نه دې پاک خدای(ج) دا زور واخلي
زما د خاورو کور دې لولپه کړ
ستا دې دا سپینه ماڼۍ اور واخلي
یارانو دوه مره ځوربدلی یمه
والله که داغ زړه مې ټکور واخلي
که پاکستان همدا سې وي ملګرو !
جنګ به ځلریشت کاله نور واخلي

✵✵✵

ماته په سر چورلکې مه ګرځوه
تا خو زما په وطن غم جوړ کړ
خپلو بنګلو ته رڼاګانې ګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما جـونګړې تـه دې بـم جـوړ کـړ
تـا راتـه کومـه فابریکـه جـوړه کـړه
کـوم یـو سـړک دې راتـه سـم جـوړ کـړ
خـالي همـدومره دې لـه وسـه کېـدل
چې غـټ نفـاق دې چـم پـه چـم جـوړ کـړ.

(سمیع الله تړون، زه دې نور نوم په ژبه نه اخلمه)

لس کلنه دیموکراسي هم له هغو پېښو څخه ده چې په ناڅاپي ډول افغانستان ته وارد شوه، دې ولسواکۍ خپل طبیعي پړاوونه نه دي بشپړ کړي، ځکه خو لکه څنګه چې لازمه وه، په ټولنه کې یې خپل ځای تثبیت نه شو کړای، شاعران او لیکوال هم دې پېښې نقش ته متوجه شوي دي، په خپل کلام کې یې تر ټینګو نیوکو لاندې راوستې ده:

بـې دوه پنځـوس راوسـتې ده بـلا دموکراسـي ده
د چـور، د رشـوتونو او د غـلا دموکراسـي ده
ولـس لګیـا پـه خپلـو لاسـو وژنـې ولسـونه
دا چـا ویـل غلطـه ده رښـتیا دموکراسـي ده
فاشـیزم، کمـونیزم بـل هـر ایـزم تـرې کربـان شـه
دا مـوږ تـه یـې راوړې چـې کـه دا دموکراسـي ده
قـدم پـه قـدم بـم دی او بمبـار دی او بلـوا ده
سـبا دموکراسـي ده او بیګـا دموکراسـي ده
بګـرام، ګوانتانـامو ابوغریـب کـې چـې څـه کېـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــر دې زياتــه ليــدلې چېــرې چــا دموكراســـي ده؟
زمــا نالوســتي خلــک بــه ضــرور پــرې نــه پــوهېږي
دا ځکــه چــې دا مېــډ ايــن امريکــا دموكراســـي ده
څوک مات دربانډې نه کړي ببکسيا ره دا ګنجی سرلې
پــــام کــــوه اشــــنا ډېــــره رســــوا دموكراســــي ده.

په تېرو لسو کلونو کې د زور او زر په ملاتړ د ځينو اشخاصو تصنعي وده او واک ته رسېدل هم هغه پېښې دي، چې د ټولنې د عامو وګړو له خوا غندل شوي دي. د ترخو واقعيتونو په توګه دي حالاتو هم د شاعر کلام ته لاره کړې. د هېواد تکړه شاعر پير محمد کاروان په خپل يو کلام کې په هېواد کې د دوو داسې شخصيتونو پرتلنه کړې چې په يوه کوڅه کې يوه بل ته مخامخ کورونه لري، يو د زر او زور خاوند دی، واکوال او ټوپکوال دی او بل نه زر لري نه زور، خو د علم د يوې لويې شتمنۍ خاوند دی. شاعر دا دوه شخصيتونه يو بل سره پرتله کړي دي:

## دا ايمان غونډې سړی

د کابــــل پـــــه خيرخانــــه کــــې
څوټولیـــــــه وســــــــله وال دي
دلــــوی کــــور مخې تــــه ګرځــــي
پــــــه باروتو ښــــــه ســــمبال دي

❃❃❃

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلنګـــي کـــالي پـــه غـــاړه
ترېنـــه پلـــي خلـــک رېـــږدي
ايلـــه ســـترګې چـــې کـــږې کـــړي
لکـــه خلـــي خلـــک ريـــږدي

✵✵✵

پـــه دې کـــورکې بـــه چـــې خـــدازده
ســـپين کـــه تـــور ســـړی او ســـېږي
بـــس يـــو دا رازيـــې ځرګنـــددی
چـــې د زورســـــړی او ســـــېږي

✵✵✵

ودې کورتـــــه کلـــــه کلـــــه
پـــــه ســـــحرپه غرمـــــه راشـــــي
ســـره ځراغونـــه ښېښـــې تـــورې
دموټرو ،رمـــــــــه راشـــــــــي

✵✵✵

ددې کورپـــــه مقابـــــل کـــــې
يوســـــاده غونـــــدې کـــــورګی دی
يوســـپين ږيـــری پـــه کـــې اوســـي
دايمـــــان غونـــــدې ســـــړی دی

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه عسکر نه يې پيرې شته
د باروتو د اورونو
خو کړې دي ترېنه تاوې
د زړګوټو د فکرونو

***

چار چاپېر ورته ولاړ دي
کتابونه دېوالونه
پاڼې پاڼې پسې ګوري
لري سل زره فکرونه

***

کله يو کتاب را واخلي
کله بل کتاب را واخلي
کړي له ګل سره خبرې
د بلبل کتاب را واخلي

***

د ملالې ژبه وايي
په خپو په سېلابونو
دومره خوږ دومره شيرين دی
لکه شرنګ د ربابونو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخـــامخ چـــې ورتـــه کېنـــې
لکـــــه نوردربانــــــدې ووري
بـــس خبـــرې يـــې چـــې اورې
يو سُـــــــــــرووردباندې ووري

❋❋❋

کــه تــرې يــوه پوښــتنه وکــړې
نوبـــه لـــس ځوابـــه درکـــړي
کـه تـش ډاګ يـې هـم بـه بـاغ شـې
دی بـــه ســـل ګلابـــه درکـــړي

❋❋❋

دزړه تنـــده پـــرې مـــاتيږي
داوبوغونــــدې يـــې رنـــګ دی
پـــاچهي تـــرې صـــدقه شـــه
لـوی درویـش دی لـوی ملنـګ دی

❋❋❋

کـــه بيمـــارېې ورتـــه راشـــه
چـــې خبـــرې يـــې انـــاردي
پـــه موســـکاکې يـــې راتـــولې
ســـل جـــوپې دلالـــه زاردي

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر کوليونـــــه يـــــې دزړونـــــو
دقلـــــم پـــــه کيلـــــي وا دي
ده پرقــــام بانـــــدې وېشـــــلې
ډکـــــې لپـــــې د رڼـــــا دي

✵✵✵

خدايـــــه شـــــکر خدايه شـــــکر
چـــې پښـــتون قــام کـــې پيـــدا دی
پـــــه رمـــــوز دعلم پـــــوی دی
لـــــوی عـــالم دی لـــوی بابـــا دی

✵✵✵

علامـــــه رشـــــاديې نـــــوم دی
پښـــتون جـــم دی پښـــتون جــام دی
تـــرې لـــوګی اوســـپېلنی شـــم
دکـــــاروان شـــــعرته الهـــــام دی.

په دې شعر کې شاعر دوه بېلابېل متضاد شخصيتونه پرتله کړي دي. دا شخصيتونه زموږ د ټولنې د پېښنو زېږنده دي، خو شاعر په ډېر هنري ډول دا سره پرتله کړي دي.

په افغانستان کې د ګڼو دردوونکو پېښنو په منځ کې د کندهار د پنجوايي پېښه خورا دردوونکې ده، دې پېښې د ګڼو افغانانو او بشرپالو نړيوالو احساسات راوپارول، دې پېښې د شاعرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

روح هم وټکوه، په لسګونو شاعرانو دې پېښې ته شعرونه وويل او ددې ډله ييز درد انځور يې وکاږه. ددې پېښې په اړه له ويل شويو شعرونو څخه ځانګړې ټولګه جوړه شوې. د يو شاعر د نظم يوه برخه:

وايه اسمانه!
چې په غبرګ کې دې،
رانه رانه
د سپوږمۍ خواته
ستوري چا وخوړل؟
او د ګلاب
له بوټي چا
په توره شپه کې
پانه پانه د غوټۍ
له غبرګې ژوند
په سرو لمبو سوځوه؟...

(د پوهنمل حبيب زي د شعر يوه برخه)

او دا هم ددې پېښې په اړه بل شعر:

اخ جوړه بچي مې نه شته د کور ستنه مې ده رنګه
وئ په خپلو وينو لامبي اوس يې ورې زما له څنګه
زما بچي خو مکتبيان وو، د دوی څه وو ستا له جنګه؟
وئ جوړه بچي دې ومره، سره کاپره سره پرنګه!

✲ ✲ ✲

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېګـــاه دوا ړو رانـــه غوښـــتې يـــو يـــو ګـــرم ټيکلـــی و
دا يــو ســره خولــه هلکــی و دا بــل ګــل غونــدې زلمــی و
اوس يـــې برېتـــې تـــاوولې پاچـــا هی ـ تـــه جـــوړ ســـړی و
يــو مــې ســر تــه راتــه پــروت و بــل مــې پښــو تــه لکــه وری و

***

چـې پــه تــوره نيمــه شــپه کــې ســور لېــوه پــر کالــه راغــی
لکـــه ســـپی چـــې لېـــونی شـــي غورېـــده پـــر کالـــه راغـــی
هـــره خـــوا يې اورولـــې ســـرې ګـــولۍ لـــه ماشـــينګنې
خوند يې اخيست زموږ له چيغو غړمبېده پر کاله راغـی

***

مسلمانو خويندو ورونو ! زما دا خيرې ګريوان ګورئ؟
دا نوکـارې زمـا پـه مـخ کـې دا د وينـو نښـان ګـورئ؟
دا چې وينې وينې ژاړي، دا چې مرګ له خدايه غـواړي
دا زمـا د بچـو پـلار دی، دا مظلومـه انسـان ګـورئ؟

***

د ده مخکـې تـوره شـپه کـې ، سـره کـاپر يـم لټـولې
پاچـا زمــوږه چيغــې واوره ! يــو خنځيــر يــم لټــولې
پاچا سپي يې راشکارلي، پاچا سر يې راتـه لوڅ دی!
پاچـا بنـد پـه بنـد يـې ټولـه، ښـه پـه ځيـر يـم لټـولې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه له خوبه پاڅه ، کندارۍ مېرمنه ژاړي!
سره کا پر ده ځورولې يوه بله غزا غواړي
احمد شاه د تا په پښو کې يوې ښځې تندی اېښی
چا يې وړې لوپټه ده تا نه خپله حيا غواړي

❋❋❋

احمد شاه ! د سرو کاپرو ستا په مينه کې غوبل دی
هره شپه په کور را اوړي په سرونو مو اوربل دی
احمد شاه ! ککرې ډېرې ، خو د سر سړي مو نه شته
مورې به ټوله ورپسې شو خو کمی د يو اتل دی

❋❋❋

احمد شاه ! بېګاه يې بوره د جوړه زلميو مور ده
دا کيسه څه نوې نه ده، هره ورځ په يوه کور ده
اخ په وير يې کېنولې د تنکو ژړکيو خور ده
بيا د غم توره لمنه خوره شوې لور په لور ده

❋❋❋

احمد شاه ! کيسه مې واوره زما زړه له ژونده تور دی
د کافرو په لاسونو سوځېدلی زما کور دی
احمد شاه ! پاچا مې ژاړي، ورته ګوره دا يې زور دی
او د دين په نوم چې جنګ کړي دا هم خدای چې په زړه تور دی

❋❋❋

لويه خدايه ! زمونږ په ملک کې د دستار سړی پيدا کړه
چې مشال غوندې بلېږي يو د کار سړی پيدا کړه!
سفيد پوشه بلا ورکه ، ژړندوکي پاچا واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

يـو هوښـيار سـړي پيـدا کـړه د وقـار سـړي پيـدا کـړه!

(د عبدالهادي هادي شعر)

دې ډول ناڅاپي خوځيـو د پښـتو شعر لمـن نيـولې، څه چې پـه ټولنه کې تېرېږي هغـه شعر تـه هم لاره کوي. دا بـل ازاد شعر هم وګورئ:

## ببرنی خبر

سره کرښه

ځل ځل

بل بل

ډېره لنډه

ډېره تېزه

را ښکاره شوه په سکرين

د تلوېزيون

ژر شوه تېره بيا راتېره

زړه مې ډب کړ

زړه مې ډيب کړ

زړه مې درز کړ

بيا به څوک وي؟

بيا به څوک؟

کوم وکيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم یو ملک

کوم ښوونکی

کومه پېغله

کوم ماشوم د ښوونځي؟

یو ځل بیا سکرین ته ځیر شوم

بیا الوتي

بیا پرېوتي

تورو خاورو کې شتېږي

لاس یې یو سر یې بل چېرته

ټولوي یې اندامونه

د وجود

سپینو کځوړو کې پولیس

پولیس هم په وینو رنګ

ځمکه هم په وینو سره

هلته پورته

رېبل شوي دي

د شنو ونو شاخونه

نیم دي سوي لوغړن

هلته لرې په بر شاخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی راځوړند کمربند

د ښوونځي د کوم ماشوم

څاڅکی څاڅکی

وینه څاڅي

مور یې ژاړي ګرېوان څیرې

لګوي تندی پر ځمکه

سولوي خاورې په خولې

وايي څه شو زوی مې څه شو ؟

ما خو نن سهار چوف کړی

له قرانه مې تېر کړی

ټول سورت مې پرې وېلی

نو بیا ولې

نو بیا ولې

خدایه خدایه

لویه خدایه !

یو سپین ږیری هلته لرې

د پولیس ترخنګ ولاړ دی

څوک یې نه پرېږدي صحنې ته

د لونګۍ شمله یې خوله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيخکه سترګو ته نيولې

دا سپې ژاړي دا سپې ژاړي

لکه چا يې چې سينه کې

د ځيګر ټوټه رېبلې

زه هم ګورم تلو بزيون ته

د سکرين پرمخ بيا ليک شول

شل ټپيان، شل وژل شوي

شل لا نور هم لا درک دي

يو سربول، يو سندرغاړی

يو وکيل د قوم سپين ږيری

يو ښوونکی

زده کوونکی

يوه مور

او يو تي روی هم شامل دي

په ټپيانو

او په مړو کې

ژر مې لاس کړ ټليفون ته

يوه نومره مې کړه ډايله

وروره څنګه يې خيريت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو ښه يمه ته ښه يې؟

خو غږ نه راځي په فون کې

يو سورت دى، تلاوت دى

د قران د سورتونو

بيا مې زنګ

په زوره تېر کړ

وروره څنګه يې خيرت دى؟

بيا سورت دى

بيا سورت

تلاوت دى تلاوت

شېبه پس زنګ راغى

له کوره

يو اواز و غريو نيولى

يو فرياد و غريو نيولى

ما ويل څه دي؟

ژړ ووايه؟

هغه هغه...

هغه بم چې نن چاودلى

ها ځانمرګى بريد چې شوى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ها چې شل یې دي وژلي

ها چې شل یې ټپیان کړي

ها چې ته پرې نازېدلې

ها چې ته پرې ویاړېدلې

ها باتور او شمله ور

ها د قوم چې مخور

هغه ورور یې ستا وژلی

سترګو تور یې ستا وژلی.

د دا ډول پېښو په لړ کې د کونړ، شینوارو، شینډنډ، لغمان، هلمند، بره کې برک، ارزګان، پکتیا او په هېواد کې د نورو سیمو د حوادثو په باب ګڼ شمېر شعرونه ویل شوي، چې دلته د ټولو یادول ممکن نه دي.

## ۳- د پښتو شعر شکل:

په تېره یوه لسیزه کې د فورم له مخې اکثره هغه شعري فورمونه کارول شوي چې په پښتو کې ډېر دود دي، خو په دې کې غزل او ازاد فورمونه زیات کارول شوي دي. سربېره پر معمولو پښتو شعري فورمونو نوي رامنځته شوي شعري فورمونه، لکه (هایکو، ټپیزه او ټکوریزه) هم کارول شوي، خو څومره چې پښتو غزل او ازاد شعر د تېرو لسو کلونو حوادثو ته ځانګړي شوي، نور فورمونه د دوی په انډول د پېښو زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

منعکسوونکي نه دي. په تېره يوه لسيزه کې په پښتو شعر کې محتوايي او شکلي پرمختګ د واړه ليدل کېږي، خو څرنګه چې د ټولنې په نورو برخو کې د نورو لسيزو په اندول زيات پرمختګ شوی دی. په پښتو شعر کې د ښکلا ييز پرمختګ سرعت ډېر زيات نه دی. په تېرو لسو کلونو کې لږ تر لږه هر کال تر سلو عنوانو زياتې شعري ټولګې چاپ شوي دي، د کميت له مخې د نورو لسيزو په اندول دا يو ښه کميت دی، خو او سنيو تخنيکي امکاناتو ته په کتو سره بيا هم دا د ګاونډيو هېوادونو د شعري اثارو تر کميت ډېره ټيټه کچه ده.

په دې لسيزه کې ازاد شعر ډېره وده کړې، علت يې کېدی شي دا وي چې ازاد شعر په خپله لمن کې د ډېرو پېښو د ځايونې ظرفيت لري؛ يوه پېښه له پيله تر پايه انځورولای شي؛ شاعر ددې امکان لري چې د پېښې د انځورونې ترپايه خپل کلام وغځوي، خو په غزل او نورو مقيدو فورمونو کې د شاعر پر وړاندې ثابت محدوديتونه دي.

په پښتو کې درې نوي شعري فورمونه، (ټپيزه، ټکوريزه او هايکو ) هم په دې لسيزه کې ښه وځلېدل خو لا هم ددې دريو اړو شعري فورمونو پوخوالي ته لا ډېره لاره پاتې ده.

## ۴- په پښتو شعر کې د شعريت او شعاريت معادله:

کله چې په ټولنه کې بحراني حالت واکمن وي، په شعر کې يې هم د بحران انعکاس حتمي دی. ځينې ادبپوهان په دې نظر دي چې ډېر ښه ادبيات د اختناق په مرحله کې راټوکېږي، ښه مثال

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې روسي ادبيات ګڼي چې يوه زياته برخه يې د اختناق په شرايطو کې راټوکېدلې ده، خو اختناق او بحران په تېره بيا پوځي او سياسي بحران يو له بل سره توپير لري. د اختناق يو ډول په ټولنه کې داسې يوه مرحله ده چې ټولنه کې عام نظم ټينګ وي، خو هغه اشخاص چې له حاکميت سره سياسي او فکري تضاد لري، هغوی ته خطر متوجه وي، په بحراني شرايطو کې د ټولنې ټول اقشار تر تهديد لاندې وي. افغانستان په تېرو نږدې درې نيمو لسيزو کې له همداسې يو بحران سره مخامخ دی. تېره يوه لسيزه هم يوه لويه سياسي او پوځي بحراني لسيزه وه. ددې کړکېچ بېلابېل اړخونو، محتوا او تاثراتو شعر ته هم لاره کړې ده. ځينې شاعران په دې بريالي شوي چې د کړکجنو پېښو له انعکاس سره سره د خپل کلام هنري جوهر او شعريت خوندي وساتي. (شعريت) د شعر جوهر دی لکه (انسانيت) چې د انسان جوهر دی. يا (سړيتوب) د سړي. د عوامو په اصطلاح په يوه سړي کې چې سړيتوب نه وي، نور څه په کې نه پاتې کېږي. شعر کې هم چې شعريت نه وي او يا په کې کمزوری وي، شعار ورڅخه جوړېږي. شعار که څه هم مانيز بار لېږدوي، کېدی شي ښه او مثبت پيغام هم ولري، خو بيا هم که هنريت يې کمزوری وي، خوند يې له منځه ځي؛ ډېر عمر نه شي کولای. شعاري کلام کېدی شي د عوامو په ذوق برابر وي، خلک يې خوښ هم کړي او خوند هم ترې واخلي. ددې خوند علت به دا وي چې شعاري کلام ساده او تر يوه حده د عوامو په ژبه دی، بيان يې هم مستقيم دی او د هنر له کوم شفاف فلتره نه تېرېږي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرو لسو کلونو کې په پښتو کې ډېر داسې نظمونه ویل شوي چې شعاري برخه یې تر شعریت یا هنري برخې درنه ده. په تېرو څو بېلګو کې هم موږ د شعاریت څرکونه ګورو ، په تېره هغه شعرونه یا نظمونه چې د کومو مشخصو پېښو یا حالاتو انځورنه کوي، په هغو کې د شعاریت تومنه زیاته ده. شعاریت نه یوازې په ازاد نظم او غزل کې محسوس دی، بلکې د پښتو د ولسي شاعرۍ نورو فورمونو ته یې هم لاره کړې ده. لنډۍ چې د پښتو ولسي ادب یو خورا قیمتي غمی دی، په تېرو لسو کلونو کې ځینې داسې لنډۍ را منځته شوي چې د شعار او تصنع ځانګړتیاوې په کې په څرګند ډول ښکاري. دا څو بېلګې به وګورو:

د مسینجر اواز دې خپ دی
یاره د سکایپ له لارې نیسه تماسونه
بیا شل اوریز مېچونه پیل شول
یار مې نوروز دی سپېنزان پرې لوبومه
جانانه صبر دې لړ ډېر کړه
په سړک ماین دی زه په پوله پوله ځمه
بیا به د چاکور کې غوغا وي
په هوا ګرځي د ناټو جنګي جازونه
هلیکوپټر په شان کړه شوه
د زړه په سر یې په راکټو وویشتمه
طالب بګرام کې خپته وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوباما لالا قورمې خوند ورکوينه
ځانمرګی برید راباندې وکه
داسې خو مه وايه چې خوله نه درکومه
جانانه سمه امريکا يې
هم ملامت يې هم زارۍ درته کومه
زما کافر کافر جانانه
درته طالب طالب کېدم شهيد دې کړمه
جانانه سمه القاعده يې
زه امريکايم تل زارۍ درته کومه.

په دې لنډيو کې که څه هم د ټولنې عينې واقعيتونه شته، په تېره هغه څه چې په دې تېره يوه لسيزه کې عملاً پېښ شوي دي. پر عوامو به هم تر يوه حده ښې ولګي، خو هغه خوند او لذت چې د پښتو په اصلي ولسي لنډيو کې شته، په دې کې نه شته، دا يو څو ټېپيزې به هم د بېلګې په توګه يادې کړو.

ښځه مېړه ده مېړه ښځه
له مانه واوره غرب ته مه ځه
درته په لږ خبر وای وځه
دا ځي په بره ته په کوزه
که څه دې وويلې پوليس ته زنګ وهينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهـــار کـــې وغـــواړي بـښنه
بـــېګاه تـــه بـــيا وکـــړي وژنـــه
د مـــرګ مـــو لـــوړه شوه سلنه
له دوی به څوک وکړي پوښتنه
چاروا کي اوس د ځان په حال ژړا کوينه

❋❋❋

ديـموکـــراسۍ کړله شا خداره
نـــه ځـــي مـــېړه ســـره په لاره
درناوی ورک شو خدای لپاره
ښځه مېړه باندې واکداره
د بچو حال به يې اينده کې څنګه وينه

د مفـاهيمو مسـتقيمه او بربنـډه افـاده د شـعر شـعريت کمـزوری کوي. د پښتو پـر زيـات شمېر نظمونو اوس د شعاريت سيوری خور دی. که په مجموعي ډول يې وارزو ، په تېرو لسو کلونو کې د شعاري نظمونو کچه خورا زياتـه شوې ده. پـه ادبي غونډو ، مشاعرو او نورو ادبي ناستو کې چې کله هم د شعر خبره مطرح کېـږي او يـا شـعر لوسـتل کېـږي، ناظمـان يـا شـاعران کوښـښ کوي، داسې شعر يا نظم ووايي چې د ناستو خلکو پر مزاج برابر وي، هغوی يې مستقيماً د مانا تـل تـه کښـته شي او ژر پـرې پـوه شي. شاعـر د خپل مـوقتي تشـويق پـه خـاطر د شعـر اوږده عمـر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي جوهر ته ډېره پاملرنه نه کوي. نو په دې خاطر يو شمېر هغه شعرونه يا نظمونه چې په مشاعرو کې لوستل کېږي او يا هم د انټرنېټ په څپو خپرېږي، د شعري جوهر مالګه يې کمه وي. په پښتو شعر کې شعاريت له ډېره وخته دود دی. تېره يوه لسيزه هم ترې مستثنی نه ده. د کميت له مخې که يې وارزو، په تېره يوه لسيزه کې ټول نظمونه چې د شعر په نامه ټولنې ته وړاندې شوي دي، په سلو کې نږدې شپېته يې شعاري تومنه لري. دلته په يوه ليکنه کې نه شي کېدلای د ټولو بېلګې وړاندې کړو. که د پښتو ادبياتو کره کتونکي په دې برخه کې دقيق کار وکړي، کېدی شي د شعاريت کچه کمه او د شعريت هغه پياوړې شي.

اخځونه:


۱- د پيرمحمد کاروان يو شعر
۲-د عبدالهادي هادي يو شعر
۳-د سميع الله تړون يو شعر
۴- د محمد اسمعيل يون يو شعر
۵-د عبدالمالک بېکسيار يو شعر
۶- د طلاباز حبيبزي يو شعر
۷- د اسمعيل اړم څو ټېپيزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یو ښه لیدلوري لپاره یوه ښه هڅه

دا لیکنه ما د ښاغلي (نور) پر یو علمي څېړنیز اثر (د نړیوالو اړیکو، اند او انګېرنې) باندې پر (۱۳۹۲ل) کال کړې وه.

(د نړیوالو اړیکو، اند او انګېرنې) د ښاغلي (نورولي خان نور) یو څېړنیز او شننیز اثر دی، د کتاب پر لومړي مخ لیکل شوي: ((د نړۍ د تېرو او راروانو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي او امنیتي چارو، اندونو او بنسټونو د شننو ټولګه)). که همدا یوه جمله هم څوک ولولي، نو د کتاب د منځپانګې پر ارزښت پوهېږي، همدا




جمله ده چې سړی د کتاب د متن لوستو ته راکاږي، کله چې څوک د کتاب نیولیک ته متوجه شي، نو تلوسه یې نوره هم زیاته شي ځکه چې هر سرلیک یې خورا مهم دی، په تېره بیا هغو اشخاصو ته چې د سیاست، اقتصاد او نړیوالو اړیکو له صنف سره لېوالتیا لري. ښاغلي (نورولي خان نور) د یوه عملي او نظري سیاستوال او سیاستپوه په توګه د عملي تجرلو له یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیر او بهیر څخه تېر شوی او بیا یې دا اثر لیکلی دی. دی هم لیکوال دی، هم سیاستوال، هم سیاستپوه دی او هم ادبپوه، هم یې کورنۍ له سیاست سره تړلې پاتې شوې او هم ده په خپله د خپل هېواد د سیاسي استازي په توګه خپله دنده پر مخ بیولې او هم یې د نورو سیاستونو ته پام کړی، هم یې له نورو هېوادونو سره د خپل هېواد سیاسي اړیکې ټینګ کړې او هم یې د هغوی روابط له خپل هېواد سره ټینګ کړې، د روابطو دا عملي پالل څه اسانه خبره نه ده. خو (نورصیب) سره د عملي او نظري تجربو یوه کارنده وسیله وه، په همدې وسیلې یې دا دی داسې یو ښکلی ارزښتمن اثر و لیکه چې تر اوسه یې په پښتو ژبه کې ډېر کم ساری لیدل کېږي. دا اثر د خپلو پراخو او هر اړخیزو معلوماتو له امله ددې ارزښت لري چې د حقوقو او سیاسي علومو او یا هم د بشري علومو په نورو پوهنځیو کې د یوه درسي او مرستندوی درسي اثر په توګه تدریس شي. د بهرنیو چارو وزارت کارکوونکو ته هم خورا مهم دی، ځکه هغوی په خپل عملي سیاسي ژوندانه او دندو کې له همدې مسیره تېرېږي.

په پښتو ژبه د ادبي اثارو شمېر خورا زیات دی، کله کله پښتنو شاعرانو او لیکوالو د عامو لوستونکو غرور زیات کړی او د علم د عرضې کچه یې ورته راټیټه کړې ده، د علمي اثارو په اندول د ادبي او ذوقي اثارو زیاتوالی پر ښکاره ډول علمي اثارو ته زموږ اړتیا په ډاګه کوي، موږ باید له هرې لارې چې وي په خپله ژبه کې علمي اثار زیات کړو، تر هغه چې ژبه علمي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي، سیاسي، مذهبي او دفتري ارزښت پیدا نه کړي، په نثواتو او زور نه ژبه پر چا زده کولای شو او نه پرې خپلې اړتیاوې پوره کولای شو، د ګران ورور (نور) دې خدای خونه له غنمو ډکه او په نور دې روښانه لري چې زموږ د ټولنې یوې اساسي اړتیا ته یې پام وکړ او ددې اثر په لیکول یې یو، د علمي خدمت په برخه کې یو ستر ګام اوچت کړ، زه نه غواړمه ددې اثر په باب ډېر څه ووایم، ځکه اثر خپله ستاسو په لاس کې دی، خو له ښاغلي نور څخه مننه هم پر ځان او ټولو هېوادوالو دده حق ګڼم، خدای (ج) دې دی اباد او سوکال لري، له (نوره) د (نور) د نور (نور) د خوربدو په تمه.

د نور د لازیاتې رڼایي او نورانیتوب په هیله

په ډېر درنښت

پوهنوال محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د استاد الفت په نثر کې شل فکري لیدلوري

دا لیکنه پر (۱۳۹۴ل) د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د یوه علمي کنفرانس لپاره لیکل شوې وه او په پښتو څانګه کې د استادانو او محصلینو په یوه غونډه کې اورول شوې ده.

استاد الفت د خپلې لیکوالۍ په پنځوس کلن مثمر ژوندانه کې موږ ته ډېره ستره ادبي پانګه ډالۍ کړې ده. دا پانګه اوس د استاد الفت میراث ګڼل کېږي. دا میراث په منظومه او منثوره بڼه تر موږه رارسېدلی دی. زه دلته غواړم د استاد الفت همدې منثور معنوي میراث ته لږ تم شم او په دې کې بیا هم هغې برخې ته چې د منثور هنري نثر په بڼه ډالۍ شوې ده. په دې برخه کې بیا هم زه د استاد الفت د هنري نثر پر شکلي خواوو بحث نه کوم، غواړم دده په نثر په تېره بیا په هنري نثر کې د هغه پر فکري لیدلورو او فکري زاویو لنډه رڼا واچوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کې هېڅ شك نه شته چې استاد الفت د خپل وخت يو لوی مفکر انسان و. الفت داسې يو انديال شخص و چې د خپل فکر د بيان لپاره يې د نظم او نثر د بېلابېلو فورمونو وسيلې درلودلې، الفت د خپل فکر د بيان لپاره د نثر او نظم له وسيلو څخه په ښه ډول ګټه پورته کړه، په تېره بيا له نثر څخه او د خپل چاپېريال هره ناخواله يې په کې په ښه ډول منعکس کړه، د الفت اثار په حقيقت کې د خپلې ټولنې داسې يوه رڼه هنداره ده، که موږ غواړو د خپلې ټولنې تصويرونه په ښه ډول وګورو، نو دې هندارې ته بايد مخامخ شو. استاد محمد صديق روهي وايي: ((لکه څنګه چې ليو تولستوی ته د روسيې د انقلاب هنداره ويل کېږي هماغسې الفت د خپل ماحول د ټولنيزو جريانونو او مسلطو کلتوري ارزښتونو منعکسولو کې ستر نقش لوبولی دی.))[1] نو که څوك غواړي افغاني ټولنه په هر اړخيز ډول مطالعه کړي، د استاد الفت اثار دې ولولي.

د استاد الفت اثار نه يوازې د افغاني ټولنې هندارې دي، بلکې د ټول بشر د هيلو، ارزښتونو، ناخوالو او غوښتنو منعکسوونکي هم دي. د الفت فکر د زمان، مکان او محدودې جغرافيې تر بريدونو اوړي او د ټولې انساني نړۍ د هيلو انځورګري کوي. زه نه غواړم خپلې خبرې پسې وغځوم. اوس راځم د استاد فکري ليدلورو ته. لکه څنګه چې مې دمخه نغوته وکړه، د استاد الفت د فکر وړانګې د بشري ژوند د هر ډګر تل ته وررسېدلې، خو زه دلته غواړم د استاد الفت د فکر يوازې شلو بېلابېلو ليدلورو ته نغوته وکړم:

**۱- قانون او قانونيت:** استاد الفت د يوې ټولنې د ژغورنې، پرمختګ او سوکالۍ تر ټولو غوره لاره دا ګڼي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولنه کې قانون پلی او ټولنه قانوني مسیر ته ورداخله شي، دی قانون تر ټولو «ښه حاکم بولي» چې کولای شي د ټولنې د هر رنځ لپاره د درملنې سبب شي. دی قانون داسې یو حاکم ګڼي چې: «هغه نه نفس لري، نه نفسي خواهشات، نه یې په زړه کې ډار شته، نه طمع، نه له موقوفۍ وېرېږي، نه د ترفیع پروا لري. نه رشوت اخلي، نه تنخوا. نه له چا سره عناد لري، نه د چا مراعات کوي، نه د چا مخ ګوري، نه د چا څټ، نه زورور پېژني، نه غریب، نه یې څوک خپل دي او نه پردي، نه سپارش مني، نه تملق اوري، نه چاته خاندي، نه چاته وچولی ترویوي. پوهېږئ دا حاکم څوک دی، هو! قانون او عدالت»[۲] اوس چې زموږ ټولنه د لاقانونیت او بې عدالتۍ په منګولو کې راګیر ده، نو که غواړو درملنه یې وکړو، د استاد الفت تر پورتنۍ فکري نسخې ورته بله ښه نسخه نه شو پیداکولای.

**۲- افراط او تفریط**: افراط او تفریط لکه څنګه چې زموږ په دین کې مردود دي، استاد الفت د ټولنې داسې یوه ناروغي ګڼلې، چې زیان یې دوه برابره دی. که په یوه ټولنه کې دا دوه مرضونه حاکم وي، نو ټولنه به د یوه تن پرځای دوه تنه تلفات او ضایعات ورکوي. استاد الفت دا پورته محتوا په ډېره ښه بڼه په یوه واړه نثر (دوه جنازې) کې راوړې ده، دی وايي: « په یوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې، هغه یوه د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړ شوی و، د هغه جنازه څلورو تنو په اوږه را اخیستې وه، ددې بل په جنازې پسې بې حسابه لوی او واړه موټرونه روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یوه وینه نه درلوده، ځکه مړ شو، ددغه بل وینه زیاته شوې او تېزه شوې وه، ځکه یې ژوند ونه شو کړای.
دوی دواړه مړه شول، مګر مرګونه یې یو راز نه وو او مرضونه بېل وو، یو د نورو وینې هم څکلې وې او د بېته محتاج و، چې ډاکتران یې له وجوده وینه وباسي، بل ته چا خپله وینه نه وه پرېښې او بې وینې و.
یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو.))[۳]
الفت، افراط او تفریط په ټولنه کې یوه داسې ټولنیزه ناروغي بللې، چې ثبات له منځه وړي، عدالت او اعتدال تر پښو لاندې کېږي او د زیانونو کچه یې دوه ځله زیاتېږي.
**۳- فکري ازادي:** استاد الفت د ټولنې له مرضونو او تنګنظریو څخه د خلاصون بله غوره لار دا ګڼي، چې په ټولنه کې فکر او انتقاد ازاد شي او خلك په ازاده توګه خپل نظر او فکر څرګند کړي، دی انتقادي فکر او نظر یوه ((بېګناه بندي)) ګڼي چې په راخلاصون یې د ټولنې ډېر مرضونه تداوي کېدلای او ډېر ابهامات روښانېدلای شي. دی په ((بې ګناه بندي)) کې وايي: (( پرېږدئ! پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ.
مه وېرېږئ د ده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نه شته.
فساد او شرارت له ده څخه نه پیدا کېږي.
د ده بندي کول لویه ګناه ده.
دی هغه یوسف دی، چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کې لوېدلی دی.
که دی له زندانه راوالوزي ستاسې آینده سنجولی شي او ستاسې د بلې ورځې غم خوړلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږئ.
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېرښه شان وکړي.
ستاسې وږي به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي.
تاسې دغه ښکلی موجود په تورو ځاګانو کې مه غورځوئ.
په زندانونو کې يې مه اچوئ!
پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانه خوبونو صحيح تعبيرونه وکړي.
ډېرې سختې، مبهمې او مجملې غوټې به پرانيزي.
دی د راتلونکي حال پيشبيني کولی شي.
د طبيعت په رمزونو او اسرارو پوهېږي.
د جوي او فلکي اوضاعو اقتضارات ورته معلوم دي.
پرېږدئ پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زياتېږي.
وطن رڼا کېږي او ړانده بينا کېږي.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوي.
دی ډېر پېچومې اوارولی شي.
دی ډېرې کړې سمولی او ډېر مشکلات حل کولی شي.
ما خوب ليدلی، چې دا بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني.
ښه فکرو کړئ.
دا بندي څوك دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس له ډېره فکره وايم
فکر دی فکر!))(۴)

**۴- مضر احتياط او مضر مصلحت:** په عام ډول که څه هم په هر کار کې احتياط او دقت ښه شی دی، خو هر هغه څه چې تر خپل ټاکلي برید او حده واوړي، پر افراط او تفریط بدلېږي او لکه څرنګه چې دمخه مو اشاره وکړه، د استاد الفت له نظره د افراط او تفريط پايلې ډېرې ناوړه دي. دغسې په يوه کار کې تر حده زيات احتياط هم د ګټې پرځای تاوان زياتوي او د يوه ضروري او ممکن کار د ناممکنۍ سبب ګرځي. استاد الفت د ((مضر احتياط)) په نامه يوه نثر کې د ناوړه احتياط عواقب ډېر ښه تشريح کوي او وايي: ((که رښتيا ووايم مونږ ډېرې هوښيارۍ او ډېرو احتياطونو برباد کړي يو. يو چا زمونږ په حق کې ويلي وو، دا خلک له ضرورته زيات هوښيار او محتاط دي.

راځئ چې په دې خبره کې فکر وکړو.

هوښياري، چې له اندازې نه زياته شي او هام قوي کوي.

احتياط، چې ډېر زيات شي لاسونه او پښې شلوي.

شمی اکا زمونږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښيارۍ مشهور و او هر چا به چې کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل.

د ده د هوښيارۍ او احتياط يوه ښه دا وه، چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق را نه ووست او ويل به يې که کله برق شارټ شي، نو حريق به واقع او کور به مې وسوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده دا عدت و، چې په موټر کې به نه سوریده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و، ځکه چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاوه.

هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رڼا هم ډېر لږ وه.

دغه شان هوښیاران او د احتیاط خاوندان زمونږ په مملکت کې زښت ډېر دي او د نوي تهذیب او تمدن قبلول له برق او موټر نه هم زیات مضر بولي.))[۵]

د استاد الفت دده په نظر د داسې احتیاط کارو مخه نیول په کار دي.

**۵- مینه، عواطف او زور:** استاد الفت په خپل یو فکري لیډلوري کې مینه، عواطف او زور سره پرتله کوي. الفت په دې نظر دی چې مینه، عواطف او ښکلا هغه پټ قوتونه دي چې د زور اسباب، وسایل او د یو انسان زیات فزیکي طاقت یې هم تاب نه لري او د هغو پر وړاندې د تعظیم سرونه ټیټوي. استاد الفت همدا مینه، ښکلا او عاطفه د انساني نړۍ د سرکښه هوسونو د مهارولو وسیله ګڼي او وایي؛ د مینې په برکت په کور کې کمزوری کوچنی تر زورور مشره زیات قوت لري، هغه د ((قوي او ضعیف)) په نثر کې دې موضوع ته اشاره کوي او وایي: (( د دنیا دود او دستور خو دادی چې زورور به کمزروی وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده، هلته یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځپېړو وهي او خاندي، يعنې له ټولو نه کمزوری په ټولو زورور دی.

ما ته دغه کورنی دود او دستور ډېر ښه ښکاري او له خدايه غواړم، چې دا رواج عام شي. پدې پوهېږم چې په هر کاله کې همدغه حال دی او په هره کورنۍ کې کوچنيان په لويانو زورور او زړور دي.

د ګيرا او ترسا په کاله کې هم د کوچينانو زور چلېږي او جوړ د ناجوړه په مخکې منډې وهي، مګر چې له کورونو نه د باندې وګورو، نو بيا قوي پرضعيف مسلط دی. د دنيا طبيعي قانون همدغه دی، چې غټان او لويان به په وړو او بيوزلو سوك او ځپېړه پورته کوي او د قوت خاوند به هېڅ تحمل او حوصله نلري.

د دغه ظالمانه قانون د ماتولو دپاره، چې پاك خدای څه شی پيدا کړی هغه مينه او عاطفه ده.

د مينې او محبت په نړۍ کې ضعيف او کوچنی د لوی او قوي تر ځپېړو لاندې نه دی، بلکې کوچنيان په لويانو حکومت کوي او د وړو پادشاهي ده.

مونږ ښځه عاجزه بولو، مګر مينې او محبت ډېر زورور او پياوړي د دوی دخوښې او رضا تابع کړي دي.

څنګه چې په زړه زمانه کې دېوان د ښاپېريو تابع وو اوس هم د قوت او قدرت خاوندان د دغه ضعيف او لطيف جنس په مقابل کې ډېر ضعيف معلومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که عشق او مینه په منځ کې نه وي، نو د دیو او ښاپېرۍ زور هېڅکله برابر نه دی او یو ماشوم هېڅ وخت د سپین ږیرو په ږیره لوبې نشي کولای او نه د مشرانو پر اوږو سپریدلی شي.
یوه ورځ یو ماشوم یو غټ سړی له لمنې ټینګ نیولی و او کاله ته یې په زوره بیوه هغه خپله لمن د ده له لاسه خلاصه نکړی شوه که څه هم د ده زور او د هغه زور برابر نه و د ماشوم مینې او محبت د ماشوم په پنجوکې دغه قوت ایښی و، چې یو لوی سړی یې ځان پسې راښکوده او هغه هم ځان نشو خلاصولی.
که زما فکر صحیح وي، نو قوت او قدرت هماغه د پخوا زماني دیو دی او مینه هماغه ښاپېرۍ ده، چې دیوان یې د فرمان لاندې وو.
که د مینې او عاطفې ماشوم د هر څنګه لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي یا یې لمن ټینګه ونیسي څوك ترینه ځان نشي خلاصولی، ځکه چې دا قوت په ټولو قوتونو زورور دی.
زه مینه او عاطفه د زور او قوت په مقابل کې، ځکه ماشومان بولم چې زور او قوت ډېر پخوا پیدا شوي دي او انساني عواطف، انساني رحم او شفقت وروسته پیدا شول، یعنې هماغه شان چې فرعون له موسی نه دمخه دنیا ته راغی، حیواني غرایز هم له انساني عواطفو نه ډېر پخواني دي او د عمر په لحاظ عواطفو ته کوچنیان ویلی شو، مګر دغو کوچینانو ته پاك خدای هغه قوت ورکړی دی، چې فرعونیان ترینه په خوب کې هم وېرېږي او بد بد خوبونه ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوك په دنيا کې د صلح او سلام غوښتونکي دي او غواړي، چې د ناروا او ظلم مخه ونيسي، نو يوه داسې اختراع په کار ده، چې د عشق او مينې له عنصر نه پکې کار واخيستل شي.

دا اختراع د دماغ کار نه دی د زړه کار دی او د زړه توجه ته ضرورت لري. پدې باب کې ساينس او تخنيك ته رجوع نه ده په کار، دا افتخار که هر وخت دنيا ته حاصليږي، نو د شعر او ادب په لمن کې به وي او د زړونو په مملکت کې به پيدا شي.)))[۶]

استاد الفت د (فاتح) په نامه په يوه بل نثر کې د مينې، ښکلا او عاطفې قوت داسې څرګندوي: ((سکندر له ډېر قوت او ډېرو لښکرو سره ښار ته راغی، د ښار له خلکو سره يې څو ځله زورور جنګونه وکړه.

له دواړو خواوو نه ډېر خلك ووژل شوه، ډېرې وينې تويې شوې، ډېرې ککرۍ تر پښو لاندې شوې، وروسته له ډېرو جګړو هغه د مړو په سرونو پښې کېښودې او د لوی فاتح په حيث ښار ته ننوت.

دی ډېر په قهر و. ده غوښتل چې ښار لوټ کړي او قتل عام جوړ کړي، مګر دا کار ده ونشو کړی، ځکه چې په ښار کې يو پټ قوت موجود و، چې ده ورسره مقابله نشوه کولای. دی چې ښار ته ننوت په يوې ډېرې ښکلې پېغله يې سترګې ونښتې او په يو ځل ليدو يې زړه بايلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوك، چې بې زړه شي هغه بيا جنګ او جګړه نشي کولی، ځکه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پېغلې تـه وسپاره.

دغه لوی فاتح، چې د عشق او مينې په پنجو کې ګېر شو بـل راز شو او د خپلې معشوقې د خوښې دپاره يې د ښار د خلکو خدمت ته ملا وتړله.

دغه وخت دا معلومه شوه، چې دی فـاتح نـه و فـاتح بـل څوك و. دی په دې نه پوهيده، چې په ډېر زور او قـوت خپـل ځان يـوه قوت او قدرت ته سپاري، چې له سلطان او شهنشاه نه د خلکو خدمتګار جوړوي.

په رښتيا، چې د عشق مقام تـه رسېدل هم څه اسانه کار نـه دی او د ښکلا په دربار کې پادشاهي هم پـه تعظيم او احتـرام سرټيټوي.

هلته محمود د اياز تابع دی او سکندر هم په يـوه نظر بـل راز کېږي او قهر و غضب خپل ځای مينې او محبت ته پرېږدي.)) [۷]

۶- **مشرتوب**: سياسي، ټولنيز او مذهبي مشـرتوب چې د يـوې ټـولنې د ثبـات، پرمختـګ، انسـجام او سـوکالۍ لپـاره خـورا ضـروري دی، اسـتاد الفـت يـې د انتخـاب لپـاره غـوره معيار د شخص کيفيت ګڼي. استاد الفت وايي هغه څوک بايـد د يوې ټولنې د مشرتابه مسوليت پرغاړه واخلي چې تر هغه بـل يـې کيفيـت او ظرفيـت زيـات وي، دی بايـد دمخـه او هغـه نـور بايـد ورپسـې وي. د الفت پـه نظر کـه پـه ټولنـه کـې د مشـرتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره باکفایته اشخاص دمخه وي، نو ټولنه څو ځله زیات پرمختګ کولای شي او که وړ اشخاص شاته او کم کفایته او یا هم بې کفایته اشخاص دمخه وي، نو څو ځله د ټولنې د شاتګ امکان شته. استاد الفت خپل دا تعبیر، تحلیل او ارزونه د ریاضي په عددونو کې توضیح کوي. هغه د ((حسابي خبرې)) او ((استاد وویل)) په نثرونو کې د ریاضي د عددونو د موقعیت او کیفیت له مخې په ټولنه کې د مشرتوب دریځ ټاکي، دی د ریاضي د استاد له خولې وایي: ((تاسې باید هر وخت له ځان سره حساب وکړئ او حسابي خلك اوسئ!

د ده یو حسابي درس دا و: که یو عدد له بل سره داسې یو ځای کړو، چې یو پاس او بل لاندې وي لکه ۲ ۲ نو څلور(۴) ترینه جوړیږي او د دواړو وجود هم په خپل حال نه پاتې کیږي، که دواړه څنګ په څنګ یو ځای کړو لکه: ۲۲ دوه ویشت ورنه جوړیږي او دوه شلې کیږي. د دواړو عددونو شکلونه او صورتونه هم په خپل حال پاتې کیږي، ځکه چې دلته د ملګرتیا او ورورولۍ راز پټ دی او په هغه بل صورت کې تفوق، تسلط او محوه کول معلومیږي.

ده ویل: که دوه مساوي عددونه لکه: (۱-۱) (۲-۲) (۳-۳) هریو له بل نه وړاندې یا وروسته کړو نتیجه یې یوه ده، مګر په دوه متفاوتو عددونو کې تقدم او تاخیر ډېر زیات فرق راولي او په مقدار کې ډېر تفاوت راځي. که مونږ(یو) او (نه) (یو) ځای کوو او داسې یې لیکو (۱۹) نونس کیږي، مګر شل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي نه، که همدغه دوه عددونه داسې ولیکو(۹۱)خبره سلوته نږدې کېږي او ډېر زیاتوالی پکې راځي.))

((همدغه سبب دی چې په جوامعو کې هغه څوک دمخه کېږي چې قدر او مقدار یې له هغه بل نه زیات وي او د ده په مخکې توب باندې دجامعې قدر او قیمت ډېر لوړېږي، مونږ باید په دې سُر پوه شو او د هر چا استعداد معیار، مبلغ او مقدار ته وګورو.))[۸]

۷- **فکر پالنه**: لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه استاد الفت (فکر) او د (فکر ازادي) د ټولنې د ژغورنې ښه لاره ګڼي، خو تر هغه پورې چې د فکر او مفکر لپاره د ژوند بستر برابر نه شي، نه فکر وده کولای او نه مفکر راټوکېدلی شي. له همدې کبله استاد الفت د فکر روزونکي او فکر پالونکي رول مهم ګڼي او ان تر مفکره یې هم درجه لوړه ګڼي. استاد الفت د فکر پالونکي ته خطاب کوي او وایي: ((دلته د فکر او قلم خاوندان ډېر دي، مګر د فکر او قلم د ازادۍ علمبرداران ډېر لږ دي، ځکه ستا مقام له نورو نه هسک ګڼم، که څوک تا ته د فکر خاوند ونه وایي، زه ورسره کار نه لرم، مګر که د فکر خاوند تا خپل حقدار ونه ګڼي، زه به ورته بې انصافه ووایم.

هغه څوک چې په وطن کې هېڅ ونه لري او د وطن د ازادۍ لپاره سر ورکوي په وطن باندې حق لري. همدغه وجه ده چې د فکر پالونکي مقام له فکر لرونکي څخه ډېر اوچت دی او زه هم دواړو ته په یوه نظر ګورم.))[۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- د خدمتګارانو پېژندنه: استاد الفت په دې نظر دی چې په يوه ټولنه کې د رښتينو خدمتګارانو پېژندنه اسانه کار نه دی، په تېره بيا په وروسته پاتې ټولنه کې. په داسې ټولنو کې خدمتګاران نوموړکي او نوم پټي دي، هغه څوک چې خلکو ته خدمت کوي، ضرر نه رسوي، امر و نهې نه صادروي، هغه د خلکو په سترګو نه ښکاري، خلک هغه خلک ښه پېژني چې د بادار په بڼه ځرګند شوي وي، الفت دا موضوع چې زموږ د ټولنې يو حقيقي تصوير لري، د ((خدمتګار)) په نامه په يوه نثر کې په خورا ښکلې بڼه تشريح کوي: ((هلته يو روند بې لارې روان و، هغه پر سمه لاره برابر کړ، مګر روند پوه نشو چې زما رهبر څوک دی.

يو بل په خواره خوب ويده و، په خوا کې يې يوه منګري سر را اوچت کړ، هغه په بيړه وواژه او ويده هماغسې ناخبره پاتې شو.

د شپې په مسجد کې ناروغه مسافر زګېروي کول، هغه يې په خدمت کې شپه سبا کړه، مسافر سباوون خواته مړ شو او خپل زړه سواندی خدمتګار يې ونه پېژانده، هغه پر لاره روان و، يو ماشوم ته يې يو موټی مېوه ورکړه، مګر يوه هم ونه پيژانده، چې دی څوك دی.

له دې لويې لارې نه هغه ډېر اغزي او کاڼي لرې کړه، مګر څوك چې سبا ته پر دې لاره راځي د هغه له خدمت څخه نه خبرېږي او هغه نه پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رښتيا، چې مونږ خپل خدمتګاران نه پېژنو او بااداران ډېرښه پيژنو.))[10]

**۹- ملي خپلواکي**: استاد الفت ازادي د يوه ملت د بقا او پرمختګ اصلي ضامن بولي او د ملي خپلواکۍ او ملي ناموس د ساتنې او پالنې لپاره د ملي احساس شتوالی ډېر مهم ګڼي او وايي: ((د استقلال ساتنه د ملت قوي جذبې ته ډېر شديد ضرورت لري، که د غه احساس په يوه ملت کې کمزوری شي، هغه د استقلال په قدر و قيمت نه شي پوهېدلی او د همدغسې ناپوهۍ په وجه دغه لوی نعمت ساتلی هم نه شي.

مونږ بايد خپل ملي شعور او ملي احساس ډېر ټينګ وساتو او د خپل استقلال تقويه ورپورې مربوطه وګڼو.))[11]

**۱۰- فساد او رشوت**: فساد او رشوت يوه داسې ناوړه پديده ده چې د ټولنې انډول له منځه وړي، عدالت په کې تر پښو لاندې کېږي، د ژوند د سالمې ودې مخه نيسي او په لسګونو نور لوی او واړه مرضونه ورڅخه راټوکېږي. په تېرو څو کلونو کې زمونږ هېواد له دې ناروغۍ سره لاس او ګرېوان دی. رشوت خواره او فسادګر هر څه خوري، خو هېڅ مړېږي نه. استاد الفت همدا رشوت او رشوت خور د ډېرو ناروغيو او مرضونو عامل ګڼي، په ټولنه کې چې چېرته کومه ناروغي ګوري، نو رشوت خور د اصلي عامل په توګه ورته ورياديږي، دی په يوه نثر ((رشوت خوره! ته راپه ياد شوې)) کې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځور تشريح کوي وايي: ((چاوويل: تندېږي، مګر مړېږي نه، ما ته سمدلاسه ته راپه يادشوې.

بل وويل: ګېډه خو يې مړه ده، مګر سترګې يې وږې دي، بيا ته را په ياد شوې.

يوه وويل: قصاب نه دی، مګر ډېر خلک يې بې تيغه حلال کړې دي، دلته هم ته را په ياد شوې.

هغه بل وويل: منګولې او پنجې يې د لېوانو نه دي او خونخوار دی، دا ځل هم ته را په ياد شوې.

بې ګناه خلک مې په زندان کې وليدل، ته را په ياد شوې.

هغه ورځ چا پوښتنه وکړه، چې په غلو زهېر، د مجرمينو طرفدار د مظلومانو دښمن، د ناحقې ملګری، د قاتلانو حامي څوک دی؟

ماته ته را په يا دشوې.)) (۱۲)

## ۱۱- سياست او سياستوال: استاد الفت د

سياست اصلي او ظاهري رنګ او د سياستوال ظاهري منطق او باطني حالت ته هم سخت متوجه دی، د عمل او وينا ترمنځ تضاد د سياست يوه ځانګړنه ګڼي. اکثره شرقي ټولنې چې اوس د سياسي تجربې له تلې وتلې، د سياست په باب د استاد الفت نظر پرې د تطبيق وړ دی. په تېره بيا زموږ په خپله ټولنه کې. استاد الفت د (سياست) په باب وايي: ((وايه يو څه کوه بل څه.

له بل نه پوښتنه کوه! پخپله هېڅ مه وايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شپه کې د لمر وړانګې ښيه! په ورځ کې د تورتم ننښې.
که خبر وې ځان ناخبره کړه! که خبر نه وې د باخبرۍ مظاهره کوه!
شکره لکه مرچ خوره، مرچ لکه شکره.))[۱۳]

۱۲- **حقيقت موندنه:** الفت د يوه رياليست او متجسس ليکوال په توګه تل د حقيقت په لټه کې دی. هغه پر رښتيا او رښتينو خبرو مين دی. چل او فريب سره يې ورانه ده. هغه څوک د ټولنې او خلکو خدمتګار ګڼي چې ټولنې ته رښتيا ووايي او حقيقت راوسپړي. د الفت په نظر څوک چې حقيقت پټوي، تر ټولو ستر غل همغه دی. الفت دا ډول غل تر ظاهري او هغو غلو چې د خلکو د کور مالونه لوټوي، ډېر خطرناک بولي، دا ډول غله حقيقي غله بولي، په خپل يوه نثر ((حقيقي غل)) کې يې څېره داسې انځوروي: ((په رڼا ورځ يې د ډېرو خلکو په مخکې ډېرخه له موږ نه پټ کړه، ستا خوښه چې غل ورته وايې که نه!
زه خو يې غل بولم.
هو! غل دی مګر د پوليسانو په نظر کې نه.
د دې غله لاس قاضي او مفتي نه پرېکوي.
هېڅوک دا غل نه نيسي او نه يې بندي کوي.
د دې غله په ږيره خلق نشته.
ده ډېرخه له موږ نه پټ کړي دي او ډېر زيان يې را اړولی دی ده له موږ نه سره و سپين نه دي پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ډېرلوی غل دی.

د ده غلاډېره لویه اوستره غلا ده.

دی مال نه پټوي.

د ده غلاته په عادي نظرمه ګورئ!

دی زموږ پیسې نه پټوي.

ده ته دمال او دپیسو غل نه شو ویلای.

دی موږ نه خپل ځان او خپل بد بد کارونه پټوي.

دی خپل حقیقت او ماهیت پټوي.

ځان او حقیقت پټول ډېره لویه او ستره غلاده دا غلاد یوه ملت او مملکت کور ورانوي او ملکونه بربادوي.

په سترګو ننوزي.

له سترګو سره دښمني لري.

هو! دا غل له سترګو نه رانجه نه پټوي، سترګې پټوي له مونږ نه ډېر حقیقت پټوي او د حقیقت غل دی، ده ته باید حقیقي غل ووایو.)) (۱۴)

۱۳- **قوت او طاقت:** د ځواک، قوت او طاقت تعریفونه بېلابېل دي، هر څوک یو قوت د خپل نظر او تعبیر له مخې تعریفوي. څوک علم قوت بولي، څوک زر، څوک زور، څوک ټانکونه، څوک لښکرې، څوک مېړونه او څوک د دنیا نور اسباب، خو د الفت په نظر دا د دنیا اصلي قوت او طاقت نه دی، خو که دا ټول یو چا سره وي چې زړه، اراده او عقیده ونه لري، هغه هېڅ نه شي کولای، استاد الفت د ټولو قوتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

محرک، بنسټ او ډاډ ځای عقیده بولي. استاد الفت عقیده داسې یو ستر قوت ګڼي چې هېڅ بل قوت ورسره د پرتلنې وړ نه دی: «ځوک وايي مال دی او ځوک يې په صنعت او تخنيک کې لټوي، ځيني وايي چې علم دی او ځيني يې په ډېرو افرادو غواړي، مګر کله کله چې سړی له دې ټانکونو هغه خوا ددې ډېرو لښکرو ترشا له هوايي طيارو نه پورته نظر کوي، يو دا راز قوت ويني، چې پدې ټولو قوتو زورور او غښتلی دی، له دې قوت سره نه اور او اوبه مقاومت کولی شي او نه په توره او علم ورسره مقابله کېږي. دا قوت هغه عقيده ده چې انسان هر راز ايثار او قربانۍ ته تياروي او له يوه ملت نه بل شی جوړوي، که دا قوت له يوه ملت سره نه وي او نور هرڅه وي، ته يقين وکړه چې هېڅ يې نه په کاربږي او هرڅه يې پردي دي.

بې عقيدې انسان هېڅ نه دي کړي او هېڅ نشي کولی نه به يې وروسته ترديې وکړي، ځوک چې له خپل ژوندون او سر و مال نه سوا يو داسې شی نه پېژني، چې دا ټول ورځنې ځار کړي هغه ته د لويو کارو هيله هېڅ وخت نه کېږي.

عقيده په انسان کې يو فعال عقل، نه وېربدونکی عشق، فرهادي عزم او يو سيلابي حرکت پيدا کوي، چې هېڅوک او هېڅ شی يې مخه نشي نيولی.

د نړۍ په غولي کې چې څه حق او ناحق جنګونه شويدي او کوم کام يا ملت پکې خپل ستر قوت او فوق العاده مقاومت ښودلی، هغه اورمرو په يوه عقيده بنا دی، چې من حيث عقيده ورته ستر قوت ويلی شو. عقيده په اصل کې د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او حیوان حد فاصل دی، چې د خپل شعوري ماهیت او متین موجودیت په لحاظ د ډېرې ستاینې حق لري، مګر وروسته چې یو خارجي موجود او جزیي مفهوم پیدا کوي، نو په دوو نوعو بېلېږي، چې حق او باطل عقاید ورته وایي او په دواړو صورتونو کې ورته قوت ویلی شو.

همدغه عقیده ده چې د چا دپاره ایمان او د چا دپاره مسلک شي، ځوک یې خپل نصب العین بولي او د ځینو دپاره عشق او مایه وګرزي.))[۱۵]

**۱۴- د ظلم نتیجه**: دا متل ډېر مشهور دی چې د ظلم کاسه نسکوره ده. د ظلم انجام ښه نه دی، ظالم به اخر تر پښو لاندې کېږي او څېره به یې بربنډېږي. د ظالم او مظلوم څېره د قضاوت په وروستي پړاو کې څرګندېږي. استاد الفت له شاعر څخه هیله کوي چې د عادلانه قضاوت لپاره قلم اوچت کړي او دا د شاعر دنده ګڼي چې د ظالم او مظلوم ترمنځ توپیرونه په هنري ښه افاده او خپل مثبت پیغام ولس ته ورسوي. دی دا کار د شاعر تر ټولو غوره تحفه بولي چې ولس ته همدا ډول پیغامونه ورسوي. ((د شاعر تحفه)) په نثر کې وایي: ((زه چې ورغلم هغه په کوټنۍ کې ناست و، سر یې په ګرېوانه کې ښکته کړی و، فکري عبادت یې کاوه.

کله چې هغه سر راپورته کړ او پر ما یې نظر ولوېده، ما خپله تحفه یو د پړانګ پوستکی او یو غزنیچی پوستین د هغه په مخ کې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل: دا یو د ظالم پوټکی دی، ځکه له پښو لاندې لوېږي، دا بل د ضعیفانو له پوستکو نه جوړ دی او پر غاړې پورې تعلق نیسي.

د شاعر تحفه باید همدغسې وي او همدغه معنی ولري.

دی باید دا دوه منظرې همدغه راز وښیي او خلك په دغه رمز ښه پوه کړي.

په دغو خبرو زه له خوبه راویښ شوم او په خوب کې د خپل خوب په تعبیر پوهیدلی وم.))[۱۶]

## ۱۵- وړوکوالی او لویوالی: استاد الفت

وړوکوالی او لویوالی په ظاهري لویوالي او کوچنیوالي کې نه ګوري، دی هغه شی لوی ګڼي چې په خپله (اصل) وي، نور ټول شیان چې له همدې اصل څخه راوتلي وي، که څه هم له اصل څخه لوی ښکاري، خو په حقیقت کې تر هغه کوچني دي. الفت په دې نظر دی چې که اصل له منځه لاړ شي، نو ټول هغه شیان چې له دې اصله راټوکېدلي او ډېر لوی ښکاري او یا هم لوی وي، له منځه ځي. لوی شیان تر یوه وخته لوی وي، دایمي ژوند نه لري، خو اصل همغه شی دی چې که ظاهراً ډېر کوچنی ښکاري، خو عمر یې دایمي دی. الفت د ((لوی او وړوکي)) په نثر کې دا موضوع په ډېر ښه ډول بیانوي، وایي: ((په شفتالو کې زړی دی په زړي کې ونه ولاړه ده.

د غنمو په وږو کې دانه شته، په دانو کې همدغسې وږي شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چرګه کې هګۍ ده په هګۍ کې چرګه ده.

دغه یوه دانه پندانه، چې ګورې تېل او پلته دواړه لري او په حقیقت کې بله ډیوه ده، مګرستا سترګې دغه رڼا نهویني.

ته خبرنه یې، چې په یوه دانه او په یو څاڅکي کې عالمونه پراته دي.

ته پخپله هم دغنم په دانه کې وبده وې بیا دې په یوه څاڅکي اوبو کې لامبو وهله نن په لویه بېړۍ کې ناست یې او په لویو دریابونو کې ګرځې.

څه شی، چې ته وړوکی ګڼې هغه هم لوی دی یا هغه څه، چې تا ته لوی ښکاري هغه هم کوچنی او وړوکی دی.

ته ونه لویه ګڼې هغه په یوه زړي کې ده.

تا ته زړی وړوکی معلومېږي په هغه کې غټه ونه ځای شوې ده.

دغه غټه هندوانه، چې ګورې کال ته نه پاتې کېږي او عمر یې ډېر لنډ دی، دغه د هندوانې کوچنی زړی تا ته هر کال تازه هندوانې درکوي.

د زړي قیمت له هندوانې نه لړنه دی.

که زړی ورك شو هندوانه ورکېږي.

نو راشه هېڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه، ځکه چې دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نشته، ټول برابر دي یوازې خدای لوی دی او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نن ورځې ديموکراسي له همدغسې ژوندکتنې څخه پيدا شوې او د ډېر دقت نتيجه ده.))[۱۷]

۱۶ - **غوړه مالي**: غوړه مالي او غوړه مالان يوه بله ناروغي ده، چې ډېر واکمن او ډېر دربارونه يې له ګړنګونو غورځولي دي. همدا غوړه مالان دي، چې د واکمن هرې نامنطقي خبرې ته منطقي رنګ ورکوي او په دې وجه خپل موقف ساتي. استاد الفت په درېيو مختلفو دريځونو کې د يو غوړه مال د ژبې اړولو مهارت ته ګوته نيسي او د هغو ماهيت څرګندوي وايي: ((يوه پاچا له چانه پوښتنه وکړه، چې زما په ورغوو باندې ولې وېښته نشته.

هغه وويل: ځکه چې پاچا پخپلو لاسونو باندې په لپو لپو روپۍ خلکو ته ورکوي او ورغوي يې سولېږي.

پاچا وويل: چې د نورو خلکو ورغوي، خو هم ماغوندې دي.

هغه وويل: هغوی هم پخپلو لپو ستا له لپو نه څه اخلي او ورغوي يې سوليږي.

پاچا بيا وويل: هغه چې زه هېڅ نه ورکوم د هغوی ورغوي هم دغه شان دي.

هغه په ځواب کې وويل: هغوی چې ستا بخششونه د نورو په حق کې ويني، نو له ډېر حسرت او ارمانه خپل ورغوي سولوي او افسوسونه کوي.))[۱۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷- **خیال او فکر**: لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، د استاد الفت د فکر وړانګې د ژوند هر ډګر ته رسېدلي، خپله هم شاعر او فیلسوف دی، د خیال او فکر، شعر او فلسفې پر رمزونو پوه دی. استاد الفت د لوړ خیال او ژور فکر نتیجه یوه ګڼي، د شعر او فلسفې مفهوم او د بیان مقصد هم یو ګڼي. د استاد یو نثر ((شعر او فلسفه)) نومېږي. ده په دې لنډ نثر کې یوه ډېره لویه مانا، پرتلنه او بیا نتیجه رانغاړلې ده. هغه وایي: ((وربځې پورته په هوا کې دي، څاګانې ښکته په ځمکه کې.

هغه څه چې په هسکو وربځو کې شته په ژورو څاګانو کې هم شته په دغو اوبو باندې هم هماغه تنده ماتېږي.

د لوړ خیال او د ژور فکر نتیجه یوه ده.

ته: یا خپل نظر ډېر لوړ کړه یا په خپل ګرېوان کې ډېر سر ښکته کړه:

د شاعر او فیلسوف فرق

همدغه دی

زه شعر او فلسفه دغه

شان ګڼم))(۱۹)

۱۸- **ژوند او حرکت**: الفت ژوند د حرکت محصول ګڼي، هغه ژوند چې حرکت په کې نه وي، هغه کې برکت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ساقط وي. الفت په دې نظر دی، هغه څوک د ژوند ، ښځې، ښناک او خوراک حق لري چې د حرکت په حال کې دی. هغوی چې ځای پرځای ناست دي، د الله قانون هم د ښناک او خوراک مستحق نه دي ګڼلي، الفت د شریعت دې رمز او مجوز ته د یوه لاروي د منطق په هنداره کې اشاره کوي او دا بیانوي چې ژوند ، ښناک او خوراک هغه وخت کېږي. چې انسان د حرکت په حال کې وي. استاد الفت وایي: «مونږ د خپلو کورونو له څنګه په دېره کې ناست وو.

له پاسه یو لاروی راغی د ونې ډډ ته یې ډډه ولګوله.

له ملانه یې ډوډۍ پرانیستله او له څه شي سره یې په خوند خوند خوړله، مونږ ورېي تږي وو ، هغه ځان موړ کړ او یخې اوبه یې وڅښلې.

مونږ روژه وو. هغه بوزه و ، ځکه چې په مسافرو باندې روژې نشته.

لاروي وویل: ماته دخوړلو اجازه شته او تاسو ته نشته.

ماته خدای خواړه او اوبه رواکړي دي، په رمز او معنیٰ پوهېدل په کار دي.

د خدای کارونه بې حکمته نه دي، تاسې د دغه عملي تعلیم په اصلي معنیٰ ښه فکر وکړئ!

تاسې ولې وږي یاست او زه موړ یم؟

زه په کار او مقصد پسې روان یم او تاسې ځای پر ځای پراته یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو حرکت لنډ دی، ځکه يې وړې کړئ!
تاسې د خدای قانون منلی دی، مګر پوه شوي پرې نه ياست.
زه راوګرځېدم، چې تاسې په دغه راز پوه کړم او له لوړي نجات
ومومئ، پاځېږئ روان شئ او لرې ځای په نظر کې ونيسئ!
لوړه او تنده په توقف او سکون کې ده په حرکت کې نشته.))[۲۰]

۱۹- **رڼايي**: الفت علم او رڼايي د خلکو د وينېتابه لپاره اساسي وسيله ګڼي، څومره چې خلک په تياره کې وي، پر کورونو يې د لوټ او تالان وېره شته، غله به پرې لګېږي او مالونه به يې پټېږي، غله په تياره کې لوټ کوي، نو که څوک غواړي خپل مال او سر يې خوندي شي، بايد په خپل کور کې ډيوې ولګوي، له ډيوو څخه د الفت تعبير علم، پوهه او ذکاوت دی. هغه همدا مطلب په ډېر استادانه ډول د (غلو ډيوه) تر عنوان لاندې په يوه هنري نثر کې واضح کړی، وايي:
((سپوږمۍ ورکه شوه، شپه ډېره تياره وه، غله په تورتم کې راغله په کاله ننوتل.
دوی خبرنه وو، چې ښه ښه مالونه چېرته ايښي دي، ځکه يې ډيوه ولګوله او مال يې لټاوه.
د کور و کلي خلکو چې رڼا وليده را پاڅېدل دغلو مخه يې ونيوله او غله يې وپېژندل، يوه وويل: له تورتم نه د غلو ډيوه هم ښه ده.
مونږ غله په رڼا کې وليدل او راويښ شوو.
هو! مونږ غلو راويښ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په کور کې غلو ډیوه ولګوله.))[۲۱]

## ۲۰- ټولنیز سمون: متلونه او اصطلاحګانې د یوې

ټولنې د ناخوالو او ټولنیز ژوندانه د اوږدو تجربو نچوړ دی، متلونه او ګړنې د ټولنې نیمګړتیاوو ته نغوته کوي او د لانجې د حل لپاره وروستۍ منطقي وسیله ده. استاد الفت هغو متلونو ته هم خورا متوجه دی، چې پخوا جوړ شوي او اوس یې کله کله نتیجه معکوسه راووځي. استاد الفت په ډېر ظرافت سره دې ډول متلونو ته نغوته کړې او له هغو څخه یې ډېره باریکه خو مثمره معنوي نتیجه راویستې ده. ده استاد الفت د ((څوک وایي)) په نثر کې یو شمېر هغه متلونه چیلنج کړي چې په ټولنه کې لا تر دې دمه کارول کېږي، خو په عملي مانا کې یې یو څه بدلون راغلی دی. استاد الفت وایي: ((څوک وایي چې کوږ بار تر منزله نه رسېږي او د دروغو منزل لنډ دی.

د دروغو مزل خو تر اخرته پورې دی او کاږه بارونه ترهماغه وخته مزله ته رسېږي. څوک وایي چې بد ګرزي بد به پرزي.

که دا خبره رښتیا وای اوس، خو به یو سړی روغ نه و پاتې.

څوک وایي چې د دروغجن مخ تور دی. ما خو ډېر دروغجن ولیدل، چې مخونه یې تک سپین دي.

څوک وایي، چې د شیطانانو دې کور وران شي.

څوک وایي، چې د غله په غره کې ځای نشته.

رادې شي ودې ګوري، چې ښارونه بازارونه ترې نه دي ډک؟

څوک وایي چې غل نه یې له پاچا مه ډارېږه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا د ناحقۍ له شاهدانو نه وېره نه ده په کار؟

څوک وايي چې په تشو خبرو کار نه کېږي؟ دلته خو په خبرو هرڅه کېږي او بې خبرو هېڅ نه کېږي.

څوک وايي چې د غله په زړه خلي وي، ډېر غله شته چې بېخي زړه نلري.

څوک وايي چې ډېر وايي لږ ترې کېږي، ما خو ولیدل چې هېڅ ترې نه کېږي.))[٢٢]

دا د استاد الفت د فکر هغه شل لیدلوري وو، چې ما ورته په ډېر لنډیز سره اشاره وکړه. د استاد الفت هر نثر د ژوند یوه خوا راسپړلې، ټول کلیات یې له همداسې فکري ژورتیاوو ډک دي، پر یوه نثر یې یو نثري اثر لیکل کېدی شي، ټول نثرونه یې دومره خواږه او له رمزونو ډک دي چې سړی یې لوستل پیل کړي، نو تر هغه یې چې پای ته نه وي رسولی، پرېږدي یې نه، هر نثر یې د منطق او جاذبې ځانګړې قوه لري. ما خپله لیکنه په جبري ډول دلته ودروله او که نه د غځولو تلوسه یې نوره هم زیاته ده. په ټولیز ډول ویلای شو چې الفت فکر او هنر دواړه سره داسې غاړه غړۍ کړي چې کله یې څوک نثر لولي، نو د فکر او ښکلا دواړه ملکې یې لاسنیولی ترپایه ځان سره بیایي او مطلوبې نتیجې ته یې رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه


۱- ادبي څېړنې، محمد صديق روهي، ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ل کال، ۹۳ مخ.
۲- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال، ۱۱۸مخ.
۳- د استاد الفت نثري کليات، د محمد اسمعيل يون راټولونه، يون کلتوري يون، ۱۳۸۷ل کال، ۲۱۶مخ.
۴- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال، ۸۴ مخ.
۵- ليکوالي، املا او انشا ، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۹ل کال، ۲۰۹ مخ.
۶- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال، ۲۶ مخ.
۷- د استاد الفت نثري کليات، د محمد اسمعيل يون راټولونه، يون کلتوري يون، ۱۳۸۷ل کال، ۱۰۴ مخ.
۸- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۹ل کال، ۱۱۳مخ.
۹- د استاد الفت نثري کليات، د محمد اسمعيل يون راټولونه، يون کلتوري يون، ۱۳۸۷ل کال، ۳۶۹ مخ.
۱۰- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال، ۷ مخ.
۱۱- اصلاح ورځپاڼه، ګل پاچا الفت، ۱۳۴۰ل کال، د سنبلې (۵) نېټې ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲- څه ليکل يا ليك پوهه،اتحاد مشرقي مطبعه،۱۳۲۸ل کال، ۵۸ مخ.
۱۳- د استاد الفت نثري کليات،د محمد اسمعيل يون راټولونه، يون کلتوري يون، ۱۳۸۷ل کال، ۷۹۰ مخ.
۱۴- پښتو نثرونه، ۱۳۵۰ل کال، کابل، ۷۹-۸۰ مخونه.
۱۵- کابل مجله، ګل پاچا الفت، ۱۳۲۳ل کال، ۶-۸ مخونه.
۱۶- د استاد الفت نثري کليات،د محمد اسمعيل يون راټولونه، يون کلتوري يون، ۱۳۸۷ل کال، ۷۱ مخ.
۱۷- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت،پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال، ۵ مخ.
۱۸- څه ليکل يا ليك پوهه،اتحاد مشرقي مطبعه،۱۳۲۸ل کال،۸۳ مخ.
۱۹- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت،پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال،۱۱۴ مخ.
۲۰- غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ل کال،۲ مخ.
۲۱- نوی سبك او نوی ادب، ګل پاچا الفت، داخلي نشرات، ۴۴مخ.
۲۲- د استاد الفت نثري کليات، د محمد اسمعيل يون راټولونه، يون کلتوري يون، ۱۳۸۷ل کال، ۳۴۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نظم رغنده توکونه

دا لیکنه هم پر (۱۳۹۴ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې د استادانو او محصلینو په حضور کې د یوه علمي کنفرانس په بڼه اوږول شوې ده.

د نظم په معمولو تعریفونو کې یو هم دادی: ((نظم هغه کلام دی چې وزن او اهنګ ولري.)) وزن یې د نظم تر ټولو اساسي رکن ګڼلی دی. ځینو (قافیه) هم د نظم یو عنصر ګڼلی او ځینو لا (ردیف) هم ورسره ملګری کړی دی. مخکې تر دې چې د نظم ټولو رغنده توکونو ته اشاره وکړو، ښه به وي چې د وزن رغوونکي عناصر وپېژنو.

وزن ته مو ځکه لومړیتوب ورکړ ؛ همدا زموږ فرضیه ده، چې وزن د نظم اساسي رکن دی او د نظم نورې برخې لومړی پر وزن راڅرخي او بیا په مجموعي ډول د نظم د رغښت سبب ګرځي. دلته غواړو لومړی د وزن پر همدغو رغنده عناصرو لږ شان رنا واچوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غږ یا اواز:** (( غږ، اواز یا فونیم د ژبې تر ټولو کوچنی غږیز عنصر دی چې په خپله کومه مانا نه لري، خو په مانیزو کلمو کې مانیز توپیر پېښوي.))[1] غږ پر نورو عناصرو د تجزیې وړ نه دی، همدا غږ دی چې د څپې د جوړښت سبب ګرځي. غږ او څپه دواړه بیا په خپل وار سره د وزن د جوړښت عامل ګرځي. غږ د ګړنۍ ژبې اساس ګڼل کېږي، که غږ نه وي، ګړنۍ ژبه نه شته. منثوره او منظومه ګړنۍ لیکنۍ وینا په مجموعي ډول ټوله ژبه جوړوي، د ګړنۍ ژبې بنسټ غږ او د لیکنۍ ژبې اساس توری دی. که غږ نه وي، نه څپه شته، نه اهنګ او نه وزن او نه هم نظم، نو ځکه خو غږ د وزن او نظم لومړنی بنسټ ګڼل کېږي.

**څپه، هجا، سېلاب:** (( د وینا تر ټولو کوچنی واحد دی چې له څو غږونو څخه رغېدلی وي. د غږونو دا مجموعه له واټن پرته له خولې څخه راوځي او بېرته قطع کېږي.))[2] یانې هر هغه غږ یا غږونه چې له کوم خنډ او ځنډ پرته په یو ځایي ډول له خولې څخه راووزي هغه یا هغو ته څپه وایي. څپې بیا دخپل جوړښت له مخې پر لنډو او اوږدو، ترلو او خلاصو څپو هم وېشل کېږي. یوه څپه کېدی شي مانا ولري او یا یې ونه لري.

څپه د وزن یو اساسي عنصر بلل کېږي او د څپو له منظم او سنجول شوي ترتیب پرته د وزن رغښت ناشونی دی. د وزن د تول او انډول لپاره څپه تر ټولو ښه معیار دی، همدا څپه ده چې په وزن په تېره بیا په مقید وزن کې د هستې رول لوبوي.

**خج:** خج د وزن یوه برخه ګڼل کېږي چې هم د نظم پر وزن خپل اغېز کوي او هم د کلمې پر مانا او محتوا. خج د نړۍ په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو کې نه شته، ، ځینو ژبو کې د اهنګ لوړوالی او ټیټوالی د جملې یا کلیمې د مانا د بدلون سبب ګرځي خو په پښتو کې د اهنګ تر څنګ خج هم په کلمه او هم په جمله کې د وزن د بدلیدو او هم د مانا د تغیر سبب ګرځي. پښتو یوه (خجنه) ژبه ګڼل کېږي. ((خپله خج یا فشار د اساسي فونیمونو له دړانده او سپك تلفظ کولو څخه عبارت دی چې سره ترکیب کېږي، یانې فشار دلته مورفیمونو او کلمو ته ځانګړی شوی او دېته صرفي فشار ویل کېږي، یو هجایي مورفیمونه تل د یوه درونډ فشار درلودونکي دي، خو په څو هجایي مورفیمونو او کلمو کې درونډ یا سپك فشار حتی منځنی فشار هم کېدی شي چې موجود وي...))[۳] په بله وینا ((د وینا پر مهال پر سېلابونو باندې دغه لوېدونکي زور ته په اصل کې خج وايي.)) ([۴])په پښتو ژبه کې خج د وزن اساسي برخه ګڼل کېږي، هر کله چې خج له خپل ټاکلي ځایه پرته پر بل ځای راشي، نو وزن په اتومات ډول خپل اهنګ او انډول له لاسه ورکوي. خج په پښتو نظم کې د وزن د ثبات سبب ګرځي، مهمه خبره داده چې خج پر ټول پښتو منظوم (ازاد او مقید) کلام دواړو باندې یو شان د تطبیق وړ دی.

((په پښتو کې (دولت لواڼي) لومړنی شاعر دی، چې ځینې نظمونه یې د (خلیل بن احمد فراهیدي) پر عروضي سیستم برابر دي)) ([۵]) او تر هغه وروسته د (میاه شرف) ځینې شعرونه یا نظمونه پر عربي عروضي سیستم برابر دي. نور نو له امیرکروړه رانیولې بیا تر دې دمه پورې د ټولو شاعرانو او ناظمانو کلام د پښتو خپل شعري یا نظمي جوړښت تعقیبوي، پوهاند زیار دې ډول جوړښت ته ((سېلاب تونیك یا څپییز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خجیز جوړښت)) (۶) ویلی. په دې مانا چې څپه او خج د وزن یا نظم رغنده توکي دي او د نظم اساس پر همدې څیزونو ولاړ دی. پښتو نظم د څپییز جوړښت له مخې ټول یو شان سیستم تعقیبوي، په دې مانا چې په یو نظم کې تر هرو درېیو څپو وروسته ضرور څلورمه څپه خجنه راځي، که چېرې پر څلورمه څپه خج رانه شي، نظم خپل وزن له لاسه ورکوي، دا قاعده زموږ پر ولسي او لیکني ادب ټولو باندې یو شان د تطبیق وړ ده، پښتو لنډۍ به د بېلګې په توګه یاده کړو:

سترګې مې ستا په لور څلور شوې

څلور اته شوې اتـه شـپاړس شوې مینه

د څپو له مخې لومړۍ مسره (۹) او دویمه یې (۱۳) ده، پر هرې څلورمې څپې خج راځي، ټولې لنډۍ د څپییز خجییز جوړښت له مخې همدا یوه قاعده تعقیبوي.

**څپییز جوړښت:**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ |
| ستر | ګې | مې | ستا | په | لور | څـ | لور | شوې |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ |
| څـ | لور | ا | ته | شوې | ا | ته | شپا | ړس | شوې | مـ | یـ | نه |

**خجییز جوړښت:**

V V V– V V V– V

V V V– V V V– V V V– V

ټولې لنډۍ همدا یوه قاعده او سیستم تعقیقوي.

په پښتو نظم کې د ازاد نظم په ګډون د لومړۍ مسرې یا پر لومړۍ، دویمه، درېیمه او یا هم څلورمه څپه خج راځي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پر دې هرې يوې ښپې خج واقع شو، درې ښپې وروسته په اتومات ډول نورې ښپې خج اخلي او په دې ډول د نظم وزن پوره کېږي. که د خج په واردولو کې دا درې ښپييز واټن له منځه لاړ، نو وزن خپل وزن له لاسه ورکوي.

**اهنګ:** دا چې اهنګ د وزن برخه ده که وزن د اهنګ؟ او بيا دا چې وزن د نظم اساسي برخه ده که اهنګ او که دواړه؟ پر دې به وروسته د خپلې فرضيې د اثباتولو په ترڅ کې خبرې وکړو، خو اوس راځو د اهنګ لغوي مانا ته!

**الف- اهنګ له لغوي پلوه:** د بېلابېلو ژبو فرهنګونو او قاموسونو د اهنګ لغوي مانا په بېلابېلو بڼو خو يو بل ته په نږدې مانا کارولې ده، قاموسونو اهنګ د (اواز، غږ، غاړه، د اواز وزن، تکل، اراده، دود، طريقه، لحن، مقصد، د ګنبدې او محراب کوږېدل، ژۍ، څنډه، کناره، صف، غږيز تغير، کتار) په مانا کارولی دی.

په انګليسي قاموسونو کې د اهنګ لپاره د ريتم(Rhythm) نوم ليکل شوی چې د ((وزن، سجع، تال، موسيقۍ، نڅا...)) په مانا راغلی دی.

ځينو بيا **ميلودي:** (د اساسي تون د اواز حرکت)، **خج:** (د اساسي غږونو سپك او درانده تلفظ کېدل)، **شدت:** (درونډ او سپك تلفظ او د تون قوت)، **ريتم:** (پر عبارتونو د خجنو او ناخجنو ښپو بدلېدل)، **لحن:** (په خبرو کې غږيز تغير، **بېلتون او پيوستون:** (له ځنډ او ځنډ پرته يوه کلمه له بلې سره لوستل دا ټول د اهنګ برخې ګڼلې))[۷] او وايي چې دا ټول په ګډه اهنګ جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب- اهنګ له اصطلاحي پلوه:** له اصطلاحي پلوه هم اهنګ په بېلابېلو ډولونو تعریف شوی دی، ځینې وایي ((اهنګ د غږونو یو داسې ترکیب او اوډون دی چې جګوالی او ټیټوالی لري یا زیر و بمي بڼه مومي. او یا هم په نظم کې د لفظونو ترمنځ یو غږیز امتزاج یا ګډ منظم ترکیب دی چې پر خج د نظم وزن او موسیقي برابروي.))[۸] ځینو بیا د ترکیبونو منظمې ادا ته اهنګ ویلی دی.

ځینې نور وایي: ((د غږونو موج او موسیقیت ته اهنګ ویل کېږي، له جملو، فقرو او عبارتونو سره اړه لري، په دې مانا چې د ژبې د نحوي ګروپونو ځانګړنه ده.))

اهنګ له څلورو ځانګړنو څخه رامنځته کېږي: لوړوالی او ټیټوالی یا زیر وبمي، شدت یا زنګ، وخت یا امتداد.))[۹]

**قافیه:** ځینو ادیبوهانو قافیه او ردیف هم د وزن او نظم یو رکن ګڼلی او وایي همدا قافیه ده چې د وزن او نظم د جوړښت او ښکلا سبب ګرځي. خو ځینې نور بیا قافیه د وزن په اساسي ارکانو کې نه راولي. دلته غواړو قافیه هم له لغوي او هم له اصطلاحي پلوه په لنډو ټکو کې توضیح کړو.

**الف- قافیه له لغوي پلوه:** قافیه چې په همدې بڼه او جوړښت یې په پښتو او دري کې کاروو، اصلاً عربي کلمه ده ((د عربو په لغت کې وروسته، شا، څټ او ورپسې تلونکي ته وایي.))

**ب- قافیه له اصطلاحي پلوه:** ((د بیتونو د دورونو د پای کلمو همغږۍ ته وایي، یا په بله وینا د مصرع بیت د هرې مسرې او د هر نامصرع بیت د پای کلمه چې شعر ورباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختمېږي او اعاده يې په ورپسې بيتونو کې لازمه وي، قافيه ګڼل کېږي. يا هم هغه کلمې چې د دورونو په پای کې لازمه هماهنګي ولري د قافيې کلمې ګڼل کېږي)).[10] په بله وينا: دوه او يا څو بېلابېلې کلمې چې په خپل منځ کې يو او يا هم تر هغه زيات مشترك غږونه يا توري ولري، په خپل منځ کې هم قافيه ګڼل کېږي.

**رديف:** ځينو ادبپوهانو رديف هم د وزن يوه برخه ګڼلې، خو ځينو نورو بيا رديف په قافيې پورې تړلی عنصر بللی، کله چې قافيه نه وي، نو د رديف بحث اصلاً هېڅ مطرح کېږي نه، خو کله چې په يوه نظم کې قافيه راشي او بيا ورپسې رديف، نو رديف هم د نظم يا وزن په جوړښت کې خپل رول لوبوي. دلته غواړو رديف له لغوي او اصطلاحي پلوه په لنډيز سره معرفي کړو:

**الف– رديف له لغوي پلوه:** ((رديف په لغت کې پر يوه اس باندې د چا تر شا دويم سور، کېږ، څېره، کتار، چيل، پسې شا، ترڅنګ، غبرګو سورو او دوه سورو ته وايي.))

**ب– رديف له اصطلاحي پلوه:** ((رديف له قافيې څخه بېلې او مستقلې هغه (يوه يا څو) کلمې يا وييکي دي چې په ټولو بيتو کې عيناً تکرارېږي.))[11]

په بله وينا رديف هغه يوه يادوه خپلواکې کلمې يا ناخپلواك مورفيمونه دي چې په نظم کې تر قافيې وروسته په يوه شکل او يوه مانا تکرارېږي. او نظم ته مانيزه او شکلي ښکلا ورکوي. يا ((رديف هغه کلمه يا کلمې دي چې تر قافيې وروسته په يوه شکل او تقريباً په يوه مانا تکرارېږي، رديف په نظم کې اختياري بڼه لري، خو کله چې په قافيه وال نظم کې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافيې وروسته راشي، په نورو مقفی مسرو کې يې راوړل ضروري دي))،([۱۲]) دا قاعده په غزل، قصيده او يو شمېر نورو فورمونو کې دزيات تطبيق وړ ده. تر دې يادونو وروسته اوس راځو وزن ته!

**وزن:** لکه څنګه چې دمخه مو يادونه وکړه، کله چې د نظم د رغنده توکونو په باب خبرې کېږي، نو د ځينو خلکو ذهن ته تر ټولو دمخه د قافيې او رديف خبره ودرېږي، چې ګڼي دا به د نظم اساسي توکي وي، خو کله چې څوك د نظم اساسي جوړښت ته ځير شي بيا ورته پته لګي چې قافيه او بيا تر هغه وروسته رديف د نظم په فروعاتو کې راځي، نه په اساسي ارکانو کې. د نظم اساسي رکن په حقيقت او واقعيت کې (وزن) دی، البته قافيه او رديف په تېره بيا قافيه په مقيدو نظمونو کې په خپل وار سره د وزن په جوړښت کې خپل نقش لري، خو د نظم د اساسي رکن په توګه تر ټولو د مخه (وزن) اساسي نقش لري. دلته غواړو (وزن) هم له لغوي او هم له اصطلاحي پلوه په لنډيز سره معرفي کړو:

**الف- وزن له لغوي پلوه:** وزن له لغوي پلوه (تول، اندازه، د عروضو په علم کې د شعر بحر، عزت، قدر وقيمت، محتوا، پيمان) او د انډول مانا ورکوي، په پښتو، دري او ځينو نورو ژبو کې تقريباً په يوه شکل او يوه مانا کارول کېږي، خو اصلاً دا هم د نظم په شان عربي کلمه ده، په عربي کې دا کلمه ثلاثي مجرده بڼه او مصدري حالت لري، اوزان، توازن، وزين، متوازن او نورې کلمې له همدې (وزن) څخه مشتق شوي دي.

**ب- وزن له اصطلاحي پلوه:** اديبوهان وايي: ((د شعر وزن د هغه نظم او تناسب زېږنده ده چې د کلمو په غږونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته کېږي.)) وزن د نظم اساسي رکن دی، له وزن پرته د نظم انډول نه برابرېږي په حقیقت کې هېڅ رغښت نه مومي. د وزن په جوړښت کې تر ټولو زیات او مهم څیز څپه ده، چې وزن ترې جوړښت مومي، د څپو د شمېر له انډول پرته وزن خپل وزن له لاسه ورکوي.

وزنپوهان وايي: ((وزن په پرله پسې ډول د ترنمي ټوټو د ټاکلي نظام ترتیب دی چې په کلمو کې د لنډو او اوږدو څپو له ټاکلي ترتیب څخه رامنځته کېږي.

یا هم: د خبرو په غږونو کې تناسب او نظم ته وزن وايي.))[۱۳]

ځینو بیا وزن پر کمي او کیفي برخو وېشلی ، په دې مانا چې ((که چېرې د څپو زماني امتداد د وزن بنسټ شي، نو د پته کمي وزن وايي، خو که چېرې د شعر ځینې څپې د غږ د لوړوالي او ټیټوالي یانې زیر و بم له مخې عیارې او منظمې شي، نو د پته کیفي وزن وايي.)) په هغه ډول کې چې یوازې د څپو شمېر د نظم بنسټ ګڼل کېږي، ((یانې دا چې د یوې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مساوي شي، هغه ته (عددي وزن) ویل کېږي.))[۱۴]

ځینو ادبپوهانو یا وزنپوهانو په ځینو ژبو کې (څپه) د (وزن) ځانګړنه ګڼلې او ځینو نورو بیا (متحرک غږونه) د وزن اساسي بنسټ ګڼلی دی.

ځینې نور بیا وايي. ((وزن ، د بېلابېلو اجزاو تر منځ یو کیفي تناسب دی، دا تناسب چې په مکان کې رامنځته شي قرینه ورته وايي او که په زمان کې واقع شي وزن ورته وايي.)) ([۱۶])

اوس غواړو نظم له لغوي او اصطلاحي پلوه معرفي کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف- نظم له لغوي پلوه:** له لغوي پلوه ((د مرغلرو پېيلو، ترتيبولو، سينګارولو، شعر ويلو او وزنوال کلام ته ويل کېږي.))[۱۵] د نثر (پاشلو) مخالفه مانا ورکوي. خپله د (نظم) کلمه چې موږ يې په پښتو، دري او ځينو نورو ختيزو ژبو کې کاروو، هم يوه عربي کلمه ده، په عربي کې دې ته (ثلاثي مجرد) لغت وايي، په دې مانا چې له (دريو تورو) جوړ شوی او د تجزيې وړ نه دی، له دې دريو تورو چې يو هم کم شي، کلمه خپله مانا له لاسه ورکوي. دا کلمه مصدري حالت لري، ناظم، منتظم، منظم، نظام، انتظام، تنظيم او نورې کلمې هم له همدې مصدري حالت څخه راوتلي، چې بېلابېلې ماناوې ورکوي.

**ب- نظم له اصطلاحي پلوه:** ((نظم هغه کلام دی چې وزن او اهنګ ولري.)) قافيه، رديف هم په نظم کې کارول کېږي او د نظم د لا ښه تنظيم او خوندورتيا سبب ګرځي. خو تر ټولو مهم عناصر يې وزن او اهنګ ګڼل شوي دي، په تېره بيا وزن، ياني هر موزن کلام نظم ګڼل کېږي.

د نظم تر دې لغوي او اصطلاحي شننې وروسته اوس راځو خپلې فرضيې ته چې د نظم رغنده توکونه کوم دي؟

وزن دی، اهنګ دی، قافيه ده، رديف دی، څپه ده، خج دی، غږ دی او که کوم بل څه؟؟؟

دې کې شك نه شته چې غږ، څپه، خج، اهنګ او وزن ټول د نظم رغنده برخې جوړوي، خو که دلته په ترتيب سره يادونه وکړو، لومړی غږ وڅېړو، نو دا به راته په ډاګه شي چې غږ په يوازې ځان وزن نه جوړوي، غږ يوازې د غږ په توګه د مطالعې وړ دی، پر نورو اجزاوو د تجزيې وړ هم نه دی، کله چې غږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره یو ځای شي نو پر څپه بدلیږي، دلته ګورو چې یو انکشاف رامنځته شو، البته غږ د ژبې اساس ګڼل کیږي، چې له هغه پرته ژبه نه شي رامنځته کیدی، خو یوازې د بنسټ په توګه د بحث وړ دی، کله چې د غږونو تر امتزاج وروسته څپه رامنځته شي نو که له څپې سره نورې څپې یو ځای نه شي، نو څپه هم په یوازې ځان د اهنګ او وزن د جوړیدو سبب نه ګرځي، البته هره څپه خپل خپل اهنګ لري، خو دا یو څپییز اهنګ په انفرادي ډول د ټول نظم د جوړښت سبب نه ګرځي، البته که د څپو له تعدد او ترکیب څخه سنجول شوی اهنګ رامنځته شي، نو همغه مقصود اهنګ ګڼل کیږي، که خپله اهنګ په انفرادي ډول په پام کې ونیسو، له واول غږونو څخه رامنځته کیږي، که چېرې د یوې خلاصې څپې اهنګ په پام کې ونیسو، نو تر هغه چې پرې بله څپه زیاته شوې نه وي اهنګ نه قطع کیږي او امتداد پیدا کوي، مقصود اهنګ همغه دی چې سنجول شوی او د وزن په تول تللی وي، وزن همدې ته ویل کیږي چې دغه ټول پورته یاد شوي عناصر د یو منظم ترکیب، قاعدي او قانون په چوکاټ کې راولي، صیقل یې کړي او ویې تلي. وزن مانا تلنه، برابرونه، صیقلونه او انډول . د ساري په توګه په منظوم کلام په تېره بیا په پښتو منظوم کلام، لکه غزل، قصیده، رباعي، قطعه او ځینو نورو کې یوه عامه قاعده داده چې د څپییز جوړښت له مخې یې د څپو شمېر سره برابر دی، خو په ځینو لس څپییزو غزلو کې بیا د وزن د پوره کیدو په خاطر ناظم اړ دی چې پر بې قافیې مسرې یوه څپه زیاته کړي، کیدی شي د څپو لنډوالی او اوږدوالی ددې سبب ګرځي چې د اهنګ کمښت احساس شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وزن یې پوره نه شي، وزن دغه انډول برابروي او په پای کې نظم خپل جوړښت پوره کوي، نو ځکه خو ویلای شي چې نور عناصر ټول په ګډه د وزن ارکان ګڼل کېږي او وزن بیا په خپل وار سره د نظم اساسي رکن. په لنډیز سره ویلای شو چې نظم مانا وزن، نظم چې وزن ونه لري، نظم نه ګڼل کېږي، البته په دې باب ډېر اوږد بحث کېدی شي خو موږ هڅه وکړه چې هر څه په ډېر لنډیز سره بیان کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه

۱) پښتو غږ پوهنه او ويپپوهنه، پوهنوال محمد صابر خويشکی، صميم ادبي ټولنه کابل، ۱۳۸۸ل کال، ۱۱مخ.
۲) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل بنوال، سعيد خپرونه ټولنه کابل ۱۳۹۳ل کال، ۶۲ مخ.
۳) پښتو ازاد نظم، لعل پاچا ازمون، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه ټولنه، ننګرهار ۱۳۹۳ل کال، ۴ مخ.
۴)پښتو عروض، درويش دراني، صحاف نشراتي موسسه، کوټه، (۲۰۰۷)م کال، ۴۴مخ
۵)د پښتو ادبياتو لرغوني او منځنۍ دورې، سرمحقق هېوادمل، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور ۱۳۷۹ ل کال،۱۰۴مخ.
۶)پښتو شعر څنګه جوړېږي، پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور ۱۳۹۰ ل کال،۱ مخ.
۷) پښتو ازاد نظم: لعل پاچا ازمون، د ختيزې سيمې د ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه ټولنه، ننګرها ۱۳۹۳ل کال،۲-۵ مخونه.
۸) پښتو ازاد نظم: لعل پاچا ازمون، د ختيزې سيمې د ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه ټولنه، ننګرهار ۱۳۹۳ل کال، ۶ مخ.
۹) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل بنووال، سعيد خپرندويه ټولنه، کابل ۱۳۹۳ل کال، ۵۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۰) قافیه پوهنه، پوهندوی ډاکتر محمداجان حقپالل، کابل پوهنتون، کابل ۱۳۹۱ل کال، ۹ مخ.
(۱۱) قافیه پوهنه، پوهندوی، ډاکتر محمداجان حقپالل، کابل پوهنتون،کابل ۱۳۹۱ل کال، ۱۱ مخ.
(۱۲) : د پښتو شعر هندسي جوړښت، محمد اسمعیل یون، یون کلتوري یون، ۱۳۸۷ ل کال، کابل ۲۶ مخ.
(۱۳) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل بنوال، سعید خپرندویه ټولنه،کابل ۱۳۹۳ل کال، ۱۴-۱۵ مخونه.
(۱۴) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل بنوال، سعید خپرندویه ټولنه،ابل ۱۳۹۳ل کال، ۱۶ مخونه.
(۱۶) – وزن و قافیه شعر فارسی، تقی وحیدیان کامگار، تهران، ۱۳۹۳ ل کال، ۲ مخ.
(۱۵) وزن شعر دری، دوکتور محمد افضل بنووال، سعید خپرندویه ټولنه،کابل ۱۳۹۳ل کال، ۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# JANG AW FARHANG
# WAR AND CULTURE

"War and Culture in Afghanistan"

Collection of Different Articles



د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د لیکوال د خپرونو لړ:۴۲
د خپروندوی د خپرونو لړ:۹۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**